

# د ډاکټر نجیب الله جنجالي شخصیت ته کتنه


لیکوال:
محمد آصف خواتي


Ketabton.com

کال: ۲۰۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

د ډاکتر نجیب الله جنجالي شخصیت ته یوه کتنه ................................. ۱
افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند هېڅکله هم واحد ګوند نه و.......... ۴
په تلپاتې کورنیو کشمکشونو کې ښکېل ګوند ................................ ۱۰
ډاکتر نجیب الله هېڅکله سپینه چپنه وانه غوستله........................... ۱۷
د نجیب الله یوازېنۍ هیله............................................................... ۲۲
آیا نجیب ملي شخصیت اوشوروي ضد و ؟.................................... ۲۶
دملي روغې جوړې دتګلارې طراح..................................................... ۳۰
اتل یا ! ... ........................................................................................ ۳۵
داته ویشت کلن خوب څخه راویښ شوي مبارزان............................. ۴۱
نجیب پلوي خلقیان څوک دي؟........................................................ ۴۶
دا لعنتي پوځ باید دړې وړې شي!...................................................... ۵۱
دبې سره لښکر برخلیک.................................................................. ۶۰
د1368 کال دکب دشپاړسمې دخونړۍ پېښې رښتیا........................ ۶۹
دافغانستان دخلک دموکراتیک ګوند دویمه کنګره .......................... ۸۲
دخلقیانو اوجهادیانو بچیانو اوپښتنو ځوانانو ! ............................... ۸۸
نجیب د ببرک کارمل د مدرسې غوره شاګرد..................................... ۹۸
دغلطې نسخې اوناکامې تجربې مبلغین ........................................ ۱۰۵
نجیب الله تکړه اوبریالی ویاند.......................................................... ۱۱۲
د لیکنودلړۍ په وړاندې غبرګونونه ................................................ ۱۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



سریزه :

هېرنشي چې لیکوال نه ادیب دی ،نه حرفوي لیکوال اونه یې دادبیاتو په برخه کې زده کړې کړي خو شرایطو او مجبوریتونو اړاېستلی دی دهېواد دحالاتو په اړه څه ولیکي . له بده مرغه دغوڅ اکثریت افغانانو ژوندد مجبوریتونو یوه ټولیزه ده تردې چې افغان ځوان دژوند ملګرې هم په خپله خوښه نشي غوره کولای .دپېغلو څخه خوڅوک پدې اړه پوښتنه هم نه کوي او دهېواد په زیاتره سیمو کې دتوکو په څېر پېرل کېږي. دادافغانانو دګڼ شمېرمجبوریتونو دډک ژوند یوه ترخه بېلګه ده .هغه څه چې لیکوال یې وهڅولو اوکه دقیقأ وویل شي اړاېست د " ډاکتر نجیب الله جنجالي شخصیت ته کتنه" لیکنو لړۍ ته مخه کړي دامریکایانو اوطالبانو ترمنځ دمخامخ خبرواترو دپیل سره هممهاله نجیب الله ته دکاذب شخصیت دجوړولو سیستماتیکو اوپلان شوو هلوځلو اواقداماتو پیلول و چې مرکزیې ارګ و . په پکتیاکې دنجیب الله دقبر څخه دامنیت دشورا د مشر حمدالله محب زیارت کومه تصادفي پېښه نه وه . امرالله صالح دانګلوساکسون اشغال لاندې بلواکې واکمنۍ دملي امنیت داداري پخواني رییس اود ولسمشراوسني لومړي مرستیال امرالله صالح هم دنجیب الله په ستاینه خوله پرانېستله ،په ټولنیزو رسنیو کې هم دنجیب الله د اتلولۍ کمپاین پیل شو اوحتی یوشمېر پرونیوبنسټپالومجاهدینو چې یووخت یې نجیب الله دکابل قصاب، دکی جی بی جاسوس ، ګوډاګی او وطن پلورونکی ګاڼه اودحکومت په وړاندې دسپېڅلي جهاد په نامه جنګېدل دنجیب الله دوطنپالنې ، مېړانې ، وړتیا اواتلولۍ سندرې پیل کړې.دنجیب الله په اړه تبلیغات اوهغه ته دکاذب شخصیت ورکولو کمپاین هغه مهال لوړې کچې ته ورسېد چې دقطر په دوحه کې بین الافغاني مذاکرات پیل شول. دحکومتي اوطالب مرکچیانو ترمنځ خبرې اترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنجيب الله دوژنې دځلېرويشتم تلين سره هممهاله پيل شولې .ارګ دې اړين فرصت ته په کتو سره دنجيب الله پلويان وهڅول چې دنجيب الله دمړګ تلين دلويې جرګې په خيمه کې ونمانځي . پدې اړه داپوښتنه را پيداکېږي چې ولې سږکال( 1399) داتلين نمانځل کېږي ؟ که دمجاهدحامد کرزي اودنجيب الله دپلويانو په اند د اشرارکرزي په واکمنۍ کې د نجيب الله دمړګ د تلين نمانځنې ته اجازه نه ورکول کېده اوداکارېې سپېڅلي جهادته خيانت ګڼلو تکنوکرات غني ولې پنځه کاله مخکې داتلين نه نمانځلو ؟ دې پوښتنې ته ځواب محمداشرف غني په شان کوم نړيوال مفکر !؟ ته اړتيا لري اونه څېړنو ته . ځواب يې روښانه اوهغه دادی چې اوس مهال دطالبانو او حکومت پلاوي په دوحه کې جرګه شوي دي تر څو په هېوادکې دجګړې پای ته يوه لاره ومومي اوهېوادته سوله، ټيکاو اوامن ببرته راستون شي. پداسې ځانګړو شرايطو کې ددې تلين نمانځنه ځانګړې موخې لري هغه په طالبانو فشار راوړل اويا دسولې دخبروسبوتاژ .ټولوته معلومه ده چې نجيب الله دطالبانو له لوري ووژل شو منطقاً چې دتلين په نمانځنه کې به دطالبانو خلاف توندې ويناوې کېدلي اوددې وژنې عاملان به غندل کېدل چې داډول ويناوو کولای شول دسولې په خبرو منفي اغېزوکړي اودابهير له خنډ اوځنډ سره مخ کړي .دارګ ټيم په پرله پسې توګه هم په خبرو اوهم په عمل کې ډول ډول دسولې ضد هڅې کړې دي چې دطالبانو په پټه دلوړپوړو چارواکو اوپه هغوکې دولسمشر دمرستيالانو امرالله صالح ،سرور دانش او حمدالله محب طالب ضد اوحتی پښتني ضد څرګندونې يې څرګندې ببلګې دي.

ددې نمانځنې څخه داا خبستنه هم کېږي چې اشغالګر اومزدور حکومت يې پدې وروستيو اتلسو کلونو کې په مختلفو بڼو اوټګۍ برګۍ داولس ، سياسي ډلو اوپه هغوکې دپروني دافغانستان خلق دموکراتيک ګوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګېډي ځخه راوتلوکوچنیو ډلوپرمجبوریتونو او احساساتو لوبې کړې اوګټه یې ترې پورته کړې ده چې وروستۍ هڅه یې دنجیب الله دمرګ د تلین نمانځل دي ترڅو په دوحه کې په روانو مذاکراتو کې په طالبانو فشار راوړي، امتیازواخلي اوپدې توګه دنجیب الله دتلین دنمانځنې له ډرامې هم ګټه پورته کړي. ددې نمانځلې په اړه په خواله رسنیو کې دنجیب الله دپلویانو د تبلیغاتو ځخه ښکاري چې ګواکې خلک اوحتی دهغه سیاسي او وسلوال مخالفین هم دنجیب الله دمبارزې پرحقانیت پوهېدلي دي اودنومورړي داتلولۍ اووطندوستۍ خبرې کوي . داتلانو په اړه چې زموږ په زمانه کې یې شمېر خورازیات دی ددې خبرې یادول اړین برېښي چې کورنۍ جګړه اتل نلري او داشغالونو اردلیان اوپردیو واک ته رسولي چې نجیب الله یو له هغو ځخه دی هېڅکله هم اتلان اوملي شخصیتونه نشي کېدای . دملي فکرلرونکو افرادو اوډلو ، دپروني خلق دموکراتیک ګوند دګېډې ځخه راوتلو سازمانو اوپه هغوکې دنجیب الله دپلویانوځخه دا تمه کېدله چې دانګلوساکسوني اشغال پر مهال داشغالګرو او دهغه دلاسپوځي حکومت د مکارانه لوبو ځخه دې پایلې ته رسېدلي وای چې هرګام او هره ځرګنده اوپټه هڅه، تدبیر اوکړنه یې داشغال ددوام لپاره ده اودخلکو پراحساساتو اوعواطفو لوبې کول دي .دساري په توګه دناټویي خونړې تیرې وروسته اشغالګرو دولسي جرګې لومړۍ دورې ته دپخواني دافغانستان د خلق دموکراتیک ګوند مشرانو او کدرونو لکه سیدمحمدګلابزوی ، نورالحق علومي ، عبدالکبیر رنجبر،ببرک شینواری او...ته امکانات ورکړل چې اولسي جرګې ته لاره ومومي او پدې ډول خلکوته وښیي چې په افغانستان کې ولسواکي ټینګه شوې ده او دهرې سیاسي ډلې او عقیدې خاوندان د فعالیت کولو اجازه لري.خو دلومړۍ دورې وروسته ددې ګوند اړونده یواستازی په پارلمان کې ترسترګو نشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم لسګونو کدرونو یې دټاکنو په نامه پدې سیاسي ننداړو کې برخه واخیسته. آیا دنوموړي ګوند پرونیو غړو ته داپوښتنه نه ده پیداشوې چې ولې یې ملګري اوحتی دسازمانونو مشران اولسي جرګې ته لاره نه مومي ؟ ددې پوښتنې ځواب لکه لمر روښانه دی چې اشغالګر د بلواک افغان دولت په پارلمان او ددولتي ادارو په مشرتابه کې هغه کسان غواړي ووینې چې پرهغوی یې پانګه اچولې ده اوپه هغو افرادو هم پانګه نه اچوي کوم چې خپلواک ملي فکر ولري. داشغال وروسته لومړیوکلونو کې یې په پارلمان کې دمختلفو ډلو استازو شتون ته اړتیا لرله چې افغانانو ته نوی بلواک نظام په سیاسي پلورالیسم ولاړ نظام معرفي کړي اواوس غواړي دنجیب الله دپلویانو اوهمفکرانو څخه دطالبانو ددریځ دکمزورولو اودحکومت ددریځ دپیاوړتیا په موخه ګټه پورته کړي .کله یې چې دا مراد حاصل شو بیا به دوی ته اجازه ورنکړي چې دنجیب الله تلین په شاندارو مراسمو ونمانځي، البته که دا حکومت په واک کې وي خوداسې ښکاري چې دادشر اوفساد دحکومت دوام ناشونی بریښي .دلیکوال له انده ډاکتر نجیب الله ته پدې موخه دکاذب شخصیت دجوړولو هڅه هم کیږي چې داشغال یواردلي داتل اوملي شخصیت په توګه معرفي کړل شي چې دانګلو ساکسوني اشغالګرو له لوري واک ته رسول شوي اوپه هغوکې محمداشرف غني هم دملي زعیم کاذب شخصیت ترلاسه کړي اوپدې ډول ناټویي اشغال ته هم مشروعیت ورکړل شي . همدا لامل دی چې د" ډاکتر نجیب الله جنجالي شخصیت ته کتنه "لیکنو ته مې مخه کړه ترڅو دنجیب الله دجنجالي شخصیت مختلف اړخونه پدې لیکنو کې څیړل شوې وي . البته لیکوال دا ادعا نه کوي هغه څه چې په لیکنو کې ترسترګوکیږي د نوموړي د بشپړ شخصیت رښتینی انځورکاږي او دا ناشونې ده چې یو حقوقي شخصیت په بشپړ ډول وپیژندل شي . د هر انسان پیژند نه ساده اوآسان کار ځکه نه دی چې " هر څوک لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپوژمۍ یو تیاره اړخ لري چې هېڅ ته هغه نه ورښیي. " خوسره لدې دیوه سیاستوال ویناوو، کړنو او دکړنو پایلو ته په کتوسره داشونې ده چې د هغه دشخصیت په اړه نسبي سم قضاوت وشي .لیکوال هڅه کړې ده چې په لیکنو کې په خپلو احساساتو او ذهني تمایلاتو، دغه یا هغه سیاستوال، دغې یا هغې سیاسي ډلې اودنجیب الله همفکرانو اوسیالانو ته اوپه خپله نجیب الله ته په سمپاتۍ اوانتي پاتۍ ( خوشبینۍ اوبدبینۍ) لاسبری پیداکړي او واقعیتونه څرنګه چې لیکوال اخېستي دي په لیکنوکې انعکاس ومومي . خوپه کلکه هڅه شوې ده چې ددرواغو له ویلو، دحقایقو له تحریفولو اوتورونودلګولو په کلکه ډډه وشي.هیله من یم چې دالیکنې زمونږ هېواد څېړونکو اوتاریخپوهانو ته د نجیب الله دشخصیت دنسبي پېژندلو او دهغه دواکمنۍ دځېنومهمو پېښنو په ارزونه کې یو کوچنی لاسوندوګرزي اوځوان نسل هم ترې ګټه پورته کړي اووپوهېږي چې ډاکتر نجیب الله څوک و؟

په درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ډاکتر نجیب الله جنجالي شخصیت ته یوه کتنه

دافغانستان دروان ناورین پرمهال به داسې سیاستوال ونه موندل شي چې غوڅ اکثریت هغه تائید کړي بلکې دهغه اندونو ، تګلارو، کړنو، ګوندي او قومي تړاونو اوحتی نامه ته په کتو سره سیاسي ډلې او ولسونه هغه یا تائیدوي او یایې نه تائیدوي. خوکله چې یوسیاستوال د اتل په نامه نومول کېږي، ریکلامیږي اویا دنوموړي د اتل جوړونې هڅې کېږي که هغه یوشمېر د اتل په توګه نه مني لږترلږه هغه ملي خاین ، قاتل، ګوډاګی، جګړه مار ، قومي سوداګراو جاسوس ونه بولي . کله چې اتل ته خاین اودې ته ورته ناوړه لقبونه اونومونه ورکول کېږي، داسې یوه چاته اتل ویل منطقي اوعقلاني نه برېښي. زموږ د هېواد د روان ناورین پر مهال افغانان د درجن درجن اتلانو شاهدان دي. په دولتي کچه هم د روانې غمیزې اصلي فیګورونو او کلیدي لوبغاړو ته رنګارنګ ویاړلي لقبونه لکه ملي اتل ، دسولې اتل ، د ملي یووالي شهید، د شهیدانو سالاراو ... ورکول کیږي اودولتي بنستهونه ، څلورلارې ، سړکونه اوکوڅې د هغوی په نومونو نومول کېږي. هره سیاسي اوقومي ډله د خپلو خیالي اتلانو د جوړولو لپاره کمپاینونه کوي او د مړګ تلینونه یې لمانځي. د هېواد د روانې غمیزې د ټولو اتلانو !؟ په اړه اندونه اوقضاوتونه یوشان نه بلکې وېشلي، متفاوت او متناقض دي چې دا بیا د هغوی اتلولي ترغتې پوښتنې لاندې راوړي خو پدې اتلانو او د وطن په خادمانو کې دوه تنه ډاکتر نجیب الله او احمدشاه مسعود هغه لوبغاړي دي چې د هغوی د اتلولۍ په اړه ډېر تبلیغات ترسره شوي اولا کېږي او د نورو اتلانو په پرتله د دوی په اړه قضاوتونه خورا پاشلي ، متناقض اومتضاد دي. ځېنې هغوی ته اتلان او د وطن خادمان وایي اونور بیا هغوی خاینان اوجاسوسان شمیري. د ولس یوه برخه نجیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله اتل، ژمن سیاستوال او ملي شخصیت اونور هغه خاین ، ګوډاګی او قاتل ګڼي. مسعود ته هم ځیني اتل، ملي شخصیت اوستر مجاهد وایي اونور هغه خاین ، جاسوس اوجګړه مار بولي .

نجیب الله چې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د ببرک کارمل ترمشرۍ لاندې د پرچم د ډلې غړیتوب درلود ځینې هغه پرچمي اوځوان نسل نوموړی خلقي ګڼي. احمدشاه مسعود چې د افغانستان د اسلامي جمعیت غړی و ، عادي افغانان نوموړی جمعیتي مجاهد اویو شمېر زده کړي افغانان هغه مائویست بولي. دلته دا پوښتنه را پیدا کیږي چې ولې د نجیب او مسعود د شخصیتونو په اړه تبلیغات ډېرکیږي او ولې د هغوی په هکله اندونه اوقضاوتونه دومره ویشلي اوبشپړمتضاد دي؟ ښایي دې پوښتنې ته واحد ځواب ورنکړل شي اوځوابونه هم وېشلي وي .

د لیکوال له انده لامل یې دادی چې دوی دواړو هغه څه په ښه توګه اورښتینولۍ ترسره کړل چې دافغانستان د روان کړکېچ بهرنیو اصلي لوبغاړو یا زبرځواکونو غوښتل اویا په بله وینا د خپلو بهرنیو بادارانو دستورونه او نخشې یې په ښه ډول اوګام په ګام پلې کړې دي. لدې امله د هغوی بادارانو دوی ته مجازي اوجعلي شخصیتونه ورکړل ، د سیاست څخه بې خبرو وګړو هغه ومنل چې ګواکې نجیب الله او احمدشاه مسعود اتلان اود وطن خادمان دي. پر بله خوا په سیاسي لوبو پوهو کسانو اوداړین بصیرت خاوندانو د هغوی عملي کړنو ، شعوري اوغیرشعوري تېروتنو اوخیانتونو، تورو کارنامو او د هغو پایلو ته په کتو سره چې هغه افغانستان ته ورانونکي اوتباه کونکي وي، هغوی خاینان ګڼي .

د نجیب اومسعود ګډه کارنامه چې پایله یې د هېواد د ټولوسیاسي ، اقتصادي او پوهنیزو بنسټونو پوپنا کېدل ، د افغانستان د پیاوړې وسلوال پوځ له منځه تلل، په هېواد کې د وحشت او بربریت واکمنېدل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان یې د تجزیې له ګوابښ سره مخامخ کړ، هغه د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د واکمنۍ د نسکوریدو له کبله د عمل جامه واغوستله.
د دې ملي ضد بهیر لوبغاړی نجیب الله او د هغه پرچمي ملګري په یوه اړخ کې او مسعود اود هغه اخواني پښتون دښمنه جهادي ورونه په بل اړخ کې دي ،پدې توپیر چې نجیب الله دخپلې واکمنۍ پرمهال دافغانستان تباهۍ ته اړین بستر او شرایط چمتو کړل ،مسعود اومؤتلیفونو یې دشمال ټلوالې په جوړولو سره اود ملګرو ملتو د سولې د پنځه فقره اې پروګرام په شنډولو سره افغانستان برباد او تباه کړ .
د مسعود د کرغیړنو کارنامو په اړه لسګونه کتابونه او زرګونه مقالې لیکل شوې دي چې اوس د هېواد غوڅ اکثریت روڼ اندي د هغه د شخصیت په اصلي ماهیت پوهیږي چې د مجاهد په رول کې د مختلفو جاسوسي ادارو اجنټ ، ړوند قومي متعصب ، سکتاریست ، جګړه مار ، د جهاد داعیې ته خاین اود سولې قسم خوړلی دښمن و چې د هغه په اړه بحث د وخت ضیاع ده خو د نجیب الله د ناولو کارنامو په هکله ډېرڅه نه ترسترګوکیږي. لدې کبله به په راتلونکو څو لیکنو کې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند په اړه چې ډاکترنجیب الله یې یوغړی اووروستی مشر پاتې شوی دی، لنډ بحث وشي چې غوښینه برخه به یې پدې ګوند کې د نوموړي فعالیت ته ځانګړې شي. د لوستونکو څخه هیله کیږي که پدې هکله که خپل نظرونه څرګندوي، د لیکنو دالړې نقد یا بشپړوي دقلم اوکلام عفت په پام کې ونیسي او د موضوع بهر له اضافي اوحاشیوي تبصرو ډډه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان دخلک دموکراتیک ګوند هېڅکله هم واحد ګوند نه و

ډېری پدې اند دي چې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند (ا، خ،د، ګ) یو موټی ګوند و. د دې ګوند پخواني مشران، کدرونه او غړي هم دا سیاسي غورځنګ واحد ګوند نه ګڼي او چمتو نه دي دا ومني چې دا ګوند یو واحد ګوند نه، بلکې د خلق او پرچم د دوو جلا ډلو څخه جوړ غورځنګ یا ټلواله وه. دا لیکنه همدې مسئلې ته ځانګړې شوې ده.

د ا.خ.د.ګ. د ۱۳۴۳ کال د جدې په یولسمه د کابل په شېرشاه مېنه کې د نورمحمدتره کي په کورکې په پټه د مؤسسې کنګرې په دایرېدوسره جوړشو. څرنګه چې هغه مهال د ګوندونو قانون شتون نه درلود، جوړشوی سیاسي خوځښت یې (د افغانستان دخلک دموکراتیکه ټولنه) ونوماوه خو د وخت په تېرېدو سره د ګوند په نامه وپېژندل شو. د ګوند مشرتابه د ټاکنې لپاره پټې رایې واچول شوې او د کنګرې ټولو اوه ویشت تنو برخه والو تره کی او شپږ ویشت تنو ببرک کارمل ته رایې واچولې او پدې توګه تره کی دګوند د مشر په توګه ومنل شو. مخکې لدې چې کنګره راوبلل شي د کنګرې د رابللو په موخه دکنګرې د تدارک اوه کسیزه کمیټه جوړه شوې وه چې غړي یې میرغلام محمدغبار، نورمحمدتره کی ،ببرک کارمل، محمدعلي زهما ، محمدصدیق روهي ،محمدطاهر بدخشي او میراکبر خیبر وو. د کنګرې په درشل کې پوهاند زهما او روهي بهرته د زده کړو لپاره واستول شول. پدې کمېټه کې په پاتې پنځوتنوکې د غبار اوتره کي د سیاسي فعالیت مخینې اوپه روڼ اندوکې اعتبارته په کتو سره کارمل، غبار خپل سیال ګاڼه چې د ګوند د مشرپه توګه به راڅرګندشي . نو هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چې د ډګر څخه د خپل سيال د اېستلو په موخه هڅې پيلوي ، په هغه تورونه لګوي ،د کمېټې په غونډوکې هم د يو بل خلاف دريځ نيسي او پايله يې دا کيږي چې غبار او زوی يې لدې خوځښت څخه لاره بېله کړي. خوکله چې کنګرې تره کی د مشر په توګه وټاکه دکارمل د رهبرۍ خوبونه په اوبو لاهو شول اود تره کي خلاف يې هم مبارزه پيل کړله. د تره کي خلاف دکارمل د درېدو لامل د نوموړي د نږدې ملګري سلطانعلي کشتمند لدې وينا چې ګواکې تره کي کارمل ته رايه نه وه ورکړې ترڅو دکارمل په پرتله خپل محبوبيت ثابت کړي معلومېږي. پدې اړه د کشتمند د وينا خلاف يوشمېر عبدالکريم ميثاق او نورغلام محی الدين زرملوال ته ګوته نيسي چې کارمل ته يې رايه نه وه اچولې. کله چې د کارمل د رهبرۍ خوبونه په واقعيت وانه وښتل د ګوند په د ننه کې يې فرکسيونې هڅې پيل کړې ترڅو بريالی شو د ګوند د رهبرۍ يوشمېر غړي د تره کي خلاف ودروي. د عبدالقدوس غوربندي په وينا د خپلو شپاړس تنوهمفکرانو دری پټې غونډې يې راوبللې چې غوربندي يې يوبرخه وال و. د دې فرکسيوني هڅو پايله دا شوه چې د۱۳۴۶ کال د ثور د مياشتې په څوارلسمه د مرکزي کمېټې نوبتي غونډې ته چې په ده بوري کې د صالح محمدزېري په کورکې جوړېده، کارمل اوانډيوالان يې ورنشي اوپدې ډول ګوند په دوو ډلو وويشل شي. د دې خبرې يادول اړين برېښي چې د ګوند د انشعاب يوازېنی لامل د ګوند د مشرۍ پرسر سيالي نه وه بلکې د ګوند د مشرتابه ټولنيز دريځ او ځېنو تکتيکي اختلافونو هم پکې ځای درلود. د کنګرې په درشل کې د تدارک دکمېټې په غونډو اوناستوکې دا اختلافونه د تره کي او کارمل ترمنځ ليدل کېدل چې هغه د راتلونکي جوړېدونکي ګوند د نامه ، دګوند د بيرغ د رنګ ، د پښتونستان مسألې ، ګوند ته د غړو د جلب او جذب ، د هغوی ټولنيز دريځ اوپه ګوندي فعاليتونو کې د ګونديانو د برخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخېستنې په اړه وو. د ګوند د نامه په اړه د کارمل وړاندیز حزب مردم افغانستان و. کارمل د ګوند د بیرغ د سره رنګ سره همغږی نه و. کارمل ته د ګوندي غړو تېولنیز دریځ مهم نه برېښېده ، په ګوندي غونډو او فعالیتونو کې یې د غړو ګډون حتمي نه ګاڼه اودګوند په کړنلاره (برنامه )کې یې د پښتنو او بلوڅو د حق خودارادیت د مسألې یادول اړین نه ګڼل او دا کار یې د حکومتونو دنده شمېرله. خو په کنګره کې یې د تره کي دریځ ته غاړه کېښودله. د کارمل سره 9 تنه د مرکزي کمېټې اصلي اوعلی البدل غړي ووتل او د تره کي سره لس تنه پاتې شول.

دواړو ډلو د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند په نامه فعالیت درلود پدې توپیر چې د تره کي ترمشرۍ لاندې ډلې دا.خ.د.ګ. سره د کارګرې طبقې مخکښ او د کارمل فرکسیون ورسره د زیاراېستونکو مخکښ ورتړل. د کارمل سره غوځ اکثریت هغه کسان ولاړل چې د شتمنو کورنیو څخه وو او د سلطنت، حکومت او سلطنت ته د نږدې کورنیو سره اړیکې لرلې همدا لامل هم و چې د هېواد د هغه مهال سیاسي ډلو د کارمل ډلې ته چې د پرچمیانو په نامه یادېده، سلطنتي کمونستي ګوند اود تره کي پلویانو چې د خلقیانو په نامه پېژندل کېدل اشرافي ګوند یاداوه. د تره کي ډلې ته یې لدې امله خلقیان ویل چې د خلق جریدې د امتیاز خاوند نورمحمد تره کی و اوکله چې کارمل له تره کي جلاشو حکومت د کارمل ډلې ته د نشراتي ارګان دخپرولو اجازه ورکړه چې د پرچم په نامه یې نشرات کول او خپرونې یې وروسته له څه کم دووکلونو هغه مهال د حکومت له لوري ودرول شوې چې د لینن د سلمې کلیزې په مناسبت یې په خپل اخبار کې د لینن د انځور د کاږلو سربېره د بارق شفیعي یوشعر خپور کړ چې لینن ته درود پکې ویل شوی و. خو پر بله خوا حکومت د خلق جریدې د شپږو ګڼو د خپرولو وروسته اومه ګڼه توقیف کړه او خلقیانو ته یې د څو ځله

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنو سره دکوم اخبار د چلولو اجازه ورنکړه  تردې چې صالح محمد زيرى د خلقيانو د مرکزي کمېټې غړى د اطلاعاتو اوکلتور په وزارت کې د احتجاج له امله و ډبول شو.
هغه څه چې په يوه سازمان کې د تره کي او د کارمل د پلويانو شتون اوګډه فعاليت مخه نيوله، د هغوى ټولنيز دريځ ، کليوالي او ښاري تړاو و چې د کارمل سره غوڅ اکثريت ښتمن اوښاريان او د تره کي سره بېوزله اوکليوال وو. منطقاً د دوو مخالفو طبقو اوقشرونو د استازو شتون په يوه ګوند کې ناشونى برېښېده اوهرومرو بايد دې مخالفو قطبونو يوبل دفعه کړي واى. هماغه دى چې کارمل له تره کي څخه خپله لاره جلاکړله. هغه کسان لکه غلام دستګير پنجشيرى ، عبدالحکيم شرعي جوزجاني اوشهر الله شهپر چې د ټيټو اومنځنيو طبقو څخه هم و اود کارمل سره تللي و، ونشواى کړاى د پرچميانو سره پاتې شي، له پرچميانو ببرته جلا ، د خلق کارګر په نامه ډله جوړه کړه خو ببرته د شهپر پرته د خلقيانو سره يوځاى شول. د پرچمي غوربندي په وينا کارمل به شهرالله شهپر "اصلاح نه کېدونکى کليوال" باله. نوموړو هېڅکله هم د کارمليانو سره د خپل تګ او ببرته د جلاکېدو د لاملونو په اړه څه ندي ويلې خوځېنې ملګري يې د کارمل څخه د هغوى د جلاکېدو لامل دا بولي چې کارمل د حکومت سره اړيکې لرلې او د پنجشيري اوعبدالکريم هادي په زنداني کولو کې يې لاس درلود.
داچې د پرچم ډېرى مشرانو د لوړوطبقاتو اوقشرونو استازيتوب کاوه ، سلطنت، حکومت او سلطنت ته نږدې کورنيو سره يې اړيکې لرل چې نجيب الله هم پکې راځي، پرهغوبه تم شو. کارمل د پاچا د ځواکمن جنرال محمد حسين زوئ و اود سلطنتي کورنۍ سره يې روابط ساتل. د نوراحمد نور پلار د کندهار په پنجوايي او لوګر کې زرګونه جريبه ځمکه لرله اود وخت له لويو ځمکوالو شمېرل کېده. اناهيتا راتبزاد د شاه محمودخان په کورکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویه شوله او ویل کېږي چې شاه محمودخان د پاچا کورنی ډاکټر،کرام الدین کاکړ هڅولی دی چې داناهیتا سره واده وکړي. د سلیمان لایق پلار د شوربازار د مجددي د کورنۍ د جومات ملا و. هغه کورنۍ چې پاچا ته خورا نږدې وه. د میراکبر خیبر لومړۍ مېرمن هم د مجددي د کورنۍ ښځه وه او سربېره پردې خیبر د داودخان خورا باوري سړی و. د نجیب الله پلار هم د داودخان له دوستانو څخه و اومیرمن یې هم د محمدزیو د مخورو څخه ده. دا هم ویل کېږي چې د نجیب دکوژدې په مراسموکې مارشال شاولي خان هم ګډون کړی و .

پر بله خوا د خلقیانو د اړخ مشران اوکدرونه په ټیټو اومنځنیو طبقو پورې تړاو درلود. په یوه سیاسي غورځنګ کې د دا ډول مخالفو ټولنیزو دریځونو خاوندانو شتون او هغه هم پداسې یوه حالت کې چې غورځنګ د طبقاتي مبارزې اود زبېښاک د له منځه وړلو جنډه پورته کړې وي، ناشونی برېښي. همدا لامل او د رهبرۍ پرسرمبارزه وه چې د ګوند د جوړېدو سره سم اختلافونه پیداشي ، د ګډ کارجوګه نشي ، لارې سره جلا کړي اوپوره لس کاله اودوې میاشتې د یوبل خلاف دښمنانه تبلیغات پر مخ بوزي او د ۱۳۵۶ کال د چنګاښ په میاشت کې د محمد داود د ځپونکې تګلارې له وېرې او د سیمې د کارګري او کمونستي ګوندونو (شوروي ، هند ،عراق اوایران د تودې ګوند ) د فشارونو له کبله بیا یووالي ته غاړه کېږدي. دا یووالی پداسې یوه حالت کې ترسره شوچې د دواړو اړخونو لیکو ، کدرونو او یو شمېر مشرانو ته د منلو وړنه و. هغه مهال پریوبل د بې اعتمادۍ کچه لدې ښکاري چې خلقي اړخ په پوځ کې د خپلو غړو لست مقابل لوري سره شریک نکړ. که څه هم پرچمیانو خپل پوځي غړي خلقي اړخ ته وروپېژندل خو خپل یوشمېر ملکي کدرونه یې پټ ساتلي وو. د دواړو ډلو ترمنځ بې اعتمادي او نه باور لدې هم معلومېږي چې کله د۱۳۵۷ کال د ثور په پنځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ظاهراً واحد ګوند ځينې مشران د محمد داود حکومت له لوري بندي شول اوحفيظ الله امين د خلقي اړخ پوځي مسؤل د مخکښنۍ پرېکړې له کبله خپلوا ړونده خلقي پوځي ارتباطي غړو ته د پاڅون قومانده ورکړله، پرچمي پوځيان يې خبرنکړل. خلقيانو د ثور په اومه پاڅون وکړ اوواک يې ترلاسه کړ .

يادونه : هغه څه چې تاسې پدې ليکنوکې لولئ د ا.خ.د.ګ. د تاريخ کوچنۍ برخه هم نه ده. د دې ګوند د تاريخ د انځورولو لپاره د يوه غټ تحليلي کتاب د ليکلو اړتيا ليدل کېږي. د ليکنو دا لړۍ په دې ګوندکې يوازې د نجيب الله رول اوځاى ته ځانګړې شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په تلپاتې کورنيو کشمکشونو کې ښکېل ګوند

د داسې ګوند پته نه لګېږي چې له کورنيو کشمکشونو او يا انشعابونو سره نه وي مخامخ شوی. خو د بحث لاندې دا.خ.د.ګ. اوه ويشت کلن (1371 /2 / 8 - 1343 / 10 / 11 ) تاريخ د کورنيو تلپاتې کشمکشونو سربېره د خلقيانو او پرچميانو ترمنځ د مخالفتونو او نانډريو ،حملې اومقابلې ، توطئو اودسيسو ، وژنو اوتبعيدونو ، کودتايي هڅو او شخړو يوه غملړلې ټوليزه ده. د دې ګوند تاريخ بايد په دريو پړاونو ( يووالي ، جلاوالي اوبيا يووالي ) کې ترڅېړنې لاندې ونيول شي. خو دا هېر نشي چې د دې دوو سيالو ډلو د مخالفتونو او دښمنيو کچه د بېلوالي (انشعاب) د پړاو په پرتله د يووالي اوبيا يووالي په پړاونوکې خورا لوړه ده او قربانيان يې د دواړو اړخونو عادي غړي وو، پدې توپير چې د پرچميانو په پرتله د خلقيانو داړخ قربانيان خورا ډېر دي. اوس به په لنډه توګه په يادو دريو پړاوونو تم شو:

الف - لکه څرنګه چې په تېره ليکنه کې راغلي وچې دګوند په بنسټ ايښودونکې کنګره کې دکارمل د مشرتابه خوبونه په اوبو لاهو شول . خپل ارمان ته درسېدو په موخه يې فرکسيوني هڅې پيل کړې. پربله خوا يې د تره کي د تجريدولو او د مرکزي کميټې په غونډوکې بې مفهومه مباحثو ته لمن وهله چې تره کی لکه غبار له ډګره وباسي اويا دکارمل ارادې ته غاړه کېږدي. د تره کي د تجريد په موخه يې تل " ټينګارکاوه چې تره کی بايد عمومي رهبري وکړي اوورځني کارونه ځوانانو ته پرېږدي. د دې وړانديز موخه څرګنده وه چې د تره کي اړيکې له ګوندي کدرونو سره وشلوي.

کارمل د مرکزي کمېټې په نوبتي غونډوکې د جنجالي اوپه ځېنو مواردو کې ماشومانه خوپلان شوې لمسونکې مسألې مطرح کولې. پدې اړه صالح محمد زيری ديوې غونډې په هکله د کارمل لاندې وړانديز راوړي : "راسئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هريو خپل عيبونه په خپله ووايو او د خپلو نواقصو په اړه اعترافونه وکړو ... ، د تره کي د څرګندونو وروسته کارمل ورته وويل چې يعنې خودخواهي لرې ، ده په خندا ځواب ورکړ، خود خواهان نو ټول يو ، کارمل ورته وويل نور څه کوې ته يې که نه؟ ده بيا په خندا ځواب ورکړ، بلې خود خوا نو يم، کارمل وويل ما همدا غوښتل چې پخپله ووايې چې خود خواه يې. په دغه وخت کې نورو مداخله وکړه او دغه موضوع پای ته ورسېده." ښايي ځېنو لوستونکو ته دا ډول څرګندونې معمولي ښکاره شي خو د سياستوالو سره ښايي چې په خپلو او د نورو سره دپلوماتيکه ژبه وکاروي او د پېغورونو او تورونو لګولو او د سپکاوي ډډه وکړي چې نن يې مونږ د هېواد لوړپوړي چارواکي لکه صالح او اتمر وينو چې پرون يې غني ته سپکې سپورې ويلې اونن ګډ کارورسره کوي. دا ډول وګړي هېڅ ژمنتيا نلري يوازې اويوازې دواک په فکر کې وي اوهرې کرغېړنې معاملې ته چمتو وي .
په دې پړاوکې چې ګوند دکوچني ماشوم په څېر لا کوڅو ته نه و راوتلی او ظاهرأ ګوند يوموټی برېښېده خو عملأ په ګوندکې دوو مشرانو (تره کی اوکارمل) شتون درلود او پلويان يې هم څرګند وو. دګوند انتخابي مشر تره کي په کارمل او د هغه په پلويانو تردې کچې بې باوره و چې هغه د چين دسفارت مخې ته مظاهره تنظيم کړې وه خوکارمل اوپلويان يې په هغې خبرنکړل. کارمل د دې مظاهرې خبر د نړيوالو راديوګانو اورېدلې و. کارمل د مرکزي کمېټې په غونډه کې د مظاهرې په اړه پوښتلي و اوتره کي ورته ويلي و "ښايي زمونږ ملګرو کړي وي" خو زياترو اعتراض کړی و چې مرکزي کمېټه خبره نه ده او مظاهره کېږي. پدې مظاهره کې د دولس تنو شاوخوا د ګوند مشرانو او غړو لکه صالح محمد زېري ، عبدالکريم ميثاق ، داکتر شاولي ، حفيظ الله امين اوعبدالقيوم نورزي برخه لرله. مظاهره کونکي د ښار په يوه ټاکلي ځای کې راغونډ شوي وو ، په څو ټکسيانو کې کيناستل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اود چین سفارت مخې ته یې د چین او امریکا د سیاستونو خلاف د څو دقیقو په ترځ کې شعارونه ورکړل او په هماغه ټکسیانو کې په بیړه سیمه پریښودله .

د ګوند د جوړېدو څه موده وروسته د کارمل پلویانو په ښکاره کارمل ته کمپاین پیل کړ. د ساري په توګه دګوند دوهمه کلیزه دتره کي په کورکې لمانځل کېده . پدې مجلس کې بارق شفیعي د ګوند د جوړېدو په مناسبت یوشعر لوستی و چې د شعر ستره برخه د کارمل اواناهیتا راتبزاد ستاینې ته ځانګړې شوې وه. د دې ستاینې په غبرګون کې محمدطاهر بدخشي په بارق غږ کړی و " کښینه مداح" او وروسته لدې غونډه کړکېچنه شوې وه. ښېله شکه چې کله په یوه غونډه کې دګوند د مشر د ستاینې پر ځای د ګوند د دوهم شخصیت ستاینه کېږي په واقعیت کې د موازي مشر جوړولو ته کمپاین دی. د دې پېښې پنځه میاشتې وروسته د ۱۳۴۶ کال د ثور په څوارلسمه کارمل اوپلویانو یې د ګوند سره اړیکې وشلولې . د ا.خ.د.ګ. په نامه یې خپل ګوندجوړ کړ اوپدې ډول دوه موازي ګوندونه راڅرګند شول .

ب- د انشعاب په لس کلن پړاوکې دواړو ډلو دیوبل په پته په خپلو اعلامیو (شپې پاڼو) او مېټنګونو کې د روا او ناروا تورونو او تومتونو څخه ډډه نده کړې تر دې چې پرچمیانو د نورمحمدتره کي بیوګرافي ولیکله او د شپې پاڼې په څېر یې په خپلو ملګرو او پوهنیزو بنسټونو کې ووېشله چې د خلقیانو او تره کي په پته د روا اوناروا تورونو د لګولو ترڅنګ تره کی د سي آی اې جاسوس معرفي کړی و.

ج – د ا.خ.د.ګ. په نامه د خلق اوپرچم ټلوالې د بیا یووالي پړاو په دوو (له واک څخه مخکې اوله واک څخه وروسته) برخو او د واکمنۍ دوره یې د خلقي او شوروي - پرچمي برخو وېشل منطقي ښکاري. د واک څخه مخکې دوره لنډه وه اوداسې څه پکې نه ترسترګو کېږي چې پرې بحث وشي. خو کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خلقیانو په یوازې سر د محمد داود حکومت رانسکورکړ او په ارګ کې پرچمي افسرانو چې شمېر یې اوه لس تنه اټکل کېږي د نظام په ملاتړکې ودرېدل او د مهتاب کلاد توپچي لوا پرچمي قوماندان مشهور په خلیل سګباز هم د پاڅون په لومړیو ګړیو کې خپله لوا د خلقیانو خلاف وکاروله، پر یو بل بې اعتمادي لوړې کچې ته ورسېدله.

که دواړو ډلو د انشعاب په دوره کې د مقابل اړخ داعتبار د کمزورولو په موخه د یوبل خلاف تبلیغات پرمخ وړل، د واک د ترلاسه کولو وروسته د کلیدي دولتي څوکیو د ترلاسه کولو په موخه کشمکشونه پیل شول. که دې کشمکشونو ته د واقعبینۍ له کړکۍ وکتل شي خلقي اړخ ته د انتقاد ګوتې نیول بې انصافي برېښي ځکه چې په پاڅون کې یوازې خلقیانو برخه لرله، لسګونه تنه یې دارګ د ساتونکو او ښایي د پرچمیانو په ګولیو (مرمیو) ویشتل شوې وي او ژوند یې له لاسه ورکړی وي خو بیا هم د کارمل ډلې په حکومت کې نیمایي برخه غوښتله چې اخلاقاً هم داسې غوښتنه سمه نه برېښي. کله چې د پوځي پاڅون وروسته د سیاسي بېرو غونډه وشوه او د حکومت د جوړېدو او مرکزي کمېټې ته د پاڅون د مرکزي لوبغاړو د راپورته کولو مسئلې د غونډې آجندا وټاکل شوه، کارملیانو په حکومت کې دفیفټي فیفټي وړاندیز وکړاو مرکزي کمېټې ته یې د پوځیانو را پورته کولوسره پدې نامه مخالفت وښود چې هغوی اړینه سیاسي پوهه نلري. کارملیان پوهېدل چې په پاڅون کې خلقیانو برخه لرله او که هغوی مرکزي کمېټې ته لاره مومي اوپدې ډول په مرکزي کمېټه کې خلقیان اکثریت ترلاسه کوي. خوشل میاشتې وروسته چې کله کارمل اوملګري یې په شوروي ټانکونو سپاره په ګوند اوخلکو وتپل شول همدا اتلان یې د سیاسي بورو غړیتوب ته راجګ کړل او د امهال بیا د سیاسي پوهې د نلرلو مسئله مطرح نه وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کارمل انډيوالان د لوړو دولتي څوکيو داسې ليوال وو چې سليمان لايق او بارق شفيعي ګواکې چې شاعران او اديبان دي بايد د اطلاعاتو اوکلتور وزيران شي او د سياسي بېرو په غونډه کې يې يوبل ته توندې خبرې هم کړې وې. بالاخره چې دا ښاغلي قانع ، خوښ او کړکېچ حل شي د اطلاعاتو اوکلتور وزارت يې په دوو برخو وويشلو چې دواړه د خپل مسلک اوتجربې پراساس وزيران شي. خو کله چې د طب ډاکتر نجيب الله د څارګرې ادارې (خاد ) مشر مقررېده هېچا اوپه هغوکې په خپله نجيب ونه ويل چې دايې مسلک نه دی او په امنيتي چاروکې تجربه نلري. همدا لامل و چې په خادکې بېسارې شکنجې ترسره کېدې او د خاديستانو دکړنو څخه ولس سرټکاوه ځکه چې مشريې د دې ادارې دکاراو دمسوليتونو د څرنګوالي سره آشنا نه و.

د ګوند د واکمنۍ په څوارلس کلنۍ موده کې د خلقيانو او پرچميانو ترمنځ شخړې، جنجالونه ، يو بل ته د توطئو او دسيسو د جوړولو، زنداني کولو اوتبعيدولو او کودتايي هڅو لړۍ خورا اوږده ده خو مشت نمونه خروار يوازې به د يوبل خلاف يا په دقيقه توګه د يوه اړخ له لوري د يوې ناکامې اوبلې بريالۍ کودتا يادونه وشي. پر کودتاګانو بحث لدې کبله کېږي چې نجيب الله يې يو لوبغاړی دی اودليکنو لړۍ هم دنوموړي جنجالي شخصيت ته ځانګړې شوې ده.

د ثور د اومې پوځې پاڅون وروسته پېښنو وښودل چې کارمل د دې پاڅون سره مخالف و ځکه چې پاڅون خلقيانو ترسره کړ او تره کی بيا دګوند اودولت د مشرپه توګه راڅرګندېده. همدا لامل و چې د نوې واکمنۍ خلاف يې دريځ غوره کړ د حکومتي چارو د سبوتاژ نه نيولې تر ورانکاره کړنو اوآن ترکودتا پورې. هماغه دي چې د خپلو ارادتمندانو پرمټ يې دخلقي حکومت ضد تحريکات پيل کړل چې په ملکي برخه کې نجيب الله اومحمود

(c) ketabton.com: The Digital Library



بريالي تە كليدي رول وركړل شوى و. دواړو پە نوبت د كابل هوټل يوې كوټې تە راتلل اوخپلو پرچمي ملگرو تە يې اړين دستورونە وركول. د استخباراتو اداري (اگسا ) پدې اړه اسناد برابر او پە سياسي بوروكې هغە ونېودل شول اود پرچميانو پە شمول ټولو پرېكړه وكړه چې نجيب اوبريالى د گوندي ضد فعاليتونو لە كبلە پە ايران اوپاكستان كې د سفيرانو پە توگە مقررشي. خو وروستە كارمل ترە كي تە ويلي دي چې دنجيب او بريالي سربېرە دى (كارمل) نوراحمد نور، اناهيتا راتبزاد او عبدالوكيل هم غواړي سفيران شي. د دې وړانديز څخە دا معلومېږي چې كارمليان دې پايلې تە رسېدلي و چې د دوى دولتي ضدكړنې د خلقيانو څخە پټې نە پاتې كېږي او د بربنډېدو پە صورت كې دوى نيول كېږي. داچې پرچميانو دخلقي حكومت خلاف نخشې لرلې د نجم الدين كاوياني لە قولە تاريخپوە اعظم سيستاني ليكي چې كلە كارمل دسفير پە توگە چكوسلواكياتە تللو پە هوايي ډگركې يې خپلو ملگرو تە ويلي و" خپلې ټولې هلې ځلې د ترە كي او امين د رژيم د بدنامولو پە موخە وكاروئ." د پرچميانو د خلقي حكومت ضد كړنو پايلە دا شوە چې د سنبلې پە مياشت كې د پرچميانو لە لوري د پوځي كودتا د توطئې دكشف اعلان خپور، پە كودتا تورن كسان بندي شول، د هغوى اعترافونە هم پە حكومتي رسنيو كې خپارە شول او بيا د قوس پە مياشت كې كودتاچيان اوپە بهركې دكودتا مشران د ملي خاينونو پە توگە اعلان اوترې و غوښتل شول چې افغانستان تە راستانە شي خوهغوى دسفارتخانو لە شتمنيو سرە پە اروپا (چكوسلواكيا ، بلغاريا ) كې پټ شول او د1358 كال د جدې پە شپږمە د شوروي اشغالگرو پە ټانكونو سپارە افغانستان تە راغلل. ويل كېدل چې نجيب 21ميليون ريال پە تهران كې دافغانستان لە سفارت څخە وړي و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پربله خوا دنجيب دواکمنۍ پرمهال د1369 کال دکب په شپاړلسمه پدې نامه چې تنې کودتا کوله حکومتي ځواکونواو د دوستم مليشو په دفاع وزارت بريد وکړ، لسګونه نيول شوي خلقي جنرالان اوافسران يې بې له محاکمې ووژل اودپنځو سوو زيات خلقي افسران ، د مرکزي کمېتې غړي اوملکي کدرونه يې زنداني او پرهغوی يې داعدام اودبند حکمونه هم صادر کړل خو د کودتا اعترافات يې په رسنيو کې خپاره نکړل. دا څه ښيي ، دکودتا تور يا دسيسه؟ د کب د شپاړسمې درى مياشتې وړاندې حکومت اوازې خپرولې چې تنی کودتا کوي.کله چې حکومت اوازې خپرولې چې تنی کودتا کوي منطقاً يې اسناد اوشواهد لرل نوولې يې مخکې لدې چې تنی کودتا وکړي، لسګونه تنه ووژل شي اوبېساري مالي زيانونو اووراني وشي هغه او د نوموړي کودتايي ملګري ونه نيول ؟ خلقيانو چې دپرچميانو دکودتا دسيسه کشف کړه تورن يې ونيول ترڅو دتلفاتو اووورانيو مخه ونيسي اودکودتاچيانو اعترافات يې هم خپاره کړل خو نجيب د کودتا مخه ونه نيوله، پوځي نښته وشوه ، انسانان ووژل شول ، ورانۍ وشوې او دکودتا په تور د زندانيانو اعترافات يې هم خپاره نکړل دا بيا ښيي چې د تنې په نامه کودتا نجيب تنظيم کړې وه اوپدې ترخه واقعيت بينن سيوان دافغانستان دشخړې د حل په موخه د م ، م ځانګړی استازی هم پوهېده اود وخت د بهرنيوچارو پرچمي وزير عبدالوکيل ته په ټوکو ويلي و چې "کودتا موپه خپله ګټه تنظيم کړې وه ." عجيبه داده چې يوبهرنی دپلومات پدې پوهېده چې نجيب د پرچميانو په ګټه کودتا تنظيم کړه اوخلقيان يې له ډګره وابستل خوځېنې لکه طوطيان لاتراوسه دکب دشپاړسمې خونړۍ پېښې په اړه د نجيب دحکومت تبليغات زمزمه کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډاکتر نجيب الله هېڅکله سپينه چپنه وانه غوستله

نجيب الله په 1344 کال کې دا ، خ، د ، ګ غړيتوب ترلاسه کړ اوکله چې ګوند په دووبرخو وويشل شوهغه د ببرک کارمل مشري ومنله. هغه د ګوند د بنسټ اېښودونکې کنګرې پرمهال د څو نوروځوانانو سره د تره کي د کورشاوخوا ګزمه کوله که پوليس سيمې ته راځي چې دکنګرې برخه وال خبرکړي.نجيب په پښتو اودري ژبو بشپړ واکمن و اوپه انګريزي هم پوهېده، دژبې فصاحت يې درلود اوغوره وياند و. د دموکراسۍ په لسيزه کې د پرچم د ډلې په لاريونو اوميټنګونو کې ډېر ښه وځلېد.هغه دکابل پوهنتون د طب پوهنځی په لسوکلونو کې پای ته ورساوه اوداوړدې مودې زده کړولامل يې دا و چې هغه د زده کړو پرمهال دوه ځله زنداني شو.نجيب ډاکتر شو خو هېڅکله يې سپينه چپنه وانه غوستله، ديوه ناروغ درملنه يې ونکړه ، ديوه ټپي ټپ يې پانسمان نکړ اونه يې چاته پېچکاري او سيروم تطبيق کړل بلکې د ده ترمشرۍ لاندې د خاد او واد د دوزخي دستګاه کارکونکو د شوروي اشغال ضد وسلوال او بې وسلې مخالفين شکنجه او وژل اود خپل هېواد په کليو اوباندېو يې د بمباريو اوتوغنديو د ويشتلو قوماندې ورکړې. زموږ د هېواد د روان ناورين پرمهال دوو تنو نورو( حکمتيار اومسعود) چې انجينران ياديږي يوه خښته پربله خښته کېښښودله، کومه ودانۍ ، کارخانه ،سړک او پل يې ډيزاين اوجوړنکړ بلکې شته ودانۍ ، کارخانې ،سړکونه او پلونه يې وران کړل اوانسانان يې شکنجه او ووژل.خوبيا هم ددې د ريوتنو پلويان هغوی اتلان او د وطن خادمان ګڼي . ياللعجب !

د ډاکتر او دوو انجينرانو توپير په دې کې دی چې ډاکتر دانقلاب په نامه او انجينرانو د جهاد په نامه ووژل اوافغانستان يې وران کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنجیب د یوځل زنداني کېدو لامل دامریکا د ولسمشرمرستیال اسپیرو اګنیو پر موټر دهګیو ویشتل اودامریکا بیرغ ته اوراچول و چې افغانستان ته په رسمي سفرراغلی و. اعتراضیه لاریونونه، مظاهرې، دظلم او بې عدالتۍ په وړاندې درېدل، د دولتونو د هژمونیستي تګلارو غندل او د مظلومانو د غږ پورته کول جرمونه نه دي او دا د هر انسان اوهر سازمان مدني حق دی خو ورانکاري اولنډه غري جرم ګڼل کېږي. نجیب په 1356 کال کې د پرچم د ډلې د مرکزي کمېټې غړیتوب ترلاسه کړ.
نجیب د پوهنتون په دوره کې د خپلو پرچمي ملګرو له لوري دعیار اوکاکه په نامه یادېده اوپربله خوا د پرچم سیالو ډلو او د نجیب شخصي دښمنانو هغه د ګاو ،غويي (په نامه یاداوه .یوشمېر پدې اند دي لکه څرنګه چې نجیب جسماً غټ و، هغه ته یې غويي ويلو اونور بیا د هغه سرزورۍ ،سرټمبه ګۍ او بدماشۍ ته ګوته نیسي. په یوتیوب کې یوه ویدیو شتون لري چې په مرادخاني کې چېرې چې نجیب زېږېدلی اولوی شوی دی د نجیب دارادتمندانو څخه یوسپین ږیری دکاندار د نوموړي د ښو ځانګړتیاوو د یادولو سربېره هغه د سیمې بدماش معرفي کوي. د نجیب د ظلمونو اوبدماشۍ په اړه د هغه ورور صدیق راهي د قلم اوکلام د عفت په پام کې نه نیولو سره «نجیب رابشناسید» په نامه کتاب لیکلي دی چې د نجیب څخه یې دیوه لنډغر انځور کښلی دی، خو صدیق پدې هم اعتراف کوي چې په ماشومتوب کې د ځورېدلو اوکړېدلو ماشومانو څخه عقده من انسانان جوړېږي. د نجیب او د هغه د ورور دکورنیو ښځتو اوزور زیاتۍ سلسله حتی کابل پوهنتون ته رسېدلې وه چې یوه ورځ دواړه سکه ورونه د پرچمۍ ثریا بها په شتون کې د هغې پرسر سره ونښتل اود نجیب دسترګې دټپیدو کېدو او له سترګې څخه د وینو د بهېدو سبب شول ، نجیب په ځمکه ولوېد اوورورېې لاهم وهلو. دا بیا ښیي چې د نجیب له ظلمونو عقده من

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدیق په خپل کتاب کې مبالغه کړې ده. زموږ په هېواد کې په تېره پوهنیزو بنسټونو کې د زده کونکو، محصلینو ، ښونکو اواداري هیئت کړنو اوځانګړتیاوو ته په کتو سره په هغوی ډول ډول نومونه لکه چنګېز ، سګ (سپی) ، دلاک (ډم) ، دیوانه (لېونی )، پدر(پلار ) ایښودل کېدل. دا هغه نومونه وو چې دحربي ښونځي زده کونکو په ځېنو اداري او تدریسي کارکونکو اېښې وو. کله چې لیکوال پدې پوهنیز بنسټ کې زده کړې کولې. د نجیب د دې دوهم نوم ( لقب ) په اړه حتی دا ، خ،د،ګ په نشراتي ارګان (حقیقت انقلاب ثور ) کې هغه مهال چې د مسکو د ارادې له مخې د کارمل پرځای د نجیب د مقررېدو آوازې وې یو کارتون خپور شو چې یو غویی د ګوند د مرکزي کمېټې د ودانۍ په لور په حرکت کې ښیي او ورسره لیکل شوي و "سرش کته عقلش کم." ددې کارتون دکښلو معنی داوه چې نجیب تېروتی دی چې دکارمل مقام ته یې د شورویانو په خوښه زړه خوښ کړی دی او د ده پرچمي ملګري به په راتلونکې کې ور ته سرخوږی جوړوي. ژوند هم وښودل چې پرچمي ملګرو یې بلاخره داسې ترخه ورځ پرې راوستله چې اړشي تخت اوپاچاهي پرېږدي، هندوستان ته د تېښتې هڅه وکړي چې دتېښتې لاره یې هم پرې تړلې وه او په نهیلۍ د م،م دفتر ته پناه یوسي پدې تمه چې دا موسسه به ده ته خپلې کورنۍ ته د رسېدو شرایط برابر کړي چې دې مؤسسې هم لکه د نوموړي پرچمي ملګرو ورسره ناغېړي وکړه ، پایله یې داشوه چې طالبان نجیب اود هغه ورور شاه پور احمدزی ووژني او جسدونه یې د صحت عامې په څلورلارې کې د ننداري لپاره وځړوي. افغان لیکوال رزاق مامون په یوه لیکنه کې راوړي چې د نجیب په حکم د وژل شوي جنرال محمدآصف شور تنکي ځوان زوی چې د آریانا د څلورلارې ترڅنګ د مکرویانو په 108 بلاک کې اوسېده د نجیب ځوړند جسد په لیدلو وویل چې ما هماداسې ورځ غوښتله چې خلک دې مړی ننداره کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه تا چې زما دپلار په وینو لړلی جسد د ټلویزیون په پردو نندارې ته کېښود. محمدآصف شور، محمدکبیر کاروانی، شهنوازشیوانی او محمدزی نیک مل وتلي افسران چې لیکوال ورسره پېژندل کوم چې د انسانیت ، وطندوستۍ او پوهې سمبولونه وو خو خادیستي جلادانو په بېرحمۍ ووژل او د شور او کاروانی او نورو په وینو لړلي جسدونه یې څو ځله د ټلویزیون په پردو نندارې ته کېښودل. د ټلویزیون په پردو د وژل شوو انسانانو په وینو لړلو جسدونو ښودنه په خپله دوحشت او بربریت څرګنده نښه ده.

کله چې طالبانو نجیب وواژه ، ملاربانی د طالبانو د دولت مشر د یوه خبریال د دې پوښتنې په ځواب کې چې ولې مو نجیب بېله محاکمې چانواری کړ ویلي و د هغه محاکمې ته اړتیا نه وه ځکه چې هغه په خپله په خپلو جنایتونو اعتراف کړی و او ویلې یې و "مور خلکو ته دکور ، کالیو اوډوډۍ د ورکولو ژمنې کړې وې خو د کور پرځای مو ګور، د کالیو پرځای مو کفن او د ډوډۍ پر ځای مو مرمۍ ورکړې".

د نجیب دې وینا د اسلام آباد اوتهران له لوري جوړو شوو تنظیمونو ته چې د محمدداود د واکمنۍ را پدیخوا یې په افغانستان کې د ځمکې پرسر محشر جوړکړ، زرګونه افغانان یې ووژل ،ښونځي ، دولتي مؤسسې، سړکونه او پلونه یې وران اوپه وروستي ګام کې یې د وسلوال پوځ ټولې وسلې اوپوځي تجهیزات په بازارونو کې دکباړ په بیه خرڅ کړل برأت ورکړ.

نجیب پدې اپلتو سره غوښتل د وسلوالو مخالفینو او له سیاست اوسیاسي لوبو څخه بې خبروخلکو زړونه خپل کړي خو هغه پدې وینا سره نه یوازې دا ، خ،د ،ګ بلکې خپل ځان هم محکوم او د اعدام وړ وګڼلو او وسلوال مخالفین یې سپینې کوترې معرفي کړل، ځکه چې دافغانستان د غمېزې لامل یوازې دافغانستان د خلک دموکراتیک ګوند نه بلکې اوه ګونې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اته ګوني تنظيمونه او د هغوی نړدې اولري ملاتړي او په تېره پروني شوروي اوننې امريکايي اشغالګر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نجیب الله یوازېنۍ هیله

دا هېرنکړو چې کله د پرچم اوپرچمیانو خبره کېږي خبره د کارمل اوکارملیانو څخه ده. کارمل د پرچم داسې رهبر و چې د ټولو پرچمیانو (له مشره نیولې ترکشره ) په زړونو حکومت کاوه. دا چې د نجیب د واکمنۍ د راپرزېدو وروسته ځېنې لوړپوړي پرچمیان لکه عبدالقدوس غوربندي، میراکبر خیبر د کارمل مخالف ګڼي ،لایق هم ځان اوهم خیبر د کارمل مخالفان تبلیغوي او نجیب هم د خیبر له پلویانو شمېري واقعیت نلري. نجیب د ډېری پرچمیانو په څېر کارمل ته ځانګړی ارادت درلود او هغه د کارمل د باډیګارد اوساتونکي په توګه پېژندل کېده. نجیب که د خیبر له پلویانو څخه وای لېترلږه به یې په خپله پنځه کلنه واکمنۍ کې د خیبر زېږېدو اویا وژنې تلین لمانځلی وای. نجیب د هېواد د لومړي شخصیت په رول کې حتی دخیبر نوم یوځل یاد نکړ. دا بیا د دې واقعیت ښکارندوی دی چې نجیب دخیبر له پلویانو څخه نه و اوخیبر په خپله د کارمل یولاس تړلی مرید و اوهېڅکله دکارمل د ملي ضد او شوروي پالنې د تګلارې خلاف نه دی درېدلی بلکې ملاتړ یې کړی دی. د پرچم په جریده کې د لینن د سلمې کلیزې په مناسبت په لینن درود ویل او په 1348 کال کې د وخت په چکوسلواکیا باندې د شوروي خاینانه تیري ته د انټرناسیونالستي مرستې په نامه ملاتړ ښودل هغه څه دي چې خیبر اولایق دواړو د دې جریدې د تحریر د هیئت په توګه تائید کړي دي دا ځکه چې شوروي پالنه د پرچم د ډلې منل شوې تګلاره وه .

د شوروي د اشغال پر مهال نجیب کارمل ته د خپل بشپړ ارادت اووفادارۍ د ښودلو، د نومړي د واکمنۍ د ناخوالو او کمزورو اړخونو دپټولو ،د منتقدینو د چوپولو په موخه د ګوند داساسنامې دغوښتنو اود دموکراسۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اصولو خلاف دریغ غوره کړی او د خاد د رئیس په توګه حتی د هغو ګوندیانو غوړونه ور تاوول چې په ګونداوحکومت کې یې نیمګړتیاوو ته ګوته نیوله . څرګنده بېلګه یې په 1360 کال کې لومړی ګوندي کنفرانس دی چې کله سید محمد ګلابزوی او راز محمد پکتین دکنفرانس د ویناوالو په توګه په ګونداوحکومت کې شته نیمګړتیاوو ته ګوته ونیوله او دچارو د ښه سمبال په موخه یې خپل وړاندیزونه وړاندې کړل نجیب د ستیژ سر اودخطابې مېز شا ته راځي او د " رهي معبري" د شعر په بیت کې د بدلون په راوړلو کارمل ته په اشارې په احساساتي او هیجاني ډول وایي.

موی سفید را فلکش به رایګان نداد

این رشته را به نقد جوانی خریده است

د بیت اصلي بڼه داسې ده :

موی سپید را فلکم به رایګان نداد

این رشته را به نقد جوانی خریده ام

دنجیب دا ډول کړنه د افغانستان د دربارونو هغو مداحانواو د خلیل الله خلیلي په شان غوره مالو شاعرانو ته ورته ده چې د پاچا او امیر د خوشالولو په موخه به یې د هغوی صفتونه کول خوپدې توپیر چې نجیب د دولتي چارو د ښه کولو په موخه د خپل مرشد د خوشالولو په پار د سالمو اوجوړونکو انتقادونو مخه نیوله او منتقدین یې ګواښل.

په کنفرانس کې کیسه دکارمل په خوشالولو پای ته ونه رسېده بلکې نجیب دا هم اعلان کړل چې " قسم خورم ترخو مې خادیستان پدې ګوند(ا ،خ،د ،ګ) واکمن کړي نه وي یوه شېبه به آرامه ونه اوسم." که هغه مهال رهي معبري ژوندی وای اواوربدلي یې وای چې د نجیب لخوا د ده د شعرپه یوه بیت کې لاسوهنه شوې او دا لاسوهنه دکارمل په شان د یوه شخصیت د اتوریتې د لوړلو په موخه شوې ده د خپلو شعرونو دیوان ته به یې اوراچولی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مهال به واکمن ګوند تبليغات کول چې ا ، خ ،د ،ګ د دولت اوټولنې لاربښونکی ارګان دی خو د نجيب دې قسم خوړلو وښودل چې د ګوند د لاربښونکي رول په اړه تبليغات د اپلتو پرته بل څه نه دي او دا لاربښونکی ارګان خاد دی چې هم دګوند ، هم حکومت اوهم ټولنې برخليک ټاکي. د کنفرانس وروسته د دې ارګان د لاځواکمن کولو په موخه نور ګامونه اوچت کړل شول چې هڅونکې يې د شوروي اتحاد د زجر اوشکنجې دستګاه ( کې جې بې) وه. پدې اړه ديه ګه کوردويز هم د خپل کتاب په 259 مخ کې ليکي: " کی جی بی نجيب الله ته خبرداری ورکړ چې دافغانستان د پوځ په وفاداری ډډه ونه لګوي، لدې امله يې لازمې پيسې اوتجهيزات ورکړل تر څو د جمهوري رياست نوی ګارد د لوړوحقوقو اوامتيازاتوسره له يوه خصوصي پوځ پرته بل څه نه و جوړکړي ."همدا د کی جی بی دستور او د مسکو پربمانه پيسې اوتجهيزات و چې لومړی ګام يې خاد په وزارت واړاوه اونجيب دخپلې واکمنۍ پر مهال دامنيت وزارت په چوکاټ کې غونډونه اولواوې جوړې کړې چې توپونه ، ټانکونه اوتوغندي يې هم لرل اودامهال دی چې نجيب د آرامۍ احساس وکړ اويوازېنۍ هيله يې پوره شوه .
ښايي په نړۍ کې داسې بېلګه نه وي چې د هېواد استخباراتي اداره دې په توپونو ، ټانکونو اوتوغنديو سمبال جنګي جزوتامونه ولري. ليکوال ته دا معلومات نشته چې د نړۍ د نورو دولتونو څارګره ادارې جنګي جزوتامونه لري يانه خوپه خپل هېوادکې يې د دوواشغالونو پرمهال شوروي اوامريکايي د څارګرو ادارو په چوکاټ کې جنګي جزوتامونه وليدل. اوس مهال د صفر يو ، صفر دوه او...په نامه هم د ملي امنيت په نامه جنګي جزوتامونه شتون لري چې د وسلوالو مخالفينو په پرتله په خپلو شپنيو چاپې کړي استادان ، محصلين او دولتي ماموران وژني اودابيا ښيي چې د اشغال لاندې هېوادکې د څارګرې ادارې په چوکاټ کې جوړشوي جنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواکونه د ملي فکر خاوندو روڼ اندو د له منځه وړلو ځانګړی ماموریت لري چې پرون شورویانو دا کار د خپل ډاډمن نوکر نجیب او د هغه پرچمي همفکره فاروق یعقوبي او د ناټویي اشغال پرمهال یې د خپلو نازولو امرالله صالح ، رحمت الله نبیل اومعصوم ستانکزي پرمټ ترسره کړل اواوس یې داحمدضیأ سراج په وجودکې ترسره کوي.

خو د اپراتیفي لوبو اتل ولسمشر او د کی جي بې نازولو دا فکر نه کاوه چې خادېستان د ده دلاس دا نیالګي به د ده سر وخوري او دهمدې خادېستانو له وېرې چې لومړی یې د ده ځای ناستی یعقوبي وواژه اودی یې هم اړکړ چې د مرګ له وېرې د هندوستان په لور وتښتي خو د تېښتې لاره یې هم پرې تړلې وه، په غوړېو کانه خادیست عبدالوهاب نورستانی هوایي ډګر ته د ننوتو اجازه ورنکړه اوبرحال ولسمشرپه نهیلۍ سره دملګروملتو دفتر ته پناه یوړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آیا نجیب ملي شخصیت او شوروي ضد و ؟

د نجیب یاران نوموړي ته د جعلي او خیالي شخصیت د ورکولو په موخه او د سیاسي لوبو څخه بې خبره افغانان اونوی ځوان نسل د نجیب ویناوو او غړیزو کلیپونو ته په کتو سره هغه یو ملي شخصیت ، خپلواک ولسمشر او شوروي ضد ګڼي . ملي شخصیتونه د خلکو له منځه سرراپورته کوي ، د خلکو د رایو ،یا د اولسونو د پاڅون پرمټ او لوړ ترلوړه د پوځي کودتا له لارې واک ته رسېږي او د خپلواکۍ او ملي واکمنۍ مخکښان او سمبولونه دي. که څه هم کودتا لیکوال ته د واک د ترلاسه کولو غوره لاره نه ګڼل کېږي او هغه محکوموي خو کودتا هم د پردیو لښکرو پرمټ واک ته د رسېدو څخه نسبي مشروعیت لري .نجیب لکه کارمل د خلکو له منځه نه بلکې له مسکو څخه سرراپورته کړ ، هغه نه د خلکو د رایې له مخې اونه د پوځي کودتا له لارې سیاسي واک ترلاسه کړ بلکې د کارمل سره ګډ د شوروي اشغالګرو په ټانکونو سپور افغانستان ته راوستل شو لومړی د خاد درئیس اوبیا دولسمشر په توګه پرارګ کې کښېنول شو. همدې شوروي اشغالګرو دده دحکومت څخه د ملي مقاومت په ځپلوکې غوښینه برخه لرله. کله چې واقعیت داسې وي نو څرنګه د اشغالګرو پرمټ واک ته رسولي وګړي ته ملي شخصیت وویل شي ؟ نن هم موږ د ورته حالت سره مخامخ یو چې د توراشغال اردلیان غني اود دسترخوان یاران یې ملي شخصیتونه اوامریکایي ضد چاروکي تبلیغوي . هغوی چې نجیب شوروي ضد تبلیغوي هغه نجیب چې دوه کاله د شوروي د پوځیانو په مستقیم ملاتړ او دری کاله نور د شوروي دولت په پرېمانه مالي او تسلیحاتي مرستو او د شوروي د سیاسي ، استخباراتي او پوځي سلاکارانو پرمټ واک چلاوه هغه ته شوروي ضد ویل په ملي شخصیت ملنډې وهل دي. که نجیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوروي ضد دريځ درلود ،دمسکو چارواکي احمقان و چې دخپل دښمن دواکمنۍ دساتلو په موخه خپل بچيان قرباني کړي او ميلياردونه روبل ولګوي. فکرکيږي چې دنجيب ارادتمندان او مريدان پداسو اپلتو سره خپل حماقت ننداريې ته اېږدي .ددې لپاره چې دنجيب په شوروي ضددريځ اويا شوروي پالنه پوه شو دهغه خپلې خبرې به واورو. هغه د1365 کال دميزان په وروستۍ اونۍ کې دکابل په بالاحصار کې دشوروي پوځيانو ديوه کنډک دتللو په مراسموکې داسې ملغلرې و شندلې : " نن موږ دشوروي دانترناسيونالستو سپاهيانو ديوه کنډک سره مخه ښه کوو چې خپل سوله دوست هېواد ته ځي، موږ پدې وروستيو ورځو کې دشوروي دوستانوپه وړاندې د تودو احساساتواونه هېرېدونکې کورودانۍ شاهدان يو ، موږپه شينډند کې دشوروي په ټانکونو دګلابو دګلانو شيندل وليدل چې دشوروي اتحادپه لورروان و........، موږ دزرګونوزرګونو افغانانو په سترګوکې دجدايۍ او غم اوښکې وليدلې) ".حقيقت انقلاب ثوررځپاڼه ، اکتوبر نولسمه " (شوروي ضد" نجيب دشوروي اشغالګرو په اړه بل ځای داسې وايي: " موږ خپل سرونه ددرناوي په توګه دهغو شورويانو په وړاندې ټيټووچې خپل سرونه يې دخپل رسالت دترسره کولوپه موخه وبايلل...، داغمونه ژر نه هېرېږي .همدارنګه ډېرى افغانان به دشورويانو مهرباني اومېړانه ، انسانيت او ساده ګي هېره نکړي" (جنګ درافغانستان ، مخ 328 دروسيې دپوځي تاريخ دانستيتوت دپوهانو ډله) دنجيب پاسنيو څرګندونو ته په کتو سره لوستونکی قضاوت کولی شي چې نجيب شوروي ضد و يا دشوروي اشغالګرو منندوی ؟ کله چې "شوروي ضدنجيب" دشوروي سپاهيانو له لوري دافغانانو وژنو ته مهرباني او مېړانه وايي اوهغوی ته ددرناوۍ سر ټيټوي سليم عقل داسې يو پرديپال وګړی دخپلو خلکو دښمن اوداشغالګرونوکر ګڼي نه شوروي ضد . داسې وګړی په هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلیل شوروي ضد نشي کېدای. ښايي اردليان ديوه سياستوال دوطندوستی. اودپرديو غلامی. ته دقضاوت ځانګړي معيارونه ولري چې آزادخياله شخصيتونه دداډول معيارونو سره آشنايي نلري .اوس به وګورو چې نجيب چا دافغانستان په برخليک واکمن کړترڅو هغه ښه وپېژنو. دافغانستان ګذرګاه کشورکشايان نومي کتاب شوروي ليکوال په 199 مخ کې ليکي: "ګرباچف پدې عقيده و چې دکی جی بی لومړی درجه نوکر نجيب الله دهرعمل داجرالپاره دډاډ وړ سړی دی چې دمسکولخوا ورته هدايت وشي . " ګرباچف دنجيب دې ځانګړتيا ته په کتو سره هغه دکارمل ښه بديل ګاڼه چې دمسکو هرهدايت ته غاړه ايږدي . ديه ګه کوردويزپه خپل کتاب کې راوي چې دګرباچف دواکمنی. دبهرنيوچارو وزير مرستيال اودشوروي کمونست ګوند په مرکزي کميټه کې سلاکار ګيورګی کورنينکو نجيب " فرزند موی طلايي کی جی بی" ګڼلو .نجيب تردې کچې دشوروي اتحاد دوزخي استخباراتي ادارې ته وفادار و چې دشوروي پوځيانو دوتلو وروسته دهغه پوځي شوروي سلاکار دنوموړي څخه سرټکوي چې دده په پرتله دکی جی بی سلاکارانو مشورو ته ارزښت ورکاوه اوليکي: " نجيب الله زما (محمودقارييف) په يولړ پوځي مسئلوبحث وروسته دکی جی بی له استازوسره خبرې کولې اوهمغږی. ته رسېدلو.سره لدې چې نجيب الله هغه ځوک چې دکی جی بی داستازو سره يې نږدې اړيکې لړل ترډېرې کچې دکی جی بی داستازو تابع و."( افغانستان بعد از بازګشت سپاهيان شوروي ، مخ 156) لکه څرنګه چې دشوروي اتحاد اود روسيې دآرشيفونو څخه خپرو شوو سندونو، شوروي ليکوالو اوهمدارنګه افغان اوبهرنيو څېړونکو له ارزونو ښکاري چې دافغانستان په اړه مهموپرېکړو کې دشوروي د ديپلوماتيکو بنسټونو په پرتله کی جی بی ټاکونکی اوپرېکړونکی رول لوبولی دی . همدالامل و چې کارمل دوخت دکی جی بی مشر اندروپوف

(c) ketabton.com: The Digital Library



اونجیب دکریچکوف غوراوی و داطبیعي خبره ده چې دواړو دکی جی بی استازو ته دشوروي اتحاد دنورو بنسټونو سلاکارانو اواستازو په پرتله ارزښت ورکاوه اودکی جی بی دستورونه یې پلې کول .له همدې امله دنجیب پوځي سلاکار ترې سرټکوي .دولسمشر پوځي سلاکارقارییف دا هم لیکي چې " دسرقوماندانۍ دهرې غونډې مخکې ماښام یا سهارمو پر اصلي مسئلو خبرې کولې...، او ما معمولأ اصلي مسئلې چې باید دستور ورکړي ورته لیکلې ".دقارییف پاسنۍ وینا ښیي چې نجیب دخپل شوروي پوځي سلاکار لیکل شوي دستورونه د افغانستان دوسلوال پوځ داعلی سرقوماندان په توګه دسرقوماندانۍ په غونډو کې دوسلوالو ځواکونو مشرانو ته رسول .دا که له یوې خوا یو ګوډاګی تپل شوی اعلی سرقوماندان ننداري ته ایږدي اوله بله پلوه دسره اشغال داردلیانو ددې تبلیغاتو ناسموالی هم ښیي چې نجیب شوروي ضد اوخپلواک ولسمشرو .

جنرال ګروموف په افغانستان کې دشوروي دڅلویښتم لښکرروستی قوماندان لیکي :" نجیب دهېواد پوځي چارې دشوروي پوځي سلاکارانو اوګوندي اودولتي چاروې دګوند په مرکزي کمېټه کې د سلاکارانو دکمېټې دمشر ویکتورپولیانیچکو دمشوروله مخې پر مخ وړلې ".

داڅه ښیي ؟ داد دې څرګند واقعیت ښکارندوی دی چې نجیب شورویانو او خاصتأ کی جی بی ته ځانګړې ارادت درلود ، دهغوی دمشورو اودستورونو پربنسټ یې ګامونه اوچتول ،هغه دشوروي دوست و نه دښمن . دنجیب همدا شوروي پالنه اوپرشورویانو بشپړ باور وچې په افغانستان کې دنوموړي شوروي سلاکاران د1371 کال دحمل په درویشتمه یعنې دهغه دناکامې تېښتې دری ورځې وړاندې له هېواد څخه ووتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دملي روغې جوړې دتګلارې طراح

دنجیب الله پلویان دملي روغې جوړې طراح نجیب ګڼي اوداهم وایي چې نوموړي پدې لاره کې عملي ګامونه اوچت کړل او دهمدې تګلارې قرباني شو.کاشکې داسې وای چې دملي روغې جوړې طراح نجیب او یا بل کوم افغان چارواکی وای اودپخلاینې غړ دا ، خ،د ،ګ دمرکزي کمېټې له مانۍ اویا له ارګ څخه پورته شوی وای . دملي روغې جوړې دتګلارې غږ دارګ پرځای له کرملن څخه جګ شو.

کله چې دکرملن مغرورو چارواکو په1358 کال کې پر افغانستان دیرغل پرېکړه کوله دشوروي اتحاد دوخت دفاع وزیر اوستینوف ویلي و : " په افغانستان کې به زموږ دسپاهیانو په راڅرګندېدو سره یوشمېر وسلوال مخالفین وتښتي اونوربه وسله په ځمکه کېږدي." جورج بوش پرافغانستان دیرغل په مهال آزادخیالو افغانانو ته دوې دهدیرې اوبندیخانې لارې وښودلې چې یا به مو وژنو اویا به موپه پښو اولاسونوکې زولنې دراچوو. ژوند وښودل چې هم د اوستینوف اوهم دبوش وړاندوېینې ناسمې راوختلې.دشوروي پوځیانو په راڅرګندېدو سره افغانان ونه تښتېدل اووسله یې په ځمکه کېښنښودله او دبوش دسپاهیانو په راڅرګندېدو سره آزادطبیعته افغانان له هدیرې او بندیخانې ونه بېرېدل اودخپل وطن دساتلو په پاریې دافغانستان خاوره دشوروي اوامریکایي یرغلګرو لپاره په دوزخ واړوله. ویاړ پدې مېړني اولس !

دشورویانوله لوري پر افغانستان د یرغل شپږ میاشتې وروسته دکرملن مغروره شیخ فاني مشران په خپل حماقت وپوهېدل چې افغانستان دمنځنۍ آسیا هېواد نه دی چې هغه دخپلې امپراطورۍ په برخه واړوي .همدا لامل و چې دافغانستان دکشالې دسیاسي حل په لاروچارو سوچ کولو ته اړشول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې میخا ئیل ګرباچف په شوروي اتحاد کې واک ته ورسید د"ګلاسنوست او پېرې سترویکه" علنیت او بیا جوړونې تګلاره یې غوره کړه چې په هغوکې یې دافغانستان څخه دشوروي لښکرواېستلو ته هم متې راونغاړلې.پدې موخه یې دنجیب په شمول ځېنې خلقي اوپرچمي مشران مسکو ته وغوښتل. د صدراعظم سلطانعلي کشتمند په وینا دنجیب پرته نور مشران دخبرواترو په آجندا خبر نه وو.کله چې په کتنه کې ګرباچف دافغانستان څخه د خپلو ځواکونه خبره راپورته کړه کارمل مخالفت وکړ خو نجیب ددې وړاندیز څخه ملاتړ وښود .دکارمل مخالفت د دې سبب شو چې ګرباچف د هغه د ګوښه کولو اوپرځای یې د " فرزند موی طلایي کی جی بی " کېښولو ته مخه کړي . نجیب یې د زعامت د تمرین لپاره په سیاسي بیرو کې دنوراحمدنور پر ځای د تشکیلاتو او امنیتي ځواکونو دمسؤل په توګه وګومارلو چې پدې موده کې خپل پلویان په کلیدي ګوندي اوامنیتي پوستونو وګوماري اودڅه مودې وروسته یې د1365کال دثور په څوارلسمه دګونددعمومي منشي په توګه په اتلسم پلنوم کې پداسې شېبوکې دپلنوم په برخه والو تحمیل کړ چې دارګ اومرکزي کمېټې مخې ته دکارمل پلویانو احتجاجیه غونډه لرله .

دنجیب دټاکل کېدو وروسته دمسکو په هدایت دملي روغې جوړې دتګلارې په جوړولو کار پیل شو.پدې اړه په افغانستان کې د شوروي لښکرو وروستی قوماندان ګروموف لیکي : " دافغانستان د خلک دموکراتیک ګوند دعمومي منشي په توګه دنجیب الله په ټاکنو سره دشوروي ګوندي سلاکارانوپه مرسته نوې ستراتیژي جوړه شوه چې موخه یې دهېواددکورنی مخامختیاله منځه وړل و. دا ستراتیژي په ټوله نړۍ کې دملي پخلاینې (ملي روغې جوړې) تګلارې په نامه شهرت وموند. (ارتش سرخ درافغانستان، مخ 192 )

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه سلینکین شوروي ختیځ پېژندونکی او لیکوال لیکي: " داوازو خلاف نه ده (نجیب الله ) نه کوم بل افغان مشر دملي روغې جوړې تګلاره طرحه کړه ، دملي روغې جوړې سناریودکرملن دچارواکو په دستورلیکل شوې وه اوافغاني لوری یې یوعادي پلې کونکی و." افغانستان درمنګنه ژئو پولتیک ، مخ 30)

پدې هکله میرصاحب کاروال دګوند د سیاسي بیرو غړی اومنشی ورته نظر لري او وایي چې د ملي روغې جوړې تګلاره په مسکوکې جوړه شوه ، له روسي ژبې په تاجکي وژباړل شوه اودافغانانو په واک کې کېښودل شوه.

دپاسنیو دریو تنو له څرګندونو څخه ښکاري چې دملي پخلاینې دتګلارې نوښتګر اوطراح کابل نه بلکې مسکو و اونجیب داتګلاره د شورویانو دارادې او فشار له مخې ګام په ګام پلې کوله. له بده مرغه کوم ملت چې تاریخ نه لولي اویا له تاریخي تجربو ګټه نه پورته کوي تاریخي پېښې بیا تجربه کوي. موږ وینو چې غني هماغه د نجیب تجربه تکراروي او د امریکایانو له لوري طرحه شوې د سولې نخشه اوهغه هم په فشار پلې کوي. نجیب د خپل واک په لومړیو کې فکر کاوه چې شورویان له افغانستان څخه نه وځي همدا لامل و چې پدې اړه یې جدي ګامونه نه اوچتول. سربېره پردې نجیب دا تمه لرله چې تنظیمونه به له مخالفت اوجګړولاس واخلي او د ده ترمشرۍ لاندې د دولت سره همکاري وکړي خوچې کله یې داخوب اوخیال عملي جامه وانه غوستله اړشوچې د واک څخه ګوښه کېدو اولنډ مهاله اداري جوړېدو ته غاړه کېږدي خو کارملیانو ددې پلان مخه ډب کړه .نن هم غني تمه لري چې طالبان به د حکمتیارپه څېر دده ترزعامت لاندې په حکومت کې مدغم شي.

له بده مرغه د ملي روغې جوړې تګلاره په خورا مفتضحانه توګه ماتې وخوړله . د ملي پخلاینې دتګلارې ماتې ګڼ شمېرلاملونه لرل ، اصلي لامل

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې دا و چې نجيب دا درک نکړل چې شورويانو د ژنيو توافقاتو ته پدې موخه غاړه کېښودله چې د خپلو پوځيانو د شرافتمندانه وتلو لپاره لاره هواره کړي دا چې د شوروي لښکرو د وتلو وروسته په افغانستان کې څه پېښېږي اند ښنه نلرله. خو کارمل د پاخه سياستوال په توګه د مسکو پدې موخه ښه پوهيده. البته دا د دې معنی نلري چې د شوروي لښکر وتل سمه پرېکړه نه وه . هغه مهال مسکو او واشنګتن ته د ژنيو د توافقنامې د تضمين کونکو په توګه په کار وو چې اسلام آباد او تهران يې اړ ايستلي وای چې تنظيمونه دافغانستان دحکومت سره سوله وکړي.

همدارنګه دملي روغې جوړې دتګلارې ناکامي د نجيب په نه وړتيا کې هم بايدولټول شي ،هغه دا وړتيا نلرله چې واکمن ګوند او خپل سياسي متحدين د ملي روغې جوړې د تګلارې د پلې کولولپاره يوه خوله او متشکل کړي بلکې بلا استثنی ټول د ده سره په مخالفت کې ودرېدل. البته د نجيب اوپراتيفي لوبو (دنښ اونوش ، ځپلو او نازولو) پايله دا شوه چې ټول مخ ترې واړوي.

نجيب خپل يوازيتوب درک کړی و او ميرصاحب کاروال ته يې ويلې و : " زه په سياسي بيرو کې هېڅ دوست نلرم ، هغوی ټولو د دښمن په څېر زما په وړاندې دريځ نيولی ، زه يوازې يم. " دګوند په لوړ لارښونکي ارګان (سياسي بېرو )کې يې پلويان يعقوبي ،لايق ، وطنجار او انجينرنظرمحمد وو. په وروستيو کې يعقوبي اولايق هم ترې خوابدي و او د دوو خلقيانو (وطنجار او نظرمحمد) غوښتنو ته يې د خلکو خبره د توت ارزښت هم نه ورکاوه او دا خلقي مشران په خلقيانو کې داړين اعتبار او اغېز څخه برخمن نه وو. خو بيا هم نجيب پخپلو کړنو بيا کتنه ونکړه بلکې هم د واکمن ګوند د خلقي اوپرچمي مشرانو او هم د سياسي متحدينو خلاف ګامونه اوچتول.

د کارمل پلويان چې اطاعت ته اړباسي بنديانول ، له څه مودې بندوروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزادول او د خوشالولو په موخه يې په لوړو مقامونو ګومارل. نجيب ته سياست اوسياسي لوبې، اوپراتيفي استخباراتي لوبې برېښېدې او پدې نه پوهېده چې دا ډول دريځ دی په بشپړ ډول تجريدوي او د ده په وړاندې حساسيتونه اومخالفتونه د دښمنۍ اوغچ اخېستنې ترکچې رسوي. محمود بريالي دکارمل ورور د بندي کېدو وروسته خپلو ملګرو ته ويلي و " نجيب په زندان کې پر ما ډېره پرېښودله اوقسم خورم چې په ده به هم ډېره پرېږدم".

د تنې دکودتا په پلمه يې خلقيان له ډګره واېستل اوپه واکمنۍ کې پاتې بې رينبې خلقيان هم ترې خوابدي وو. عجيبه لا دا وه چې محمدظاهر افق د "جمعيت انقلابي زحمتکشان افغانستان" مشر يې هم د تنې دکودتا په تور لکه د خلقيانو د مشرانو اوکدرونو په څېر بندي کړ. نجيب د واکمن ګوند او سياسي متحدينو سره دا ډول دښمنانه چلند اواپراتيفي لوبې پداسې يوه حساس وخت کې پرمخ وړلې چې دملي روغې جوړې پېچلې تګلاره هم عملي کړي .کله چې نجيب په خپل کور (ګوند ) کې روغه جوړه ونشوای کړای ، سياسي متحدين يې هم راضي نکړل بېله کومه شکه داتګلاره بايد له ماتې اوناکامۍ سره مخامخ شوې وای چې ناکامه هم شوله خو بيه يې افغان اولس پرې کړه.

که دنجيب دپلويانو دا ادعا ومنل شي چې د ملي روغې جوړې نوښتګر او طراح نجيب و چې دا ادعا بې بنسټه ده خوبيا هم وليدل شول چې دا طرحه عملي نه وه ، نيمګړې وه ، هېڅا ورسره ونه منله يا داچې د هغې د پلې کولو وړتيا يې نلرله اوله ماتې سره مخامخ شوه .پردې بنسټ ديوې غلطې طرحې طراح اود دې طرحې ناکام پلې کونکی که ستايل کېږي اوهغه ته اتل ويل کېږي دخندا وړخبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتل یا! ...

دافغانستان درواني غمیزې پر مهال داتلانو د جوړولو لړۍ په خورا درز روانه ده. سیاسي کړۍ اوقومي سوداګر خپل خیالي اتلان جوړوي . یو د دغو اتلانو څخه نجیب الله دی چې ارادتمندانو یې سرکال غوښتل یا هڅول شوي وو د نوموړي د مرګ څلورویشتم تلین دلوېې جرګې په خیمه کې ونمانځي چې څرګندو اوناڅرګندو کړیو یې مخه ونیوله . د دې لپاره چې وپوهېږو اتل څوک دی پدې لیکنه کې به پرې بحث وشي .

د اتل (hero) کلمه په لرغوني یونان کې زړور ، ځوان او د مینې له ادب سره آشنا انسان او زیاتره سیاستوالو اوښوونکو ته کارول کېده. اتل هغه چا ته ویل کېدل چې خبرې اوکړنې یې نوروته الهام ورکونکې وې .د خبرو په وخت کې یې خبرې او د عمل په وخت کې عمل کاوه. خلاصه دا چې اتل د یوه فوق العاده کار ترسره کونکي ته ویل کېدل .

خوکه د نجیب مخینې اوکارنامو ته وکتل شي کوم فوق العاده کار یې نه دی کړی چې نوموړي ته اتل وویل شي. د نوموړي عجیبه کارنامه داوه چې بدنامه جګړه مار عبدالرشید دوستم ته یې د اتل لقب ورکړ. د نجیب دا ډول نوښت د دې لامل وګرځېد چې دا ملي ضد لړۍ ترننه دوام ومومي اوهغه کسانو ته د اتلانو ویاړلي لقبونه ورکول کېږي کوم چې د اشغال اردلیان، جګړه ماران ، جاسوسان، لوټماران اود خپلو خلکوقاتلان دي .

د نجیب پلویان د لاندې دلایلو له امله نوموړی اتل ګڼي :

١ . دملي روغې جوړې نوښتګر(طراح)

٢ . دتنظیونو دواکمنېدو د وحشت اوبربریت وړاندوېینه

٣ . پاکستان ضد

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ . د " یا وطن یا کفن " دښکلي شعار وړاندې کونکی

۵ . دجلال آباد د جګړې ګټونکی

د «ملي روغې جوړې» په اړه دلیکنو ددې لړۍ په اومه برخه کې راغلي و چې دهغې طراح نجیب نه بلکې مسکوو. پر دې بنسټ د نجیب د پلویانو دا ادعا بې بنسټه اوله واقعیت سره هېڅ سر نه خوري.

د دوهم دلیل په هکله باید وویل شي چې د شوروي د اشغال پرمهال د تنظیمونو دمشرانو ځانغوښتنې ،دښمنۍ اوپه تېره د حکمتیار اوربانی د تنظیمونو خپل منځي جګړو ته په کتو سره ډېری پدې پوهېدل چې که تنظیمونه واک ته ورسیږي لکه د ګورچنجیان به سره وخوري. پدې هکله سید بهاوالدین مجروح د شوروي د اشغال پای داسې کاږي: " بېلابېل تنظیمونه به دافغانستان د مړه اولوېدلي جسد له پاسه سره وخوري.".که د تنظیمونو د وحشت او بربریت دوړاندوېینې له امله نجیب د بصیرت خاوند او اتل بلل کېږي نو رښتینی اتل سید بهاوالین مجروح او نور افغان څېړونکي دي چې مخکې له نجیب څخه یې د تنظیمونو د وحشت وړاندوېینه کړې وه.

که دپاکستان ضد څرګندونې د اتلولۍ معیاروي د شمال تلوالې لوټمار ان ، ټامیان اود اشغال اردلیان پاکستاني ضد ویناوې کوي. پر دې بنسټ د شمال ټلوالې لوټماران ،ټامیان اواردلیان ټول اتلان دي .

د نجیب پلویان د طالبانو له لوري د نجیب بېله محاکمې وژنې او د هغه د جسد ننداري ته اېښودل هم د نجیب سره د پاکستان متقابله دښمني ګڼي .

پدې اړه باید وویل شي چې د یوه معمولي انسان بېله محاکمې وژنه د منلو وړنه ده خو د نجیب د خاد دریاست پرمهال هم زرګونه افغانان ووژل شول او شکنجه شول. نجیب په 1359 کال کې په هرات کې په یوه شپه د څلوروسوو تنو شاوخوا تسلیم شوي وسلوال مخالفین بېله محاکمې ووژل. د نجیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلویان د دې اسیرانو بېله محکمې وژنې ته اتلولي وایي یا جنایت ؟ آیا د دې ګڼ شمېر قربانیانو خپلوانو او عقیدتي ملګرو د نجیب څخه د غچ اخېستلو هوډ نه درلود ؟

د نجیب پلویان د خپل اتل داسې کارنامه چې د یوه اتل ربښتینی انځور راوښیي نشي ښودلای ، دوی یوازې د نوموړي ویناوې اوشعارونه د هغه د اتلولی معیار ګڼي. دوی باید وپوهیږي چې ویل، کړل نه دي.ټول دیکتاتوران اوګوډاګیان خورا ښکلې ویناوې لري. د هغوی ښکلې ویناوې د هغوی د اتلولۍ او وطنپالنې معیار نه دی د اتلولۍ اووطنپالنې معیار د هغوی عمل دی.

اوس به د نجیب کارنامو ته چې د هغې په ترڅ کې به د هغه د " یاوطن یا کفن "شعاراو د جلال آبادجګړې ته هم ګوته ونیول شي ځغلنده کتنه وکړو.

د دې څرګندونو پر بنسټ به قضاوت وکړو چې نجیب اتل و یا ! ....

نجیب د شوروي د اشغال سره جوخت دهېواد د څارګرې ادارې (خاد) مشر شو هغه اداره چې اصلي دنده یې د اشغال ضد افغانانو په ګوته کول ،څارل ، نیول ،د توروتمبو ترشا درول او د هغوی چانواري کول وو .که د دې ادارې مسؤلیتونو ته وکتل شي د اشغال په چوپړ کې ولاړه اداره وه. لدې امله د دې ملي ضد بنسټ مشر ته اتل ویل ستره بې انصافي ده. پدې اداره کې د نجیب د ښه ځلېدو له امله مسکو هغه د کارمل په ځای ولسمشر کړ .

په تېره لیکنه کې مو ولیدل چې نجیب ټول ګامونه د شوروي سلاکارانو د دستورونو له مخې اېښودل، پردې بنسټ د اشغالګرو د دستورونو پلي کونکی ولسمشر لاسپوڅی دی نه اتل .که د چا څخه د داسې یوه سیاستوال په اړه وپوښتل شي سمدلاسه به ووایي چې داسې سیاستوال یو ګوډاګی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نجیب پلویان په خپلو څرګندونو کې د خپل خیالي اتل د مشهور شعار " یاوطن یا کفن "او د جلال آباد د جګړې یادونه کوي.
ببله ویلو څرګنده ده چې دجګړې برخلیک د هغو قوماندانو او پوځیانو له کړنو سره تړاولري چې د جګړې په تاوده ډګر کې خولې او وینې تویوي نه په مانیو کې ناست چارواکي. د جلال آباد په جګړه کې سلګونه پوځیان شهیدان شول او ژوندیو یې له جلال آباد څخه په مېړانه دفاع وکړه ،پر پاکستاني ملیشو ، عرب جنګیالیو اود هغوی افغان ملګرو د ځمکې اوهوا مرګوني ګوزارونه وکړل ، شاتګ اوتېښتې ته یې اړ اېستل . که خبره د اتل وي د جلال آباد د جګړې هر برخه وال اتل دی . که خبره د جلال آباد د جګړې د اتلانو کېږي هغه به د وخت د دفاع وزیر شهنوازتنی اوهغه پیلوټان وي چې د جلال آباد د هوایي ډګر د پرواز د لیکې ( خط) په یوه سر کې مخالفینو او په بل سرکې یې د وسلوال پوځ پوځیانو مورچلونه نیولې وو ببله وېرې په هلیکوپتر کې کښته کېږي ترڅو د پوځي عملیاتو د قرارګاه هیئت ته د ښار د دفاع اړین دستورونه ورکړي. مخکې لدې چې دا کرښې ولیکم د 377 د هلیکوپتر د غنډ له هغه باتور پیلوټ ښاغلي احسان سره ټلفوني خبرې وکړې چې تنی یې جلال آباد اوبېرته کابل ته رسولی و .
د هېوادونو ترمنځ جګړو کې چا دولتي مشرانو ته نه بلکې زړورو قوماندانانو او نومیالیو پوځیانو ته د اتلانو لقبونه ورکړې دي خو د افغانستان د عجایبو په ټاټوبي کې د جلال آباد د جګړې اتل ولسمشر بلل کېږي نه د دفاع وزیر یا د جبهې وتلی قوماندان یا بل کوم د خپل سرڅخه تېر پیلوټ یا سرتېری .
نجیب د صحت عامې په څلورلارې کې د انقلاب سپاهیانو ته په وینا کې د " یاوطن یا کفن" ښکلی شعار چې یو الهام ورکونکی شعارو ورکړ . شعار ورکول د عمل کولو معنی نلري. که نجیب دې شعار ته ژمن وای خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ ته به يې د هندوستان په (پونه) کې ښکلې ماڼۍ نه پېرله اوکورنۍ به يې هلته نه استوله . دا د دې معنی لرله چې نجيب د وطن د دفاع په موخه نوروته کفن غوښت خو خپلو عزيزانو ته يې په هندوستان کې سوکاله ژوند ترڅو دکوم توغندي ښکارنشي او د احتمالي خطر څخه خوندي وي. د دې څخه ښکاري چې نجيب نه د "يا وطن ياکفن" په شعار او نه د ملي پخلاينې د تګلارې په بريا باور درلود. که په هوايي ډګرکې يې د تېښتې مخه نه واى نيول شوې د هندوستان څخه به يې د تنظيمونو د وحشت اوخپلمنځي جګړو له امله د تلويزيون په پرده د خپلو وطنوالو په وينو رنګ د سرو کفنونو ننداره کوله. د نجيب د ناکامې تېښتې هڅې وښودل چې هغه ته د" يا وطن يا کفن " شعار نه بلکې د "نه وطن نه کفن" شعارلارښود و.
موږ وليدل کله چې نجيب خپل ژوند ته ګواښ احساس کړ بېله دې چې د واکمن ګوند د مشرتابه او خپلې کابينې سره مشوره وکړي د سليمان لايق په وينا لکه غله غوښتل د شپې په تياره کې له هېواد څخه وتښتي چې خپلو پرچمي ملګرو يې د نوموړي د دې بزدلانه تېښتې مخه ونيوله. د ليکوال له انده د نجيب د پرچمي ملګرو يوازېنی معقول کار همدا و چې د نجيب د تېښتې مخه يې ونيوله.
د تاريخ په اوږدو کې دااتل لقب هغه زړور، پرخپل نفس اوځان متکي فرد ته ورکړل شوی چې په خورا سختو شېبوکې يې له ځانه يوفوق العاده استثنايي عمل ښودلی وي. دا د دې معنی لري چې اتل زړور، نه تښتېدونکی اونه تسليمېدونکی شخصيت دی. څرنګه به نجيب ته اتل وويل شي چې د برحال ولسمشر په توګه د يوه داسې وضعيت سره د مخامخ کېدو له امله چې د ده ژوند اويا نظام شتون له ګواښ سره مخ وي بېله دې چې دامنيتي ادارو له مشرتابه سره د خطر د له منځه وړلو په موخه مشوره وکړي ، خپل باراوبستره تړي او وطن څخه د تېښتې هڅه کوي. دا د زړور

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مدبر مشر ځانګړتیا نه بلکې د یوه ډارن اوبې تدبیره مشرځانګړتیا ده چې دا ډول مشر هېڅکله اتل نشي کېدای. اتل له ډګره نه تښتي بلکې په سړه سینه او پوره تدبیر سره شاتګ کوي او د متقابل برید لپاره چمتووالی نیسي . اتل ولسمشران دامریکا په شان د سوپر ځواک د ګواښونو او اخطارونو له وېرې لکه صدام حسین ، معمرالقذافي او بشارالاسد خپل هېواد نه پرېږدي بلکې ترمرګه اویا تر بري پورې د وخت د فرعون په وړاندې جنګېږي .صدام ، قذافي اواسد د"یا وطن یا کفن" دشعار دپلې کولورښتیني سمبولونه دي. دوو لومړیو د وطن په خاطر کفن ومنلو او دریم اوه کاله د خپل وطن څخه ساتنه کوي. خوزموږ اتل !؟ ولسمشر د څلوروتنو جنرالانو له پټکو وروسته د وطن څخه تېښتې ته ملاوتړله ، دتېښتې وس یې هم نه درلود اود م،م دفتر ته د یوه فراري او تسلیمي ولسمشر په توګه خپل برخلیک پردیو ته وسپارلو.

نجیب یوه ورځ پارلمان ته په وینا کې ویلي و : "زه مګنیستوهایل مارین دایتوپیا جمهوررئیس نه یم چې دکورنیو ګواښونو له امله وتښتم "خو دې مېړني!؟ د مګنیستو په شان دتېښتې هڅه وکړه. دا بیا ښیي چې ښکلې ویناوې ، په زړه پورې شعارونه او د حماسي او وطني شعرونو ویل د وطنپالنې اواتلولۍ معیارونه نه دي د وطنپالنې معیار عمل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داته ویشت کلن خوب څخه راویښ شوي مبارزان

د 1371 کال د حمل په شپږ ویشتمه برحال ولسمشرنجیب په کابل کې د م،م دفتر ته پناه یوړله.خو تراوسه دده دپناه وړلو لامل څرګند نشو .که څه هم نجیب څلورکاله دم،م په دفتر کې ژوندکاوه، دوستان اوخپلوان یې لیدو ته ورتلل خو د نجیب د یوه خواخوږي څخه چا ندي اوربدلي چې ولې نجیب دم،م دفترته پناه یوړله اوده هم پدې څلورو کلونوکې خپلې خاطرې ونه لیکلې چې افغانان پوهېدلي وای چې هغه ولې تېښتې ته اړشو؟ دا څلور کاله نوموړي ته ښه فرصت وچې د خپل ژوندخاطرې ، د خاد د شهکاریو او د خپل حکومت د بریاوو، ناکامیو ،تېروتنو اود ملي پخلاینې د تګلارې په وړاندې پرتو ستونزو، د خپلې ناکامې تېښتې په اړه معلومات ورکړی وای تر څوراتلونکو نسلونوترې زده کړه کړې وای. خوداسې ښکاري چې ښاغلي د ویلو داسې څه نلرل چې نوموړی پرې وویاړي . د نوموړي د دفتر مشر اسحق توخي هم پدې اړه څه نه وایي او نه غواړي د پرچمیانو خپلمنځي دا پټ راز افشاه کړي. پدې اړه ویل کیږي چې نجیب ته د سترجنرال محمدنبي عظیمي په مشرۍ د څلورو تنو پرچمي جنرالانو د ورتګ وروسته نجیب اړ شو چې د"قرار پر ځای فرار "ته مخه کړي. داچې پدې وروستۍ کتنه کې دوی پر کومو مسئلو جوړ رانغلل او د نجیب څخه کارمل پلوو جنرالانو څه غوښتل افغانان به هېڅکله پوه نشي. پدې اړه د دې خبرې یادول اړین بربښي چې د نجیب پلویان د نوموړي تېښته نه مني او وایي چې د بینن سیوان هرکلي ته ورغلی و. دوی دې ته پام نه راګرزوي چې د سیوان هرکلي ته باید د بهرنیو چاروکوم مامور ورشي نه ولسمشر . که ولسمشر هم ورځي په خپل موټر کې باید ورشي نه د م،م په موټروکې د باراوبسترې سره. د دې څخه ښکاري چې هم د نجیب پلویان او هم کارملیان یا په بل عبارت د پرچم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرتابه د حقايقو د ويلو ډېره کوي ترڅو د دوی د خاينانه معاملو څخه پرده پورته نشي.

نجيب د حمل په شپږويشتمه د م،م دفتر ته پناه يوړله چې د ده ملګري د نظام ګرځونکي و. د وسلوالو ځواکونو مشران ( محمداسلم وطنجار، راز محمد پکتين ، غلام فاروق يعقوبي ) د ده باوري کسان وو، د دولتي امنيت وزارت جوړونکي په خپله نجيب و اوګڼ شمېر جګپوړي د ده غوره ياران وو.خو هغوی د نجيب په ملاتړ او د کارمليانو خلاف هېڅ ګام اوچت نکړ . هغه مهال د نجيب ياران داسې چوپه خوله و چې اعتکاف يې کړی وي. د نجيب د پلويانو چوپتيا دوه لاملونه لري. يو دا چې هغوی ته نجيب څه چې د نظام او د افغانستان برخليک هېڅ ارزښت نه درلود او د خپلو ځوکيو په غم کې وو. دوهم داچې هغوی دا وړتيا نلرله چې د خپلو لوړو دولتي دريځونو څخه د قانون د واکمنۍ او نظام د ساتلو په موخه ګټه پورته کړي. دا بيا ښيي چې د نجيب شاوخوا جګپوړي د ده په څېر بې استعداده ، د ځوکيو ليوال او فرصت غوښتونکي وو. لکه څرنګه چې د ليکنو په پنځمه برخه کې راغلي و کله چې د پرچميانو خبره کېږي معنی يې کارمليان دي. د تني - ګلبيدين د کودتا په نامه د خلقيانو د ځپلو وروسته نجيب لکه مرغۍ د کارمليانو په منګلو کې پرېووت . ځو تنه خلقيان چې د نجيب ترڅنګ درېدلي وو کمزوري او په خلقيانو کې يې اعتبار نه درلود. ښه بېلګه يې د نجيب د پناه اخېستنې سبا ورځ د وطن ګوند په اجرائيه بيروکې د نويو حالاتو جاج اخېستنه وه او د کارمليانو د کودتا په وړاندې د دفاع او کورنيو چاروخلقي وزيرانو وطنجار اوپکتين خپله بېوسي پټه نکړه اوويې ويل چې هېڅ څه نشي کولای. د دوی همدې نه وړتيا ته په کتو سره کارمليانو د هغوی له ډګره اېستلو هڅه ونکړه او پوهېدل چې د کارمليانو په وړاندې ستونزې نشي جوړولای. د غلام فاروق

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعقوبي څخه د ويرې له امله يې هغه وواژه او اعلان يې کړل چې ځان يې وژلی دی.

د نجيب پلويانو د څلوروکلونو په ترڅ کې د افغانستان دننه او بهر د م،م او نورو نړيوالو بنسټونو ونه غوښتل چې نوموړي ته خپلې کورنۍ ته د تللو شرايط برابر کړي.

خو کله چې د 1375 کال د تلې (مېزان ) په پنځمه طالبانو نجيب چانواري کړ په مسکو کې د ناڅرګند آدرس څخه يوه اعلاميه خپره شوه چې د نجيب وژنه په کلکه پکې غندل شوې وه. دا د دې ښکارندوی دي چې دې ناڅرګند آدرس ددې اعلامیې وبشونکي د يوې وسيلې په توګه کارول ترڅو د طالبانو خلاف ګټه ترې پورته کړي . بېله شکه هغه مهال د دې اعلامیې ترشا د روسيې حکومت ولاړو چې د طالبانو په وړاندې يې د شمال د شر او فساد ټلوالې کلک ملاتړ کاوه.

د نجيب د وژنې څلورويشت کاله وروسته سږکال د هغه پلويانو هڅه وکړه يا که دقيق وويل شي وهڅول شول چې د لويې جرګې په خيمه کې د هغه د مرګ تلين ونمانځي. بېله کومه شکه پدې مراسموکې د نجيب د مرګ عاملان ( طالبان) غندل کېدل، هغه څه چې ارګ غوښتل. دا بيا ښيي چې د دې نمانځنې ترشا د سولې ضد کړۍ او د اشغال اردليان ولاړ دي او د نجيب له پلويانو څخه د افزارو په توګه کاراخلي.

پدې اړه دا پوښتنه راپيداکېږي چې دا اته ويشت کاله د نجيب پلويان ويده وو چې د م ،م د دفتر څخه د نوموړي وتلو ته لاره هواره کړې او يا يې د مرګ تلين ونمانځي؟

هېرنشي چې د طالبانو اوحکومت د خبرو د پيلېدو په درشل کې داسې ښې نښانې ترسترګو کېدلې چې ارګ هڅې پيل کړې چې د طالبانو ضد ځواکونه متحد کړي او پدې ډول په مذاکراتو کې د قوي دريځ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخمن شي. څه موده وړاندې د نجيب د قبرڅخه د ملي امنيت د شورا د سلاکار حمدالله محب زيارت يې ښه ښېلګه ده. محب هم د نجيب د پلويانو په څېر ناڅاپه راويښ شو چې د خدای بخښلي نجيب د قبر زيارت وکړي.
د تلين د نمانځلې په ورځ د نجيب پلويانو د لويې جرګې خيمې ته غزېدلو لارو کې دا اعلانونه او تبليغات کول او پر فېسبوک يې هم خپرول چې همدا ګړۍ امرالله صالح او حمدالله محب د لويې جرګې خيمې ته په لاره دي اوپه غونډه کې ګډون کوي. خو د دې نمانځنې يوه ورځ وړاندې د مجاهدينو ځېنو ډلو د يوې اعلاميې په خپرولو سره خبرداری ورکړی و که د نجيب تلين ونمانځل شي د هغه مخه به ونيسي. ظاهرأ دې اعلاميې حکومت ته پلمه ورکړه چې د نجيب پلويانو ته خيمې ته د ننوتلو اجازه ورنکړي. د نجيب قهرېدلو لسګونو پلويانو حکومت په دوه مخې تورنولو چې ولسمشر د نمانځنې فرمان هم ورکړی خواوس يې امنيتي مسولين د نمانځنې مخه نيسي. ځېنو لا دا ادعا کوله چې د تلين د نمانځنې نوښتګر او سمبالونکی ارګ و او دوی ته د ميلمنو په شان په غونډه کې د ګډون بلنه ورکړل شوې وه. دا د دې ښکارندوی دي چې د غني ټيم په طالبانو د فشار د راوړلو سربېره د اسلامپالو او چپيانو تر منځ د مخامختيا او ناندريو د جوړولو په موخه د نجيب د تلين د نمانځنې ډرامه جوړه کړې وه چې يوځل بيا د دې سيالو دښمنو ډلو پخوانۍ دښمنۍ تازه کړي .
له بده مرغه د غني د ټيم دا دسيسه بريالۍ هم وه او يوه اونۍ وروسته جهادي ډلو په کابل کې ستر لاريون سمبال کړ چې د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند خلاف يې شعارونه ورکول او د نوموړي ګوند د مشرانو په انځورونو يې چليپاوې کښلې وي. په مقابل کې دا ، خ، د ،ګ د ګېډې څخه راوتلو ډلو او فعالانو هم په ټولنيزورسنيو کې د جهادي تنظيمونو خلاف توندې څرګندونې لرلې. تر دې چې په پروني د ا ،خ ،د ،ګ کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجیب خلقي او پرچمي مخالفان هم د نجیب د پلویانو په ملاتړ ودرېدل . دې حالت وښودل چې لا تر اوسه زموږ سیاسي فعالان د ښي او چپ ، اخواني اوانقلابي په منفي سیالیو کې ښکېل اوککړدي، د تېرو ترخو تجربو یې زده کړه نه ده کړې او د هېواد د ننیو نازکو اوحساسو شرایطو د درک وړتیا نلري هغه څه چې د خواشینۍ وړیوتریخ واقعیت دی.
د نجیب الله ځوان پلویان چې یا د نجیب د دسترخوان د یارانو زامن ،لونې او خپلوان دي اویا د نجیب په ښکلو ویناوو تېروتي دي ، دوی ته ښایي د خپل اتل د دسترخوان له یارانو چې د نجیب د واکمنۍ ملکي او پوځي لوړ پوړي او د دولتي امنیت (خاد) کارکونکي وو، پوښتنې وکړي چې دوی ولې د کارملیانو دکودتا په وړاندې د نجیب دفاع ونکړه ، د م،م له دفتر څخه خپلې کورنۍ ته د تللو لاره هواره نکړه چې ونه وژل شي ؟دا اته ویشت کاله په څه لګیاوو چې اوس یې د مرګ تلین نمانځي ؟ د هغه پټ راز پوښتنه هم ترې وکړي چې ولې نجیب تېښتې ته اړ شو او د نجیب دې خواخوږو ولې د نجیب د ژوندي پاتې کېدو په موخه هڅه ونکړه خو په مرګ یې اوښکې تویوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نجیب پلوي خلقیان څوک دي؟

ددې لیکنودلړۍ په دوهمه اودریمه برخه کې راغلي وچې دا ، خ،د ،ګ په نامه ګوند اته ویشت کلن شتون ښیي چې دا ګوندهېڅکله هم یو موټی واحدګوندنه وبلکې ددووسیالو دښمنو ډلو(پرچم اوخلق) څخه جوړشوی یو سیاسي جوړښت و چې دیوبل خلاف دتوطئواو دسیسو ، د ناکامو اوبریالیو کودتایي هڅو اودیوبل د غړو او کدرونو د زنداني کولو ، وژنو او تبعیدونو مخینه لري .دسیاسي ګوند په نامه ددې ټلوالې داډول له دښمنۍ ډک تاریخ ته په کتوسره داپوښتنه پیدا کیږي چې ولې یوشمېر خلقي مشران د 1369 کال دکب د شپاړسم پوځي ټکر په مهال د نجیب ترڅنګ ودرېدل؟

مخکې لدې چې پاسنۍ پوښتنې ته ځواب ووایو باید وویل شي چې د پوځي ټکر په درشل کې د ا ، خ، د ،ګ په نامه دخلق اوپرچم د ټلوالې د رهبري ارګان ( مرکزي کمېټې) د 130 تنوغړو څخه یې یوازې دېرش خلقیان وو. د دې دیرشو تنو څخه دری تنه ( محمداسلم وطنجار، انجینرنظرمحمد ، رازمحمد پکتین) او د امین د پلویانو په نامه له بندڅخه راخلاص شوي یوشمېرمشران هم د نجیب سره ودرېدل .د نجیب سره د دې دواړو ډلو ملګرتیا حکومت ته جرئت ورکړچې په خلقیانو برید وکړي. په کودتا یا دپوځي ټکر پرمهال د حکومت په ګټه د نجیب پلوه خلقیانو رول ته په کتو سره هغوی په نقده پیسو ، فوق العاده رتبو اومډالونو ونازول شول او ځینې یې شوروي اتحاد ته دهواخورۍ اواستراحت لپاره هم واستول شول .

یوه دوست کیسه کوله چې د نجیب د دغو باوري خلقي پوځیانو چې د خپلو ملګرو په ځپلو کې ښه ځلېدلي و او پرېمانه پیسې یې ترلاسه کړې وې، ویلي و چې په اختر کې لږ ملګري یې لیدو ته ورغلي دي .هغه ورته ویلي و علت

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې دادی چې نوي کوچونه (فرنیچر) دي اخېستې دي ، موخه يې بادراوړې پېسې وې.

پدې واقعیت نه یوازې د نظام دننه بلکې جهادي تنظیمونه هم پوهېدل .پدې اړه داسلامي جمعیت غړی محمداکرام اندیشمند لیکي " :دکودتا په ناکامۍ کې د پرچم ډولو ډلو او د خلقیانو په اړخ کې د حفیظ الله امین او د اسلم وطنجار او راز محمد پکتین پلویانو رول درلود."( سال های تجاوز ومقاومت ، مخ 110 )

غلام دستګیر پنجشېری د نوموړي ګوند يومشرهم د نجیب سره درېدلې خلقیان د زندان څخه راوتلي دامین پلویان اودخلق دفرکسیون د زرمل(زرمت) دری تنه مشران معرفي کوي. میرصاحب کاروال ددې ګوند بل مشرد نجیب خلقي پلویان داسې راپېژني :"...له بله پلوه دسلیمان لایق ترمشرۍ لاندې یوه نوې سیمه ئیزه نشنلستي ډله لکه انجینر نظرمحمد ،اسلم وطنجار،رازمحمدپکتین ،وزیري ، منوکی منګل ، اسدالله پیام ، مبین یې پرځان راټول کړل که وکولای شي په لازم فرصت کې يې دخلقیانو خلاف استعمال کړي وروسته له هغې په امین پورې تړلې ځېنې مشران لکه غوربندی، شرعي جوزجانی، شاه ولي ، فقیرمحمدفقیر ،خیال محمدکټوازی اوحتی عبدالکریم میثاق اونور ټاکلوسیاسي موخوته درسېدو په خاطرورسره یوځای کېږي".

ددې خبرې یادول اړین برېښي چې دحفیظ الله امین په پلویانو کې محمودسوما ، منصور هاشمي او عبدالرشید جلیلي دنجیب د دسیسو اواستخباراتي لوبو ښکارنه شول.

دپورتنیو څرګندونوپربنسټ اود ګڼ شمېرپخوانیو خلقیانو له انده دوه کټګورۍ خلقي مشران دنجیب سره ودرېدل :

الف - په اداري، مالي او اخلاقي فساد ککړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب - سیمه ئیز تړاو.

ددې مسألې دښې روښانتیا په موخه اړین بریښي چې دشوروي دخونړې پوځي یرغل وروسته په افغان دولت کې واکمنو حالاتو ته ورستانه شو. دیرغل وروسته چې ظاهراً پرچمیان واک ته ورسول شول اشغالګر پدې ښه پوهېدل چې خلقیان لدې امله له شورویانو کرکه لري چې په خپل پوځي یرغل سره یې دافغانستان د اشغال سربېره خلقیان بېواکه کړل.همدا لامل و چې له حسابه وتلو شوروي سلاکارانو او پرچمیانوبلا استثنی ټول خلقیان ځارل او په اداري، مالي اواخلاقي فساد ککړو خلقیانو یې سندونه راټولول. خاد ېستانو حتی په زندان کې دځېنو امین پلوه خلقیانو دشخصیت کمزوروا ړخونو اومخینې ته په کتوسره دهغوی څخه ناوړه ګټه پورته کوله چې غوره بېلګه یې سلطان احمدبهین د خلقیانو د استخباراتي اداري (کام) د سیاسي څانګې مشر و. د عبدالرشید جلیلي په وینا بهین په 1359 کال کې د لومړۍ ډلې خلقي اعدامیانو سره یوځای دپل چرخي له زندان څخه یوووړل شول ، نورټول اعدام خو بهین له څه مودې وروسته بېرته زندان ته راوستل شو اوخلقیانو ته په یوه سرخوږۍ واوښت .

کله چې په 1366 کال کې له افغانستان څخه دشوروي لښکرو وتل یقیني شول په دولت کې شریک خلقي مشرتابه ګرباچف ته یوه طرحه ولېږله چې په هغې کې له مسکوڅخه غوښتل شوي وترڅو په ګوند او دولت کې دخلقي اوپرچمي کدرونو په انډول کې توازن راولي ترڅو دشوروي پوځیانو دوتلو وروسته دهمکارۍ اړینه روحیه پیداشي .کرملن اوارګ ته دا ډول حالت چې خلقیان دیوه پیاوړي سیاسي ځواک په توګه را ځرګند شي دمنلو وړنه وواو هځې یې پدې راوګرزولې چې دخلقیانو په نامه سیاسي خوځښت شتون ته دتل لپاره دپای ټکي کېږدي .پربل اړخ مسکو نجیب وهڅولو ددفاع اوکورنیو چارو دوزارتونو په وړاندې دولتي امنیت (خاد)پیاوړی او قومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مليشې جوړې کړي ترڅو په لازم فرصت کې خلقيان پرې وځپي. داهم هېرنشي که شورويانواونجيب هرڅومره دولتي امنيت پياوړی کړی هم وای دځېنو خلقي مشرانو دهمکارۍ پرته نجيب هېڅکله هم په خلقيانو بريد نه کاوه .ځکه هغه مهال خلقيانو ليدل چې ټولو خلقي مشرانو دنجيب خلاف دريځ نيولی دی دوی هم دنجيب دحکومت سره دهمکارۍ ډډه کوله.لکه څرنګه چې هغه مهال د پوځ او څارندوی اصلي ځواک خلقيان وو، دپوځ اوڅارندوی له ليکوسره دخلقيانو پرېکون دنظام نسکورېدو ته شرايط برابرول.

کله چې دشورويانو اوپرچميانو دګډ پلان له مخې دخلقيانو دځپلو فرصت راورسېد ، پرچميانو په فساد ککړوخلقي مشرانو ته دهغوی دفساد دوسيې مخې ته کېښودلې اوځېنوته يې دهغوی دمالي اواداري فساد په اړه په غونډوکې يادونه وکړه .پرچميانو دې دوسيه لرونکوخلقيانو ته خبرداری ورکړ که دنجيب سره ونه دريږي ددوی سره به قانوني چلند وشي .دې خوارانو بله چاره نلرله ببله دې چې دنجيب سره ودريږي، دهغه هره خبره، هروړانديز اوهردستور ومني.

دوهم لامل دنجيب سره دځېنو خلقي مشرانو اومطرح کدرونو سيمه ئيز تړاو و چې غلام دستګير پنجشېری هغوی زرمليان ګڼي او ميرصاحب کاروال داډله نشنلستي سيمه ايزه کړۍ يادوي. له ياده ونه باسو چې دلويې پکتيا ، لوی کندهار ، لويې مشرقي ، شمال اوجنوب ، ډېرکيو او لږکيو، سنيانو اوشيعيه ګانو، پښتنو اوغير پښتنو ،درانيو اوغلزيو بېلونکی ويش ديوموټي افغانستان د دښمنانوافغاني ضد نخشه ده . لدې امله افغانانو ته نه ښايي ددې وېشونکوفکتورونو مبلغ اومجري شي. شوروي اشغالګرو پرون اواوسنيو نن د سياسي لوبوڅخه بې خبره سياستوالو له قومي ، قبيلوي ،ژبني ، مذهبي اوسيمه ئيزو تړاوونو ناوړه ګټه پورته کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تريوې کچې اشغالګر او دافغانستان رنګارنګ دښمنان پدې افغاني ضد کارکې تاکلې برياوې هم لرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا لعنتي پوځ باید دړې وړې شي!

افسري کدرونه د هرپوځ د ملاتیر جوړوي او د هغوی لیدلوری، رواني حالت او پوځي چمتووالی د پوځ په فعالیت مستقیم اغېزلري. زموږ په هېواد کې لومړنی پوځي پوهنیز بنسټ حربي ښونځی و چې د هېواد د هرقوم او توکم استازي پکې روزل کېدل. پدې بنسټ کې خورا سخت او له زغمه وتلي مقررات د دې سبب کېدل چې اکثرأ کلیوال تنکي ځوانان او د خوارو کورنیو استازي وکولای شي هلته خپلو زده کړو ته دوام ورکړي .پدې بنسټ کې د هېواد د ورونو قومونو ځوانان شپه او ورځ لکه د یوې کورنۍ په څېر ژوند کاوه چې دا ډول وضعیت دې ته لاره هواروله چې د ح،ښ څخه فارغ شوی پوځي کدر د یوه ژمن افغان په توګه چې قوم او نژاد ، ژبه او د مذهب توپیر ورته ارزښت نلري پوځي چوپړ ته چمتوشي. خو کله چې د 1358 کال د جدي د شپږمې وروسته پوځیانو او په تېره قوماندانانو چې اکثریت یې خلقیان وو او د ح،ښ له مدرسې وتلي وو په خپل هېواد کې پردۍ لښکرې ولیدلې، ځانونه یې سپک اوتوهین شوي وګڼل او د شوروي سلاکارانو امراونهې ته یې غاړه نه اېښودله. له همدې امله شورویانو غوره دا وګڼله چې د هغوی پر ځای پرچمیان مقرر کړي او له بله اړخه یې د پرچم د لیکو د پیاوړي کولو پروګرام هم ترلاس لاندې ونیو. خلقیانو د دې دواړو نقشو په وړاندې مقاومت ښود. د ساري په توګه د شوروي اشغال په لومړیو کې د غزني د څوارلسمې فرقې د قوماندان جعفرسرتیر پر ځای یې پرچمي عبدالصبور مقرر کړ خو د فرقې افسرانو نوی قوماندان نه منلو ترڅو مرکز بل خلقی قوماندان هلته وګومارلو. کی جی بی د افغان پوځ حالت څارلو لکه څرنګه چې د کارمل لومړي پوځي سلاکار په مسکو کې د کی جی بی مشر اندرپوف ته د رپوټ ورکولو په مهال وایي : "د پرچم د غړو شمېر اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو زراو پنځه سوو تنو ته رسېدلی دی دا د سر سر کسان ممتاز وګڼي دي او په عمومي توګه په پلازمېنه کابل ، وزارتونو ، مرکزي کمېټه ، ادارو او ولایتي مرکزونو کې واک د همدوی په منګلو کې دی خوخلقیان دیارلس یا دیارلس نیم زره تنه دي چې په اردوکې اکثریت جوړوي ...، اندروپوف داسې هدایت ورکوي، خو اوس باید د پرچم پراختیا چټکه شي" . په افغانستان کې ربښتیا څه تېرېدل ؟ ، مخ (۲۲۹)

په پوځ کې د پرچم د غښتلتیا لپاره داسې پرېکړه وشوله چې د پوځ تعلیمي بنسټونو ته پرچمیانو ته د وفادارو ځوانانو پرته نورڅوک جذب نشي. د دې کار لپاره یې د اردو په سیاسي ریاست کې (پرچمي ډګرمن نری) موظف کړ چې د نوموړي د هوکړې وروسته ځوانان په تعلیمي موسسو کې نیول کېدل. خو د امنیتي وضعیت د خرابېدو له امله پرچمیانو ته د وفادارو ځوانانو موندل ستونزمن شول . همدا لامل و چې په 1360کال کې د تعلیمي موسسو دروازې د ټولو علاقمندانو په مخ پرانیستل شي چې بیاهم د بېوزلو افغانانو بچیان اردوته راتلل او د مسکو تمه چې پوځ پرچمي شي په واقعیت بدله نشوه .یوه ورځ په کابل کې د شوروي په سفارت کې داردو د ګوندي ترکیب په اړه لوی پوځي سلاکارد رپوټ ورکولو په ترڅ کې سفیر په قهر او غضب ویلي و: "دا پوځ ، دا لعنتي پوځ باید دړې وړې شي ... ! ، دا پوځ ټول خلقي دی." (په افغانستان کې ربښتیا څه تېرېدل؟( مخ 66 )

د شوروي اشغال په لومړیو کلونوکې اشغالګرو د پوځ د دړې وړې کولو پلان نه درلود بلکې په تدریج سره یې د پوځ د کمزوري کولو نخښه پلي کوله ترڅو په اړین وخت کې کمزوری "لعنتي پوځ دړې وړې کړي".

شورویانو د پوځ د کمزورولو لپاره لاندې ګامونه پورته کړل:

-د کورنیو چارو په وزارت کې د اپراتیفي او جنګي قطعاتو جوړول.

-د قومي ملیشو جوړول چې اکثراً د لږکیو قومونو څخه جوړېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د تسليمي قطعاتو په نامه د نويو وسلوالو جوړښتونو منځته راتګ (د مجاهدينو داړلې شوروي لښکرو او شوروي سلاکارانو جذبولې
-د دولتي امنيت وزارت په چوکات کې د بل پوځ جوړول.
پاسنيو جوړښتونو د پوځ په پرتله زيات امتيازات لرل .لدې امله عسکري مکلفيت ته جوړ ځوانان همدې جوړښتونو ته مخه کوله اوپدې ډول پوځ کمزوری کېده چې د دړې وړې کولو چاره يې آسانېدله.
کله چې د افغانانو د اتلوال مقاومت له امله شورويان اړشول د ژنېو لوزنامه لاسليک او د افغانستان څخه د خپلو لښکرو وتلو ته غاړه کېږدي اود ملي روغې جوړې تګلاره غوره شي.حکومت د مجاهدينو (اشرارو) د مختلفو تنظيمونو سره پټې اړيکې ونيولې خو د دې ليدنو کتنو بهير او پايلې د خلقيانو سره نه شريکېدلې . خو د ملي پخلاينې د تګلارې د اعلان له لومړيو څخه څرګنده وه چې تنظيمونه د ملي روغې جوړې تګلاره نه مني .مسکواو نجيب دې حالت ته په کتو سره دې پايلې ته ورسېدل چې واک د اسلامي جمعيت او د شيعيه تنظيمونو سره وويشي . هغه مهال د شيعيه تنظيمونو قرارګاوې چې په اتوګونومشهور وو په ايران کې وې يوازې د محمدآصف محسني تنظيم د ايرانيانو سره داختلاف له امله خپله قرارګاه کويټې ته لېږدولې وه . د دې لپاره چې د شيعيه ګوندونو سره جوړه وشي لومړی بايد د اګوندونه متحدشوي وای همدا لامل و چې نجيب د صدراعظم، سلطانعلي کشتمند ورور اسدالله کشتمند چې په ختة هزاره شيعيه و او په هنګري کې سفير و دمقام په تنزيل سره په تهران کې شارژدافير مقرر کړ او هغه اوه شيعيه تنظيمونه  د عبدالعلي مزاري په مشرۍ  د (حزب وحدت اسلامي افغانستان) په يوه واحد ګوندکې تنظيم کړل . پدې هکله فقيرمحمد ودان د نجيب له پلويانو څخه ليکي :" د وحدت حزب په يوه اپراتيفی لوبه کې د دولتی امنيت د وزارت په مالي اوتخنيکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امکاناتو او د ولسمشر په تائید جوړشو. «حقایق ، پندارها وکردارها» (مخ251) خو فقیر محمد ودان د دې اپراتیفي لوبې د څرنګوالي په اړه څه نه وايي. نجیب پدې کارسره شیعیه ګوندونو ته سترخدمت وکړ چې سره متحد یې کړل . معمولاُ څارګرې ادارې په خپلو وسلوالو مخالفینو کې اختلافونو ته لمن وهي او په هغوکې انشعابونه راوړي خو نجیب چې د خاد د څارګرې ادارې مشر هم پاتې شوی دی خپل وسلوال مخالفان سره متحدوي . دا هم د اتل نجیب له عجاییاتو څخه دي.
دلته لیدل کېږي چې نجیب په سیاست کې هم اپراتیفي لوبې کولې .خو نوموړی پدې نه پوهېده چې مسکو دی (نجیب) هغه څه ته هڅوي چې پایله یې د افغانستان تباهي ده .البته نجیب اړ و د مسکو هر دستور ومني ځکه هغه مسکو واک ته رسولی و . هغه مهال د مسکونخشه داسې وه چې په لومړي ګام کې د هېواد لړکیو پورې اړونده تنظیمونه سره متحدکړي ترڅود خپلې اصلي موخې پلې کولوته لاره هواره کړي چې واک لړکیو ته ولېږدوي او دا کار یې د شمال ټلوالې په جوړولو سره د 1371 کال د ثور په اتمه په بري سره ترسره کړ. ځینو ځیرکوخلقي پوځیانو لکه جنرال محمد آصف شور ، ډګروال محمدکبیر کاروانی او ډګروال محمدزي نیک مل د دې افغاني ضد بهیرګوابنونه لیدل او دې پایلې ته ورسېدل چې د مسکو - نجیب د دې نخشې په وړاندې ودرېږي . دوی د دفاع وزیر شهنوازتنې سره ګډه ژبه وموندله چې د دې پلان د پلې کېدو مخه ونیسي . پلان داسې و چې په پوځ کې د غنډ ترکچې قوماندانان د خلقي ډاډ منو افسرانو له جملې مقرر شي کوم چې د دفاع وزیر د هغوی د مقررولو واک درلود او پدې کاریې عملاُ لاس پورې کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د اپلان عملي شوی وای د پوځ د غنډونو اوکنډکونو د قوماندانانو د مخالفت سره د اشونې نه وه چې د1371 کال د ثور د اتمې ننګینه معامله پلې شي .

د هغه مهال له بهیرونو اوپېښو داسې ښکاري چې د تنې شوروي سلاکاران هم د نوموړي له دریغ سره همغږي وو . البته دا همغږي د خلقیانو او پرچمیانو ترمنځ اختلافونو ته د لمن وهلو په موخه وه.پربله خوا شوروي سلاکارانو نجیب هم د خلقیانو ګواښونو ته متوجه کاوه او هڅولو یې چې د خلقیانو د پیاوړتیا مخه ونیسي .

شورویانو ته د خلقیانو اوپرچمیانو کمزوري اومنفي اړخونه څرګند وو لدې کبله یې په خورا آسانۍ سره د هغو څخه ناوړه ګټه پورته کولای شوه. همدا لامل و چې دواړو اړخونوته یې لمسونکې معلومات ورکول . د بېلګې په توګه شوروي اړخ نجیب ته داسې معلومات ورکړل چې یو شمېر خلقي جنرالان اوافسران د حکمتیار داسلامي حزب د شفا د شبکې سره اړیکې لري ،د نظام په وړاندې توطئه کوي اوپدې اړه " د وسلوال پوځ د سرقوماندانۍ په غونډه کې د نجیب الله اویعقوبي له لوري لنډ ګزارش ورکول کېږي چې ګواکې دا توطئه د مشاورینو لخوا د کیهاني امکاناتو په استفادې سره کشف شوې ده."درس های تلخ وعبرت انګیز افغانستان ، مخ (195 )

پدې هکله عجیبه لا دا ده چې د دې توطئې په اړه د شوروي اتحاد په مرکزي ټلویزیون کې یادونه کېږي اویوه ورځ وروسته د کابل د تلویزیون له لارې همدا خبر خپرېږي.

پر بله خوا په مسکوکې افغان سفیر سید محمدګلابزوی ته د شوروي په بهرنیوچاروو‌زارت کې خبرداری ورکول کېږي " که چېرې د نجیب د امنیتي دستګاه د برید په وړاندې سوله ئیز مقاومت ونشي نجیب د منظم اردو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمزوري توب لپاره ښايي د خلقيانو اته سوه تنه غوره خلقي افسران د شفا ترنامه لاندې بنديان کړي اوپدې نيرنګ سره دځينو تنظيمي مشرانو د داخلي قوماندانانو سره د پردې شا د سياسي معاملو زمينه برابره کړي."( ظهور وزوال ح،د،خ،ا ، مخ144 )

د پاسنيو دوو بېلګو څخه ښکاري چې شورويانو د عوامو خبره غله ته ويل غلا وکړه اود کورخاوند ته يې ويل ويښ اوسه عمل کاوه . له بده مرغه نجيب اوتنې دواړو د مسکو پدې خاينانه لوبه ونه پوهېدل، د هېواد حساس اونازک شرايط يې درک نکړل، د جوړجاړي لاره يې غوره نکړه اوپه تېره نجيب د مسکو د ناسمو معلوماتو له مخې د تني واکونه محدود، د دفاع وزارت د ستونزو په حل کې يې ناغيرې کوله اويوشمېر خلقي افسران يې هغه هم د شورويانو د رپوټونو اوغوښتنو له مخې زنداني کړل اوپدې ډول يې د خلقيانو او پرچميانو ترمنځ تلپاتې بې باوري او دښمني لا زياته کړله.

نجيب د شورويانو د همدې لمسونکو منافقانه معلوماتو له مخې څوتنه خلقي جنرالان اوافسران بېله دې چې د دفاع وزير شهنوازتنې خبرکړي بنديان کړل چې دې پېښې د دفاع وزيراوجمهوررييس يا په بله خبره د خلقيانو او پرچميانو اړيکې لا خرابې کړې اود 1368 کال د قوس په دولسمه پدې اړوند او د اردو د نورو ستونزو په اړه د جمهوررييس او دفاع وزير په کتنه کې د توندو خبرو په تبادلې سره غونډه بې له کومې اړينې پايلې پای ته رسيږي . تنې د غونډې وروسته د دفاع وزارت قرارګاه ( دارالامان) ته په رسېدو سره پوځ ته د پوځي چمتووالي( پوځي احضارات) امرورکوي. سربېره پردې هماغه ماخوستن په پلازمېينه کې خپل باوري خلقي پوځيان چې جنرال محمدآصف شور او ډګروال محمدکبير کارواني هم پکې و دفاع وزارت ته راغواړي او دوی ته وايي چې" د ولسمشر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ډغرې وهلې دي او اوس څه وکړو؟" د غونډې د برخه والو د وړاندیزونواو نظریاتو په ترڅ کې آصف شور ویلي و چې " داکار باید نه وای شوی او اوس باید چټک پوځي اقدام وشي ."وزیر د دې وړاندیز په اړه ویلي و چې مرکزي کمېټې ځلېرویشت ساعته وخت غوښتی دی (موخه د خلقي اړخ د مرکزي کمېټې څخه دی). د تنې د دې خبرې په غبرګون کې آصف شور ویلي و: " ترملکه دې کړه ورکه دې کړه. او دا هم اضافه کوي ، دا د ګوندیانو کارنه دی ".ځلېرویشت ساعته څه چې ورځې او اوونۍ تېرې شوې خوتنې خپلو ملګرو ته د کوم عمل دستور ورنکړ.

د دفاع وزیر له خوا پوځ ته د تیارسۍ امر ورکول د ولسمشر په وړاندې بغاوت یا پاڅون دی او انتظار ابستل ځان وژنه او د خپلو ملګرو له برخلیک سره لوبې دي .که د احضاراتو څخه د تنې موخه داوه چې ولسمشر وپوهوي په پوځ کې چې خلقیان یې دملاتیر جوړوي له پامه ونه غورزوي اود هغوی خلاف کوم اقدام ونکړي دایې هم تېروتنه وه اوولسمشر دې بغاوت ته په کتوسره د داسې فرصت په تمه و اویا یې اړین تدبیرونه نیول چې یاغي وزیر اوملګري یې له ډګره وباسي. همدا لامل وچې څه دپاسه دریو میاشتو وروسته یې چې اړین احضارات ونیول، د دولتي امنیت او دوستمي ملیشو پر مټ په دفاع وزارت برید وکړ ګواکې چې د پاکستان یا ایران په دفاع وزارتونو یې برید کړی دی اوپدې ډول یې لسګونه تنه غوره خلقي افسران ووژل او سلګونه نوریې زنداني کړل. نجیب د ولسمشرپه توګه دا شونتیاوې لرلې چې د دې ناوړه پېښې مخه ونیسي، شهنوازتنې اوڅوتنه محدود ملګري یې لکه جنرال محمدآصف شور، ډګروال محمدکبیر کارواني ، ډګروال محمدزی نېک مل، ډګروال شهنواز شیواني ، ډګروال جعفرسرتېر او ډګروال فېروز بندي کړي.خو هغه په دفاع وزارت د وسلوال برید له لارې چې زیات ځاني او پرېمانه مالی تلفات یې لرل ، اوپایلې یې خورا ناوړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه جبرانېدونکې وې خلقیان کمزوري کړي خوپه واقعیت کې د مسکو افغاني ضد موخوته د رسېدولپاره وسلوال ځواکونه سره وجنګول.پدې کارسره یې هم پوځ کمزوری کړ، هم د کارملیانو په منګولو کې ولوېد اوهم یې د خپل حکومت ملي اونړیوال دریځ ته زیان ورساوه.

دا هم د یادولو وړبرېښي چې د تنې له خوا پوځ ته داحضاراتو د امرورکولو وروسته شوروي اړخ د منځګړي په توګه ډګرته راودانګل چې ګواکې د خلقیانو او پرچمیانو ترمنځ جوړه کوي خو عملاً یې په اورغوړي تویول .پدې اړه د وخت صدراعظم حسن شرق لیکي: " ورانسوف چې دا، خ ،د ،ګ د یووالي لپاره د هلوځلو مدعي و خوپه عمل کې د ده د سفارت پر مهال د خلق او پرچم ترمنځ مخالفتونه زیاتېدل اواوربدل کېدل چې دورانسوف په لارښوونه شوروي سلاکارانو د دواړو اړخونو د اختلافونو اورته په پکه وهلو کې بې اغېزه اوغلی نه و " . (کرباس پوشان برهنه پاه ، مخ 268)

د دفاع وزیر له لوري پوځ داحضاراتو د ورکولو وروسته ولسمشر په لاندې دریو استقامتونو کې خپل فعالیتونه متمرکز کړل :

الف - تبلیغاتي کمپاین چې ګواکې شهنواز تنی کودتا کوي .

ب- د خلقیانو ترمنځ بې باوریو او بې اتفاقیو ته لمن وهل او د هغوی څخه سربازګیري .

ج- په کابل کې په خپله ګتېه او د تنې په زیان د وسلوالو ځواکونو په انډول کې بدلون راوړل.

همدا لامل و چې " دافغانستان د جمهوریت جمهور رئیس د خپل دریځ د پیاوړتیا لپاره له هرې وسیلې کار اخیست چې خلقیان کمزوري کړي...، جمهوررئیس داسې ګامونه اوچتول چې پوځ په کابل کې کمزوری شی" ( دافغانستان غمیزه اومېړانه ، الکساندرلیاخفسکی ، روسی متن ، مخونه 548 (427 ,

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کابل کې د پوځ د کمزوري کولو موخه څرګنده وه چې په کمزوري سیال مرګونی برید وشي او هڅونه یې ورمات کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دبې سره لښکر برخليک

دشوروي اشغال په مهال شوروي سلاکارانو ويل: "خلقيان لښکرلري خو سرنلري اوپرچميان سرلري خو لښکر نلري . " د افغانستان خلک دموکراتيک ګوند د دوو سيالو ډلو په هکله د شورويانو دا ډول ارزونه بشپړه سمه وه او اصلي لامل يې په خپله شورويان وو چې د خپل پوځي تېري په درشل کې يې داسې ماهرانه لوبه پرمخ بوتلله چې د حفيظ الله امين په واسطه نورمحمد تره کی ووژني او امين بيا پخپله دوی ووژني او پدې ډول خلقي سترلښکر بې سره پاتې شي . دشوروي دخونړي يرغل وروسته خلقيان ظاهراً په دوو دښمنو ډلو ، د امين په پلويانو او د امين په مخالفانو ويشل شوي وو. خلقيان په خپله لنډه واکمنۍ کې د کورنيو اختلافونو سره سره د پرچم په ځپلو کې بشپړ همغږي وو. د شوروي د اشغال پرمهال پرچميانو کوم کورني اختلافونه نلرل او د خلقيانو په وړاندې يې دريغ دا و چې خلقيان د پرچميانو د امراو نهی په لاس تړليو همکارانو واړوي. که څه هم پرچميانو هوډ درلود خلقيان په بشپړ ډول له سياسي ډګره وباسي خو شورويانو چې د هېواد اصلي واکمنان ګڼل کېدل، پرچميانو ته د کارمل په واکمنۍ کې اجازه نه ورکوله چې د خلقيانو هڅونه ورمات کړي .کله چې په 1365کال کې مسکو د کارمليانو د مخالفت سره سره نجيب واک ته ورساوه پرچميان هم د خلقيانو په شان د کورنيو اختلافونو په مزمنه ناروغۍ ککړ شول . د دې معنی دا کېږي چې په دواړو ډلو کې د اختلافونو سرچينه مسکو و. مسکو د خلقيانو اوپرچميانو د طبيعي مشرانو په وړاندې مصنوعي مشران را پورته، تقويه اوواک ته ورسول او پايله يې د دواړو ډلو ويشل شول. همدا لامل دی چې د پرديو سره او په تېره ځواکمنو دولتونو سره په اړيکو کې بايد په احتياط اوځيرکۍ ګامونه واخېستل شي . د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه د شوروي پوځیانو د وتلو وروسته دواړه ډلې برخلیک ټاکونکي پړاو ته ورننوتلې . پرچمیان چې د واک اصلي مرکز ګڼل کېده او د مسکو له هراړخیز ملاتړ هم برخمن وو، پدې هڅه کې وو چې د ملي پخلاینې د تګلارې د پلې کولو په پایله کې د واکمن ګوند په استازیتوب به یوازې دوی په ائتلافي حکومت کې ګډون کوي. اوکله چې نجیب د م،م د سازمان د ارادې سره سم د ائتلافي حکومت لپاره د ا، خ، د، ګ (وطن) استازي وروپېژندل یو خلقي هم پکې نه و . د شوروي لښکرو شتون خلقیانو ته د داموکلوس تورې ( خنجر) په شان حیثیت درلود، ګوابنل یې اومشرانو یې د خلقي لیکو په وړاندې د پرچمیانو دیکه تازی، په وړاندې کوم مخالفت نه ښود او دا چې د یوه خوځښت په توګه د راڅرګندېدو جرئت وکړي د خلقي مشرانو ځانګړتیاوو او وړتیاوو ته په کتو سره یو خوب او خیال و . خوکله چې دشوروي پوځیانو وتل یقیني شول دخلقي مشرانو په رګونوکې وینې وبهېدې او په خوځښت راغلل. هغه مهال په واک کې شریکو خلقیانو باید دوې ستونزې حل کړې وای . دصفوفو باور ترلاسه کول او دامین دپلویانوسره ګډه ژبه موندل .د دې لپاره چې خلقیان خپل شتون او دواکمن ګوندپه مشرتابه کې خپل ځای ترلاسه کړي په سازمانونوکې یې دکنګرې درابللو سربېره نورې غوښتنې لکه په ګونداودولت کې دواک دانحصار له منځه وړل ، دګوندپه کورني ژوندکې ددموکراسۍ ټینګښت، دخلقي بندیانو آزادول، دپوځ اودولتي امنیت دمنسوبینو دامتیازاتو یوشان کول هم مطرح کولې .نجیب دخلقیانو دنبض دمعلومولو اودکنګرې د رابللونکودفعالانو دپېژندنې په موخه په ګوند کې د نظرغوښتنې ډرامه پیل کړه چې اکثریت خلقیان دکنګرې درابللو غوښتونکي وو خوپرچمیانو مخالفت ښود .کله چې دا موضوع په سیاسي بېرو کې طرحه شوله د نجیب ځواب داو: " دکنګرې ددایرېدو وخت نه دی .هېواد دجګړې په حال کې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکارملیانو ددې لپاره چې دخلقیانو او نجیب ترمنځ اختلافونه زیات کړي لدې مسئلې سره علاقه وښودله هغوی هم دکنګرې ددایرېدو سره سرښوراوه. "(دنیمې پېړۍ خاطرې ، مخ 587) کله چې نجیب دکنګرې درابللوله توپان سره مخامخ شو ددې بهیر هځونکي یې ځېنې خلقي مشران ګڼل اوپدې هڅه کې شو چې هغوی له هېواد بهر په دپلوماتیکو دندو وګوماري. دزیري په وینانجیب هغه ورغواړي اوورته وایې: " دشفاخانې دراپورله مخې ته زیات ناروغه یې بهتره ده ته پولند ته دسفیر په څېر ولاړشې ، استراحت اوخپل علاج به هم وکړې. " زیری ددې وړاندیز له منلو ډډه کوي. لنډه موده وروسته ددولتي امنیت وزارت دشوروي سلاکارپه بلنه زیری دشوروي سفارت ته ځي . زیری ماخوستن ناوخته خپل کور ته دبېرته ستنېدو په لاره کې دکابل ژوبڼ ترڅنګ دبم هدف ګرزي ده ته زیان نه رسیږي خو موټر یې ویجاړیږي اوهغه په ټکسي کې خپل کورته ځان رسوي. ډاکتر نجیب عجیب طبیب و اوپه طبابت کې تردې کچې رسېدلی و چې مخکې له مخکې دګوندي مشرانو دناروغۍ دتشخیص وړتیا یې لرله ،درملنې ترتیبات یې نیول .دزېري سربېره کارمل یې هم یوه بېلګه ده . کله چې نجیب دکارمل پرځای دګوند مشرشو اوکارمل لاددولت مشر و هغه یې دځوانانو دسازمان یوې غونډې ته بللی و .په غونډه کې کارمل فرید مزدک دځوانانو د دموکراتیک سازمان منشي ته وویل چې دی غواړي غونډې ته وینا وکړي خو مزدک ورته وویل څرنګه چې تاسې ناروغ یاست اوتاسې ته تکلیف کېږي اړینه نه ده چې وینا وکړئ کارمل وویل" من جورتیارهستم ، مریض نیستم " ( زه روغ رمټ یم ، ناروغ نه یم) . مزدک ورغبرګه کړه چې نه تاسې ناروغ یاست.

نجیب دمسکو سره په همغږی کې ګواکې دکنګرې بل هځونکی سید محمد ګلابزوی په مسکوکې سفیر وټاکه " دخلقي اړخ غوڅ اکثریت دڅارندوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلوپ کې جرګه شول دوطنجار اوانجینرنظر محمدپرته ټولوپه یوه خوله وویل چې ګلابزوی باید په هېڅ صورت خارج ته ولاړ نشي. " ددې لپاره چې ګلابزوی قانع شي چې بهرته تګ ونه مني میرصاحب کاروال اوجنرال محمدهاشم نوری دهغه کورته ورځي دخبرو په ترڅ کې " دشوروي دسفارت نه دټلفون زنګ راځي اوګلابزوی ته خبر ورکوي چې له مسکونه ځانګړې الوتکه دده لپاره راغلې اوپه هوايي ډګر کې دده انتظارباسي .سبا ته باید حرکت وکړي .هغه هم موافقه وکړه اودخپلو کالیو په ټولولو یې پیل وکړ"( درس های عبرت انګیز...، مخ 164) دشوروي سفارت څخه ګلابزوی ته تلفون ښيي چې دافغانستان ددولت لارښوونه مسکو کوله اونجیب دتمثیل لپاره په ارګ کې کېنول شوی و. نجیب نه بلکې شورویانو داواک درلود چې څوک ګوښه اوچېرې یې مقررکړي .بل داچې ګلابزوی دخپلو خلقي ملګرو په پرتله دمسکو ارادې ته ارزښت ورکاوه. داچې دنجیب پلویان نن هم دهغه دخپلواکۍ اواتلولۍ سندرې وایي دوی په خپله دخپل شخصیت حقیقت نندارې ته ایږدي چې درواغجن اومنافقین دي .اوس به دخلقیانو ددووسیالو ډلو دجوړجاړي هڅو ته وګورو. هېرنشي چې دملي روغې دجوړې دتګلارې داعلان دری کاله وروسته دامین پلویان چې شمېر یې د140 تنوشاوخوا وو په څو ډلو کې دبندڅخه خلاص شول .دخلقي ډلو دمشرانو اوکدرونو دلیدنوکتنو په ترڅ کې په ګډه کار تېنګکار کېده .په لیکنه کې به ددوو غونډو چې هدفمنې کاري بڼې اوموخې یې لرلې بحث وشي . لومړی غونډه د1368 کال دکب دشپاړسمې خونړۍ پېښې شاوخوا یوه اونۍ مخکې دجنرال فقیرمحمد په کورکې (ماښام) رابلل شوې وه. شاه محمودحصین په خپل مثلث بې عیب نومي کتاب کې دهغې په اړه بحث کړی چې دلته به یې لنډیز وړاندې شي. پدې غونډه کې له یوې خوا شاه محمودحصین، عبدالرحمن بسام ، نصیرشمله دار، محمدآصف شور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمدکبیر کاروانی اوله بلې خوا صالح محمدپېروز،محمدعلي هوما ، محمددوست وردک او کارګر ګډون کړی دی. دنظر داختلافونوسره سره دکنګرې په رابللو هوکړه شوې ده.پدې غونډه کې محمددوست وردک یوه پټه معامله یاپټ راز افشا کړ چې په زندان کې دوی ته دلوړوڅوکیو ، مقامونو اوقوماندانیو وعدې ورکړل شوې وې ، ځېنو ته دا لوړمقامونه ورکړل شول خودی چې دنورو(موخه پرچمیان دي ) ښکارنشو حتی دتقاعدحق یې هم ورنکړ. ددې غونډې په بهیر کې دحصین په خبره نابللې میلمه ، دزندان څخه آزادشوی ببرک شینواری هم راپیداکیږي چې دنوموړي په راځرګندېدو سره دغونډې بهیر بلې خواته اوړي. دببرک شینواري په اړه غواړم خپله یوه خاطره دلته راوړم. د1370 کال په ژمي کې ما په مسکو کې خپلې زده کړې پای ته رسولې وې او په لیلیه کې مې ژوندکاوه.یوه شپه دفاروق ادراک په نامه یو خلقی زما کوټې ته راغی اوراته ویې ویل چې استاداقبال وزیري دخلقیانو دواکمنۍ د اردوسیاسي رییس راغلی دی نه غواړې دهغه سره ووینې . ما چې له وزیري سره پېژندګلوي نلرله دادراک سره ګډ دهغه کوټې ته ولاړم. وزیري په خپلو خبرو کې کارمل او شورویان ډېر وټکول اودنجیب په وړاندې پرتو ستونزو او کورنیو اوبهرنیو مخالفتونو ته ګوته ونیوله ، دظاهرشاه راتګ یې حتمي ګاڼه خوبیا یې هم دنجیب څخه په ملاتړ ټینګار درلود.لیکوال دوزیري دخبروپه پای کې ورته وویل اوس باید څه وشي ؟ هغه پدې اړه زما نظر وغوښت اوورته وویل شول :" ستاسې له خبرو پوه شوم چې حکومت هرومرو سقوط کوي .پردې اساس دنجیب دحکومت څخه ملاتړ ددې معنی لري چې دسرطان په ناروغۍ اخته ناروغ بېځایه لګښت وشي. لدې کبله زه به دمرګ په بستر کې پروت حکومت کې چې اولسي او بهرنی ملاتړ نلري کارونکړم. وزیري وویل لکه څرنګه چې ګوندته راتګ داوطلبانه دی ببرته وتل هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوطلبانه دي خوستا داخبرې د ډګرجنرال شهنواز تنې خبرې دي. ما په ځواب کې ورته وویل چې زه په داوطلبانه توګه دګوندڅخه نه وزم لومړی به ستاسو ګوندي مشرانو ددې پوښتنې ځواب ترلاسه کوم چې ولې مو هېواد دې حالت ته راورساوه ؟ ددې خبرې په اورېدو سره اقبال وزیري جګ شو ، خپل بالاپوش یې واغوست او ویې ویل زه ځم او له کوټې ووت . هغه مهال ویل کېدل چې نجیب، ببرک شینواری اواقبال وزیري شوروي اتحاد ته رااستولي وو چې ملکي او پوځي خلقي محصلین دنجیب ملاتړ ته راوبولي .دوهمه اووروستنۍ غونډه دکب په دوولسمه دغلام دستګیرپنجشیري په کورکې وه چې له یوه اړخه صالح محمدزېری ، غلام دستګیر پنجشېری ،عبدالرشید آرین اوګلداد اوله بل اړخ څخه شاولي ، عبدالکریم میثاق ،عبدالحکیم شرعي جوزجاني اوعبدالقدوس غوربندي وو.پدې هکله پنجشیري په خپل کتاب "ظهور وزوال حزب دموکراتیک خلق افغانستان " کې مفصل توصیحات ورکړي اودلته به یې د دواړو اړخونو دنظر داختلاف ټکو ته ګوته ونیول شي.

الف - دپرچم سره په واک کې شریک اړخ دکنګرې په رابللو ټینګار درلود خومقابل لوري دکنګرې رابللو سره مخالفت کاوه .ب- دامین پلویانو پدې ټینګاردرلود چې دیوالي په اعلامیه کې دا راوړل شي "دهرکودتایي عمل خلاف مبارزه وشي "، مقابل لوری پدې باور و چې "دهر ډول ماجراجویۍ په وړاندې که له هراړخ څخه وي مبارزه وشي " .ج- په حکومت کې شریک اړخ پدې ټینګار کاوه چې باید ددولتي امنیت او دپوځ د منسوبینو د امتیازاتو توپیر له منځه یوړل شي خومقابل لوري په اعلامیه کې ددې مسئلې راوړل اړین نه ګڼل .کله چې دامین دپلویانو دریځ ته وکتل شي کټ مټ دنجیب ددریځ کاپي ده .همدارنګه په غونډه کې پرېکړه شوې وه چې ددې غونډې په اړه به کومه اعلامیه نه خپرېږي . خو دوه ورځې وروسته دکب په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوارلسمه دامین پلویانو دهوکړې خلاف یوه اعلامیه اوهغه هم یوازې په پوځ اوڅارندوی کې په خلقیانو ووېشله .عزیز اکبري چې دشوروي اشغال وړاندې داستخباراتي دستګاه له لوړپوړو څخه و اودامین داستخباراتي ادارې (کام )مشر هم پاتې شوی دی په زندان کې پنجشیري ته ویلي چې دشوروي دوخت دبهرنیوچارو وزیر شیواردنادزي په کابل کې دمیثاق اوشاولي سره دخلقیانو ددریځ دکمزورولو په موخه لیدنې کتنې لرلې . دامین پلویان نورخلقي مشران ملامتوي چې دپرچمیانو سره ګډېې په حکومت کې برخه واخېستله خوددوی یو شمېر ملګري هم له زندان څخه دآزادېدو وروسته دنجیب دحکومت سره همکاري پیل کړه. دې ښاغلو ته ښايي دې پوښتنو ته ځواب ورکړي چې آیا کارمل اونجیب دواړه اشغالګرو واک ته ونه رسول ، آیا نجیب پرچمی نه و ،آیا تاسو کارمل اونجیب په 1357 کال کې له ګوندڅخه ونه شړل اودملي خاینانو په توګه مو اعلان نکړل؟ آیاستاسو دپرېکړې له مخې دملي خاینانو( کارمل او نجیب) ترمشرۍ لاندې حکومتونو کې دلوړپوړو چارواکو په توګه کارکول ملي خیانت نه دی؟ البته داپوښتنې نوروخلقي مشرانو ته هم متوجه دي .امین پلوی عبدالقدوس غوربندي نجیب ته دبندڅخه دخلاصوشووبندیانو دلاندې دریو وړاندیزونوخبره کوي :دجلاګوندجوړول، له حکومت سره دخپلې کاري مخینې له مخې همکاري او یا په اوسني حالت یعنې په کورکې پاتې کېدل .دغوربندي دلیکنې له مخې نجیب دوی ته دجلاګونددجوړولو اجازه ورنکړه خو په واکمنۍ کې یې دبرخې اخېستلو سره موافقه وکړه اودزندان څخه دآزادشوو کسانو چې شمېر یې له120 تنو اوښت دولتي دندې ورکړې .دساري په توګه داکتر شاولي دسلاکار وزیر ، عبدالکریم میثاق کابل ښاروال ، شرعي جوزجاني دقاضي القضات مرستیال ،غوربندي دملي جبهې مرستیال په توګه مقررشول .که دامین پلویانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستقل ګوند جوړ کړی و ای ببله شکه زرګونو خلقیانو ددې ګوند غړیتوب ترلاسه کاوه . پدې توګه دا ، خ ، د ،ګ چې غوڅ اکثریت یې خلقیان وو اوددې ګوند څخه په وتلو سره نجیب په بې لښکره مشر بدلېده. سره لدې چې نجیب دوی ته دجلا ګوند د جوړولو اجازه ورنکړه خوبیا یې هم نجیب خپل منلی مشر ګاڼه. کریم میثاق په مسکوکې د"نووستي آژانس" خبریال ته په مرکه کې ویلي و:" نورمحمدتره کی دخلقیانو لارښود اوببرک کارمل دپرچمیانو لارښودو خو ډاکتر نجیب الله دا ، خ ، د ، ګ لارښود دی ".کله چې امین پلوه خلقي مشرانو ته نجیب دګوند دجوړولو اجازه نه ورکوله معنی یې داده چې هغوی یې دمدني حقونو څخه هم محروم کړل خو دڅوکیو دترلاسه کولو په پار له خپل مدنی حق هم تېرشول .نجیب داسې ډلو ته دسیاسي فعالیت اجازه ورکړله چې سل تنه پلویان یې نلرل خو داویا - اتیا زرو خلقیانو مشرانو ته دسیاسي فعالیت اجازه ورنکړه خومشرانو یې د څوکیو دلاسته راوړلو په بیه سترخلقي لښکرد نجیب دحکومت دستنو دټینګولو په چوپړ کې دتېر په څېروساته.

که دا لیکنه په څوکرښو کې راونغاړو ویلای شوچې دشوروي داشغال له لومړیو شېبو څخه د ا ، خ ،د ،ګ دواکمنۍ ترنسکوربېدو پورې دخلقي فرکسیون غوڅ اکثریت مشران دافغانستان دملي ګټو ددفاع په سنګرکې ونه دربېدل .دهغو خلقي مشرانو څخه چې دپرچم سره په واک کې شریک کړل شول داسې یوڅوک پکې پیدانشوچې د خلقیانو دسترلښکر لارښوونه وکړي. درادیو څخه داعلامیې داوربېدلو وروسته چې دامین ددولت مشران دکابل رادیو تالار ته ورشي یوه مشر دا فکر ونکړ که دی اویانورمشران بندیان کېږي صفوف څه وکړي؟ لدې امله اړینه بربښي کوم لیکلی یا شفاهي دستور چاته ورکړي .له زندان څخه یې هم کوم دستور سترخلقي لښکر ته ورنکړ. درادیو اعلامیې ته دخلقي مشرانو لبیک ویل ښیي چې ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشوروي خونړي يرغل په وړاندې منفي غبرګون نه دی ښودلی . که چا منفي غبرګون ښودلی وای پټ شوي به و او يا به له هېواده تښتېدلي وای چې داسې يوه بېلګه شتون نلري . دصالح محمدزيري په وينا خلقي مشرانو هلته ببرک کارمل ته تبريکي خط وليکلو . د زيري له قوله لومړی دا تبريک خط بارق شفيعي ليکلې و " خو ميثاق هغه خيرې کړاوويل چې بارق بيا هم کارمل ترضرورت زيات ستايلی اوغيرلازمي خبرې يې ليکلې وې .وروسته ميثاق دببرک کارمل په نامه تبريک خط وليکی." ( زېری .دنيمې پېړۍ خاطرې، مخ 452) ليکوال ته څرګند شوي نه دي چې دا مبارکي نامه چا اويا کومو مشرانو لاسليک کړې ده خو داويلای شو چې کارمل ته مبارکي ويل اشغال ته دلبيک ويلو معنی لري .داچې اشغالګرو يوشمېرخلقي مشران بنديان اونوريې په واک کې شريک کړل هغه داشغالګرو دمشهور فورمول "بېل يې کړه ، ابېل يې کړه "يوه برخه وه نه داچې هغوی داشغال پلويان يا مخالفان وو .دا مشران اومريدان يې دشوروي پدې خلقي ضد اوافغاني ضد لوبو نه داشغال په درشل کې وپوهېدل ، نه داشغال په لومړيو کې ، نه دنجيب دواکمنۍ پر مهال اوډېری يې اوس هم نه دي پوهېدلي او هماغه پرونۍ بابولالې تکراروي .هراړخ ځان سلامت اومقابل لوری ملامت ګڼي پداسې حال کې چې دواړه اړخونه ملامت دي. دخلقي مشرانو دډار، بې تفاوتۍ، مقام غوښتنې اونه وړتيا له مخې د خلقيانو سترلښکر دوولس کاله اوڅلور مياشتې دشوروي اشغالګرو او دپرچميانو په ګټه وکارول شو اوزرګونه تنه يې لکه داختر دقربانۍ دپسونو په څېر قرباني شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د 1368 کال دکب د شپاړسمې دخونړۍ پېښې رښتيا

د 1368 کال دکب په شپاړسمه ددارلامان په تاريخي ماڼۍ ددولتي امنيت دوزارت ځواکونو او ددوستم مليشو دبريد سره جوخت ددفاع وزير شهنوازتڼي په قومانده جيټ الوتکوپه ارګ اوددولتي امنيت په پنځم رياست بمبارۍ وکړې . دا پېښه حکومت دتڼي - ګلبدين کودتا وبلله پداسې حال کې چې ځينې څېړونکي هغه پوځي ټکر اونورهغه دخلقيانو اوپرچميانو وروستۍ زورښودنه ګڼي.

داليکنه ددې پېښې ځغلنده ارزونې ته ځانګړې شوې ده.

له ياده ونه باسو چې يو څېړونکی هغه مهال دځانګړې سياسي اوټولنيزې پديدې يا يوې پېښې رښتينی انځورکاږلی شي چې دهرڅه دمخه يې اصلي لامل اودوخت دواکمنو شرايطوجاج واخلي . ددې پېښې لامل بايد دخلق اوپرچم د تلپاتې دښمنيو سربېره دافغانستان په اړه دشوروي اتحاد په تګلارو کې ولټول شي.که څه هم هغه مهال شوروي لښکرې له افغانستان څخه وتلې وې خو دوخت د دولت ماشين دشوروي اتحادپه تېلو ، وسلو ، مرميو ،غنمو ، پيسو،مشورو اودستورونو چلېده اوددولت دمشرتابه اکثريت دشوروي څارګرې ادارې (کی جی بی) په لاس کېنول شوي نيالګي وو چې ددې دولت مشر(نجيب )يې خپل طلايي بچی ګاڼه .

دافغانستان په اړه دمسکو دتګلارې دپوهېدو په موخه به دهغه مهال دوسلوال پوځ دلوی څارنوال جنرال محمدهاشم نوري واورو. جنرال نوري دواکمن ګوندد مشرتابه اوشوروي سلاکارانو له درناوي برخمن و.له همدې کبله شوروي سلاکارانو په ځېنو مسئلو کې ورسره سلامشورې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال نوري وايي "په ۱۳۶۷ کال کښي دهـيواد سياسي وضع ډيـره ترينګلې بريښيــده ... ، زه تر يوه ژور فکري غور وروسته ورينيکوف (لوی پوځي سلاکار) ته ورغلم او د هغه سره مي د افغانستان پر رواني سياسي وضعي بحث وکړاو د ده نه مي وغوښتل چي پر رواني پيچلي پروسي په داسي حال کښي چي روسان د وتلو په درشل کښي دي روښناي‌ي واچوي البته تر ډېرو خبرو اترو وروسته ورينيکوف رانه وپوښتل چي په خلص ډول خپلي پوښتني راته ووايه؟ ما ورنه وپوښتل ؛

۱ـ تاسي په څه ډول غواړئ چي زموږ له هېواده ووزئ زموږ دولت بايد ديوه پياوړي ځواک په څير پاته سي او که غواړئ چي موږ کمزوري او لاس تړلي د رقيبانو په مقابل کې ودريږو ؟

۲ـ که چيري امکان ولري دمسلحو قواوو ټول محاربوي قطعات او جزوتامونه دې يعني هوايي، ځمکني، اردو، امنيت دولتي او څارندوی محاربوي قوا وي دې تر يوې قوماندې لاندې د ملي دفاع وزارت په تشکيل کښي ورکړه سي ؟

د دې دوو پوښتنو په او ريدلو سره وري‌نی‌کوف دومره په قهر او غصه سو چي ما يې هيڅ فکر هم نه کاوه اونه مي داسي طمع له ده نه درلوده خو په وضعيت پوه سولم او په حوصله مي بحث واړاوه اوتر ډوخبرو وروسته ترې رخصت سولم او کورته ولاړم مګر تر يوه ژور تحليل وروسته دې نتيجې ته ورسيدلم چي ما ډيره ستره اشتباه وکړه چي ورينيکوف مي په دې پوه کړ چي موږ په سياسي وضع پوهيږو ،ځکه روسانو پخوا داسي فکر کاوه چي موږ پښتانه افسران پوره اګاهي نـلرو خيردوې ورځي وروسته يوه نابلده روسي تيلفون راته وکړ چي مازديګر څلور بجې د څرک پر غاړه ودرېږه او ماته انتظار وباسه زه راځم ته مي په کار يې ،همداسي وسول څـلور بجي يو موټر راغی زه يې واخيستلم او په زړو مکـروريانو کښي يې خپل کـورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوتــلم هلته هــم د ډوډۍ میز تیار جوړ و اوکرار کرار مو په خــوړلو پیل وکــړ زموږ مجلس تــول پر هغه دوو پوښتنو راګــرځیــدی چي ما د ورنیکوف څخه کړې وې زه هــم ورته پوه وم او دی هــم ډیر زیرک و د شپــې دوې بجې سولې اخــر ما ورته ووی‌ــل چي ته یــوازي پوښتني کــوې نسې کولاي چي د وضعي دتحلیل په اړوند هــم څه ناڅه وړغــیږې او یو څــه روښنایي پر وا چــوې ده په داسي حال کښي چي اواز یې ریږدیدی راته وویل هو وایې وره هــرڅوک چي د داکتر نجیب الله په مقابل کښي ودریــږي موږ به هغه له مینځه یوسو ولو که د کابــل په ښار کښي د وینــو ډم هــم ودریږي د دې خبــري په اوریدو سره ماتــه هم د ویلو نور څه نسول راپاتــه او ده هــم ټول په یوه را خــلاصه کــړه زموږ خبري پای ته ورسیدې او زه یې خپل تر کوره پوري ورسولم . زه پوه سولم چي روسان په یوه عمل لاس وهي ځکه په پر هره لور د دوی برخورد او کړونو تغیر وموند دوی کوښښ کاوه چي اردو کمزوری او دولتي امنیت وپړسوي هري خوا ته یې لاس اچاوه ترڅو د دې لپاره یې لاره هواره کړي چي د ۱۶ د حوت حادثه رامینځ ته کړي او دحوت دمیاشتي کودتا مستقیما د داکتر نجیب الله تر رهبري لاندي پلانګذاري او عملي کړي او دا کا مستقیما د روسانو په دستور او حمایت تر سره سو او په مجموع کښي دحزب ټول پښتانه رهبري کادرونه بندیان اوپښتانه افسران له اردو نه وباسي او زمینه دې ته مساعده کړي چي د مسعود نظار شورا په اساني په کابل را ننوزي"( شهنوازتنې ولې کودتا ته اړووت ؟ (1)،اجمل اټک یوسفزي ، فیسبوک ،2020( 6, 6 ,

ددفاع وزیرشهنوازتنې له لوري د1368 کال دقوس په دولسمه پوځ ته دتیارسۍ ورکولو قومانده چې دنجیب په وړاندې دتنې له خوا یوتپل شوی خواحساساتي غبرګون وهغه څه وچې نجیب غوښتل ترڅو ورته لاسوند پیداشي تبلیغاتي کمپاین پیل کړي چې ګواکې تنې کودتا کوي اوپدې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنې په اذهانو کې ښه وټکوي. دتنې لخوا دپوځې احضاراتو دقوماندې ورکولو وروسته دهغه له کړنو داسې ښکاري ، هغه غوښتل نجیب دې ته متوجه کړي چې د پوځ خلاف که کوم ګام اوچتوي هغه ناوړه پایلې لري.ډګروال عبدالمجید چې هغه مهال داومې فرقې سیاسي آمر و اودتنې سره یې ښه روابط لرل دتیارسۍ دورکولو څه موده وروسته تنې ته ورغلی و چې دامهال دتنې سره میرصاحب کاروال هم ناست دی وایي: " دخبرو په ترڅ کې دپوځې احضاراتو خبره راپورته شوه تنی کاروال ته وویل ماخپل کار وکړ اونجیب مې متوجه کړاوس ستاسوسیاستوالو کاردی چې څه وکړئ ! " همداراز شاه محمودحصین دکب د شپاړسمې خونړۍ پېښې دوې دری ورځې وړاندې چې وضعیت خورا پېچلی و اودپوځې ټکر نښې نښانې ترسترکوکېدلې دجنرال آصف شور په غوښتنه له تنې سره ولیدل ترڅو هغه قانع کړي چې په دې ټکرکې بری دهغه اړخ دی چې برید وکړي . تنې ډاډ ورکړی " چې موږ ددفاع لپاره چمتووالی لرو اوداندېښنې ځای نشته ."(مثلث بی عیب مخ 495(

دپورتنیو دووېلګو څخه برېښي چې تنې د برید(کودتا) هوډ نه درلود ، دفاعي دریځ یې غوره کړی و اوډاډمن و چې ددفاع وس لري. دتنې اودنوموړي دیوشمېر ملګرو تېروتنه داوه، پدې نه پو هېدل چې ځېنوملګرو یې دوه ګونی اوحتی دری ګونی رول لوباوه ، یوه برخه یې ظاهرأ دده سره سرښوراوه خو دنجیب په چوپړکې ولاړ و اونورو یې دشوروي سلاکارانوسره اړیکې لرلې . کله چې دعمل وخت راغی دا رنګه وګړي یا بې تفاوته پاتې شول اویایې دنجیب له ګرېوانه سرونه را پورته کړل . پنجشیری دساري په توګه دجنرال محمدهاشم زرمتي اوجنرال شیخ محمدباور یادونه کوي .له بله پلوه پداسې یوه حالت کې چې په پلازمېینه کې پاتې داردو جزوتامونه په خپل دایمي وضع الجیش (قطعاتو) کې په ورځنیو چارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوخت وي اوله ناڅاپي برید سره مخامخ شي جګړې ته یې چمتو کول وخت نیسي چې پایله یې ماتې ده.

دتڼي له لوري پوځ ته دتیارسۍ ورکولو وروسته دخلقیانو اوپرچمیانو ترمنځ دبربنډې مخامختیا نښې نښاني له ورایه څرګندېدې چې هغه دپرچمیانو له لوري دتڼي دکودتا تبلیغات او دخلقیانو لخوا دځپل خیالي زور اوقوت څرګندونې وې .لکه څرنګه چې هغه مهال دواک اصلي مرکز پرچم ګنډل کېده دعمل نوښت ددې ډلې سره و او دشوروي اتحاد له هرا ړخیز ملاتړ هم برخمن و .دا ډول حالت دې ته لاره هواروله چې دهر اقدام نوښت دپرچمیانو سره وي.پردې بنسټ دلوبې ګټونکی (نجیب )او (تڼی) بایلونکی دی.نجیب دکودتا دکمپاین ترڅنګ دوطنجار ، انجینر نظر ، پکتین اودې ته ورته نوروخلقیانو اوخاد له لارې دخلقیانو جذبولو بهیر لاپیاوړی کړ .سربېره پردې یې په کابل کې ده ته د وفادارو ځواکونو پیاوړتیا او د مقابل لوري دکمزورولو بهیر هم غښتلی کړ .

خلقي مشرتابه دپوځي ټکر ناوړه پایلو ته په کتو سره دنجیب سره دپخلاینې لاره غوره کړه .دقوس په نولسمه یې ددستګیرپنجشیري په کورکې غونډه وکړه اودې پرېکړې ته ورسېدل : " د افغانستان د مسئلې پوځي حل روښانه راتلونکې نلري ...، لدې امله باید په ډله ئیزه توګه مبارزه وشي ترڅودخلکو اووسلوال پوځ غوښتنې دسوله ئیزې لارې دنړیوالو بنسټونواو دم ، م دسازمان ترڅارنې لاندې عملي شي...، دوه ورځې وروسته څلورکسیز خلقي پلاوي (پنجشیري ، نیازمحمدمومند ،ګلداد ، جنرال نظر محمد ) دنجیب سره وکتل او د ستونزې دحل په موخه اړینې هوکړې ته ورسېدل اوعملي ګامونه هم اوچت شول..." (ظهوروړزوال ح،د ،خ،ا ،دوهم ټوک، مخونه 145 - 146)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلقي مشران پدې پوهېدل چې هرڅه دشورويانو په لاس کې دي همدا لامل و چې ځلورکسيز پلاوي دوه ورځې وروسته دشوروي سفير سره وکتل .دنوروخبرو اترو ترڅنګ داوړانديز وشوچې" ددولتي امنيت دوزارت د زياتو واکونو دمحدودولو په موخه دې ددې وزارت دپوځي معاونيت تشکيل اوپرسونل دددفاع وزارت په تشکيل کې راوستل شي. په مقابل کې سفير په نيولي غږ دشهنوازتني بغاوت ګوندي اودولتي ضدبغاوت اودملي دموکراتيک انقلاب په زيان وګاڼه اومحکوم يې کړ ".(ظهور وزوال...، مخ 147 )خوسره لدې سفارت ددواړو اړخونوترمنځ منځګړيتوب ته راودانګل او په سفارت کې يې دنجيب اوتني ليدنې ته لاره هواره کړه او دواړو يو هوکړه ليک لاسليک کړ.ددې هوکړه ليک په اړه ډګروال محمدکبير کارواني له تني پوښتلي و چې کوم تضمين شتون لري چې هغه به پلی شي چې دې پوښتنې ته ځواب شتون نه درلود.

دنجيب سره دکتنې وروسته دتوافقاتو دعملي کېدوبهير اودپوځي بنديانوخلاصېدل پيل شول. دې بريا ته په کتو سره کاروال اوتني دولسمشر کورته دوطني دود اودستور له مخې ورغلل ترڅودهغوی ترمنځ خوابدي اوسؤ تفاهم په بشپړ ډول له منځه لاړشي .همدارنګه نجيب دسياسي بيرو په غونډه کې رپوټ ورکړ: " مسايل حل شوي دي .ملګري تني هم تېروتنه وکړه اوماهم جدي چلندوکړځکه موږ دجګړې په شرايطو کې يو ټول سؤ تفاهمات حل شوي اوسرد نن نه داسې شی زموږترمنځ نشته چې حل نشي .(درس های عبرت انګيز ...، مخ 201)

که څه هم دخلقيانو اوپرچميانو هوکړه پلې کېدله خودتني دکودتا خبره توده وه .ددلوې په مياشت کې بيا دزنداني کولو لړۍ پيل شوه چې خلقيان يې اندېښمن کړل .دخلقيانو اندېښنه هغه مهال زياته شوله چې دکب په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیارلسمه اوڅوارلسمه دکابل ښار کې ددولتي امنیت څواکونه ترسترګو شول اودښار په ځینو برخو کې ځای پرځای شول.

خلقي مشرتابه پرېکړه وکړه چې دحالاتو دارزونې لپاره ولسمشر ته ورشي .مخکې لدې چې ولسمشر ته ورشي ددفاع وزیر سره ګوري ترڅو دهغه دریځ هم ورته څرګند وي. دتنې سره دکتو وروسته ( دکب پنځلسمه (مازدیګر ناوختې صالح محمدزېری ، دستګیر پنجشیری ، نیازمحمد مومند اوجنرال نظرمحمد نجیب ته ورځي .نجیب دوی ته دنده سپاري چې سبا ته خپل وړاندیزونه ده ته وسپاري اودوی دسولې دکمیسیون په نامه یادوي.نوموړی پلاوی دمومند پرته خپلو کورونو ته ستنیږي اومومند ته دنده سپاري چې تنې ته ورشي اودخپلې کتنې رپوټ هغه ته ورکړي .داسې ښکاري چې نجیب پلاوی غولولی دی ،د پلاوي دوتلو وروسته تنې ته دګوانښ زنګ شرنګول شوی دی. لدې امله تنی او مومند دې پایلې ته رسېدلې دي چې سباته له هېواد څخه پښې سپکې کړي .مومند خپل کورته ځي اوتنی خپل یاور د هوایي قواوو پخواني سیاسي آمر ډګروال محمدحکیم چې دامهال دهوایي پوهنتون دپلان آمردی استوي چې هغه دوزیر دفتر ته راولي.وزیر دهوایي قواوو دسیاسي آمر جنرال رسول څخه شکایت کړی چې په خوست کې پروت دی اوخپلې دندې ته نه راځي او تنی دمحمدحکیم نه غواړي چې ډاډمن پیلوټان وروپېژني.دشپې یوولس بجې شاوخوا وزیر دهوایي اومدافعه هوایي قوماندان جنرال عبدالقادر اکا ورغواړي اوورته ویل شوي چې په دفاع وزارت برېدترسره کېږي اودواړه پدې سلاشوي چې تنی سبا سهار بګرام ته لاړشي. سهاروختي تنی دیوه جیپ په واسطه ددارالامان له ماڼۍ وځي او ددارالامان - چهارکلا له لارې ځان سیلو ته رسوي اوهلته خپله کورنۍ، مومنداودهغه د کورنۍ سره یوځای په شیرپورکې 22 لوا ته چې قوماندان یې جنرال عزیزالرحمن دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځي او دهغه ځای څخه د زرهپوش په واسطه خواجه رواش اوبیا ځانونه بګرام ته رسوي. دتنهي په دستور پرچمی جنرال عبدالفتاح دهوايي قواوو قوماندان په کومه کوټه کې ترڅارنې لاندې نیول کېږي.
په همدې ورځ دکب په شپاړسمه یوولس بجې شاوخوا نجیب جنرال نظرمحمد ته تلفوني وايي چې دسولې کمیسیون دې په یوه بجه ده ته ورشي. کمیسیون دمومند پرته چې هغه ونه موندل شو دیوې بجې مخکې په مرکزي کمېټه کې دپنجشیري دفترته ورځي او ټلفوني ولسمشر ته دورتلوخبرورکوي خوهغوی ته ویل کېږي چې نجیب نشته اودوی دې انتظار وباسي. لږوخت تېرېږي چې په ارګ بمباری پیلېږي اود پنځوبجوشاوخواچې بمبارد درېږي وسلوال کسان راځي اودسولې کمیسیون (زېری ، پنجشیری، نظرمحمد)ارګ ته بیايي او هلته یې بندیانوي .وروسته تبلیغات کېږي چې دوی په مرکزي کمېټه کې داعلامیې سره ناست و چې دخلقیانو کودتا بریالۍ شي دااعلامیه درادیوتلویزیون له لارې خپره کړي . خلقیانو دپرچمیانو له لوري دبرید ګواښ ته په کتوسره پرېکړه کړې وه چې دبرید په مهال به خلقي مشران په پلچرخي کې د زرهداروپنځلسمې لوا ته چې قوماندان یې خلقي جنرال عبید ګل و ځانونه رسوي ترڅوخوندي وي. دتنهي له لوري په ارګ د هوايي بمباریو په اړوندباید وویل شي چې دپلیو اوټانګ ځواکونودګډوعملیاتوپرته هېڅ ګټه نلرله .دتنهي داډول چلند په حقیقت کې دهغه لوبغاړي چلند ته ورته دی چې منل شوي اصول اومقررات چې لوبې ته ټاکل شوي په پام کې ونه نیسي اوغواړي پرته له هغو سیال له پښو وغورزوي .
دسلطان علي کشتمند په وینا دپوځي ټکر "یوه ورځ وړاندې ویل کېدل دهوايي اومدافعې هوايي ټول ځواکونه ددولت پلویان دي ، خوورروسته څرګندشول چې جنرال قادرآګاه دهوايي قواوو قوماندان تروروستیو شېبو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې وطنجار غولولی و." (یادداشت های سیاسي ورویدادهای تاریخی ، مخ 1008)دابیا ښيي چې دکب په پنځلسمه نجیب دخپل ملکي اوپوځي ټیم سره په ټولو جزئیاتو دسیالو اړخونو په شونتیاوو اودځواکونو په انډول بحث کړی چې پوځیان ورته د"وضعیت محاکمه " وایي ، خوداچې جنرال آګاه وطنجار غولولی و محاسبه یې یوڅه نیمګړې راوختله . همدا لامل و چې ددفاع وزارت دقرارګاه 235 قطعې سربېره یوازینی ځواک چې ددولت خلاف ودرېد هوایي ځواک و.

داهم باید وویل شي چې په دفاع وزارت دبرید په موخه دپرچمي جنرال محمدنبي عظیمي په وینا دحملې دوه واریانته په پام کې نیول شوي و ،هغه یې په خریطو کارلې او ولسمشر یې ددوهم واریانت منظوري ورکړې وه .داددې ښکارندوی دي چې په دفاع وزارت برید ته پوره چمتووالی نیول شوی و اودکب په دیارلسمه اوڅوارلسمه بریدکونکو ځواکونو دکابل په ښارکې مشق اوتمرین ( پوروا) هم ترسره کړه اودکب په شپاړسمه ددې خریطې اودپوروا پربنسټ په دفاع وزارت عملیات ترسره شول . عملیات ددفاع وزیر په دفتر باندې دخادد پنځم ریاست دلوا دتوپچي دکنډک په ډز پیل شول اودداراالامان تاریخي ودانۍ ته یې خورا زیان ورساوه . دکب په شپاړسمه دغرمې مخکې په ځینومرکزي جزوتامونو ، ددفاع وزارت ریاستونو اوپوځي پوهنیزو بنسټونوکې شکمن خلقي افسران ونیول شول چې ځینې یې ووژل شول .دلته به یې دحربي پوهنتون ښېلګه راوړل شي: " دسهار دلسو بجو شاوخوا دح،پ قوماندان جنرال عبدالستار د یاور دفتر ته شکمن خلقیان راغواړي اوهغوی دسینما لاندې په زیرزمینۍ کې بندیانوي.دڅه وخت وروسته دانظباط دټولي قوماندان هلته ورځي اودتدریساتو رییس ډګروال محمدزي نیکمل ته وایي چې تاسې قوماندان صاحب غوښتي یاست . هغه ورسره ځي خو وروسته دهغه مړی دترمیم خانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترشاه په یوه کنده کې چې د پیژندو نه و موندل کېږي. د تېرا ښستنې په موخه اوازې خپرېږې چې هغه غوښتل وتښتي اوو ویشتل شو. خوواقعیت داسې و چې هغه د قوماندان ددفتر ځخه چې په ځلورم پوړ کې و په کشولو سره په زینو کې کښته کړل شوی چې د پېژندلو وړنه و او دترمیم خانې شاته وژل شوی دی.

که دا ومنل شي چې نیکمل کودتاچي و خوآیا بېله محاکمې اوپدې وحشیانه ډول دیوه افسر وژنه دمنلو وړده؟دکودتا په تورنه یوازې نیکمل بېله محاکمې ووژل شو بلکې یوشمېر خلقي افسران لکه جنرال آصف شور ، ډګروال کبیرکاروانی ، ډګروال شهنوازشیوانی ، ډګروال فېروز، ډګروال جعفرسرتېراو ډګروال سیدانور چې ټول یا استادان اویا په غیرمحاربو بنسټونو کې دنده لرله اوپه جګړه کې یې برخه نلرله ووژل شول .

دپېښې یوه ورځ وړاندې دمزارشریف دهوایي ګارنیزیون خلقي قوماندان جنرال ولي لدې امله بندي کېږي چې داړتیا په وخت کې دمزار شریف هوایي ځواک دنجیب په ګټه وکارول شي اودټکر په مهال د مزارجېټ الوتکو دبګرام هوایي ډګربمبارد اودالوتنې لیکه ) رنوې ) له استفادې ووتله ،تنې اوملګري یې اړشول پاکستان ته وتښتي. دپام وړخبره داده چې دتنې سره په تښتېدلو کسانو کې یوازې یو نفر ملکي داسلامي جمعیت غړی ، دبدخشان اوسیدونکی، دکابل پوهنتون دښوونې اوروزنې دپوهنځي استاد غلام جیلاني یفتلي و. ددې ځخه ښکاري چې تنې دناکامۍ په صورت کې هوډ درلود چې داسلامي جمعیت ترکنترول لاندې سیمې ته پناه یوسي او یفتلي دراه بلد په توګه ورسره مرسته وکړي. دابیا د حکومت دتنې - کلبدین دګډې کودتاه تبلیغات ترپوښتنې لاندې راوړي. داسې هم ویل کېږي چې دکب په شپاړسمه دبګرام په هوایي ډګر دمسعود دځواکونو لخوا توغندي وتوغول شول اوتنې له خپل هوډ ځخه چې اسلامي جمعیت ته پناه یوسي واوښت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان ته تښتي .که تني دحکمتيار سره اړيکې درلودلای نو دحکمتيار ترکنترول لاندې سيمو لکه دخوست ژورې ته به تښتېدلای وای اويا به په اصطلاح دکودتا په ورځ دحکمتيار ځواکونو په کابل کوم بريد کړی وای.
پدې اړه صدراعظم سلطانعلي کشتمند ليکي: " پدې هکله چې ويل کېږي شهنوازتني مخکې له حکمتيار اودپاکستان دپوځي استخباراتي ادارې سره اړيکه درلوده کوم مدرک نشته ، خوهغه ښايي بله لاره نلرله چې يوازې ځان هلته (پاکستان )ورسوي." ( يادداشت های سياسی ورويدادهای تاريخی ، مخ 1011 )
کشتمنددا خبره هغه مهال کوي چې نه دی صدراعظم دی اونه يې پرچميان په واک کې دي خوهغه مهال چې نوموړی صدراعظم و دتني - ګلبدين دکودتا نغارې يې ډنګولې .اوس قضاوت کېدای شي چې اشغالګر څرنګه لوبدلي کسان واک ته رسوي.
دکب دشپاړسمې پېښه تاريخپوه کانديداکادميسين محمد ابراهيم عطايي دافغانستان په پوځي پوتانسيل کې چاودنه ګڼي اوهغه داسې ارزوي : " دکی جی بی فعالانو وضعه داسې راوستله چې تنی اغفال اونجيب الله ته وواېي چې په ناڅاپي ډول پرهغه بريد وکړي .داپلان داسې ماهرانه ترتيب شوی و چې جنرال تنی په وروستيو شېبو کې وپوهېږي ،په بيړې سره هوايي بمبارۍ پيلوي او داسې ښيي چې لوموړی بريد دتني له لوري ترسره شو... ، نجيب يې دګوندي اوسياسي پلوه کمزوری کړاودکارمل ملګرو چې تردې مهاله يې پټ فعاليت درلود دنجيب خلاف يې څرګند مخالفتونه پيل کړل ،ځکه چې نجيب کمزوری شوی و) "نګاهی مختصر به تاريخ معاصر افغانستان ،مخونه 453 - 452(
سترجنرال ګارييف دنجيب سلاکار هم داپېښه دکی جی بی کار ګڼي او ليکي : " د1990 کال دبغاوت(کودتا ) پرمهال چې مخکې مې پدې اړه خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې وې لکه څرنګه چې زه وروسته پوه شوم زموږدکی جی بې استازی دجمهوررییس نجیب له مخکنیو چمتووالي خبر وخوداسې معلومېږي مسکو مېشتو آمرانو هغه (نجیب الله)ته اجازه نه وه ورکړې چې موږخبرکړي حتی دروسیې ددفاع وزیر اولوی درستیز یې هم په مسکو کې نه وو خبرکړي." که چېرې پدې پېښه کې دکی جی بی لاس نه وای اوشوروي سلاکارانو حکومت ته د خلقیانو په ځپلوکې مرسته نه وای کړې په کوم منطق سره ددې پېښې وروسته شوروي سلاکارانوته مدالونه ورکول کېدل چې یوازې د کورنیوچارو په وزارت کې دیارلس تنوسلاکارانو ته مډالونه ورکړل شول .

دلوی درستیز جنرال محمدآصف دلاور دا خبره چې دکب په اولسمه کله چې نور دتنې دپلویانو مقاومت پای ته رسېدلی و سهار وختي ددارالامان ماڼۍ ته ورغلی و ،هلته یې جنرال دوست محمد ، جنرال محمدفاروق ناصري اوجنرال محمداسمعیل وردګ چې شپه یې په ماڼۍ کې تېره کړې وه ویلي و: " موږ ټولي لارې پرې تړلې وې نه پوهېږم چې تنی په کومه لار له ماڼۍ نه وتلی دی." ښیي چې برید تنې نه بلکې نجیب پلوه ځواکونو ترسره کړ اودتنې - ګلبدین د کودتا تبلیغات داپلتو اوتشې ادعاپرته بل څه نه و.

که چېرې دکب دشپاړسمې نېټې پېښې اوپدې اړه ددولت لخوا دتنې دکودتا په اړه تبلیغاتو ته وکتل شي داپوښتنه را پیدا کېږي چې ولې دولت ددې خونړۍ پېښې مخه ونه نیوله ؟ پدې اړه اجمل اتک یوسفزي څېړنې کړې او دخلقي اوپرچمي ملکي او پوځي کدرونو اوخادېستانو معلومات راغونډکړي او په فېسبوک کې د "شهنواز تنی ولې کودتا ته اړووت؟" خپاره کړي چې په لومړی برخه کې دپرچمي جنرال خندان څخه چې دنجیب له ارادتمندانو اوددفاع وزارت داستخباراتو مرستیال اودپېښې وروسته ددفاع وزارت دکشف رییس و په اړه لیکي :" په دغه وخت کې ترې ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه وکړه چې د تنې په کودتاء چې ټوله دولتي اداره خبره وه نو ولې یې نجیب یا نورو دولتي چاروا کو مخه نه نیوله ؟
جنرال صیب خندان وویل چې ډاکتر نجیب ویل چې دا هر څه تاریخ لیکي او زه نه غواړم چې متعرض شم انتظار اوباسم چې تنې څه کوي ".
دنجیب له دې وینا څخه ښکاري چې هغه ته دانسانانو ژوند ، دهغوی دکورنیو برخلیک ،دخپل ګوند اودولت بدنامۍ اودپوځ کمزورۍ ارزښت نه درلود هغه ته داارزښت درلود چې خلقیان تاریخ محکوم کړي . خونجیب پدې نه پوهېده چې دی دروسانو له لوري دیوې وسیلې په توګه کارول کېږي ترڅو پوځ کمزوری شي اودې ته لاره هواره شي چې سیاسي واک شمال تلوالې ته ولېږدول شي .دا بیا د نجیب په هکله د کارملیانو دهغې خبرې سموالی ښیي چې ویل یې "سریې غټ ، عقل یې کم دی" .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دافغانستان دخلک دموکراتیک ګوند دویمه کنګره

دا ،خ، د ، ګ چې دموسسې کنکرې په دایرېدو سره یې بنسټ کېښودل شو دواک دترلاسه کولو پورې یې په پټه اونیمه څرګند ډول فعالیت درلود .واک ته له رسېدو وروسته بیا هم دګوند مشرتابه دکنګرې درابللو لیوالتیا ونه ښودله اوګونددپخوا په شان دمرکزي کمېټې چې په سرکې یې عمومي منشي ولاړ و دپوځي ارګان په څېر ددولت اوټولنې لارښونه کوله.په ګوندکې دواک پرسر دمبارزې له امله چې خبره یې دګوندي مشرانو اوګوندي کدرونودزنداني کولو،وژلو، تبعیدولو، کودتایي هڅو اوپه پایله کې شوروي نیواک شو، نه یوازې افغان اولس ته بېساره بدمرغۍ راوړې بلکې زیات کړاوونه اودسرزیانونه دګوندغړو اوپه تېره خلقیانو ته ډالۍ کړل.داحالت ددې سبب شوچې دخلقي اړخ دغړو اوکدرونوله لوري دګوند داساسنامې دپلي کولو او دکنګرې درابللو مسئله راوړاندې شي ترڅو دګوندي سازمانونو اودګوند مشرتابه ته رسېدل دمشروع ، قانوني اودموکراتیکې لارې چې ټاکنې دي پلې شي اوشته ناخوالو ته دپای ټکی کېښودل شي.دې غوښتنې ته دواکمنې کړۍ له لوري په هېوادکې دجګړوددوام په پلمه منفي ځواب ورکول کېده. دشوروي اشغال درې میاشتې وروسته د1359 کال دحمل په میاشت کې دکابل ښار په ځېنوګوندي سازمانونو کې خلقیانو په خپل سر دسازمانونو مشرتابه هیئت ته ټاکنې ترسره کړې چې رهبرۍ ته یې یوازې خلقیانو لاره پیداکړه .دې کار پرچمیان راوپارول اوویې هڅول ددې حرکت فعالان وځپي چې خبره یې ترور اوزنداني کولو ته ورسېده. ددې فعالانو له ډلې څخه دکابل پوهنتون اړونده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سازمانونوکې "محمدسلیم علمي دپوهنتون مامور ترور او جوکت سنګهه دعلي آبادروغتون ډاکتر زنداني شول ) ". ازموج تا توفان ، مخ 173 )
دپرچمیانو له لوري په خلقیانوفشار پایله داشوه چې دلوړوپوهنیزو بنسټونو محصلین اوددولتي ادارو ماموران اړشي دترور له وېرې اوخپلو کورنیو ته د نفقې دپیداکولو په موخه دپوځ اوڅارندوی لیکوته مخه کړي .
دخلقیانو له لوري دکنګرې درابللو فشار پرواکمن فرکسیون(پرچم) اوشوروي سلاکارانو هغه وخت لا زیات شوچې دشوروي پوځیانو د وتلو او دواکمنۍ څخه دمستقلانه دفاع پوښتنه مطرح وه. کله چې دنجیب اوتڼي ترمنځ اختلافونه دپوځي مخامختیا ترکچې ورسېدل چې په واقعیت کې دامخامختیا ددوو ځواکمنو څېرو ترمنځ نه بلکې دواکمن ګوند ددوو سیالوفرکسیونو یا دپوځ اوددولتي امنیت د ځواکونو مخامختیا وه.
خلقیانو دشته ستونزو اوکړکېچ حل دکنګرې په رابللو کې لیدلو خودنجیب ځواب داو" دکنګرې د دایرولو وخت نه دی هېواد دجګړې په حال کې دی " چې یوشمېر خلقي مشران هم ورسره همغږي وو چې دې خلقیانو دنجیب سره سیمه ئیز تړاودرلود اویا په مالي اواخلاقي فساد ککړوو .د پوځي مخامختیا وروسته چې دخلق دفرکسیون هغه ستره برخه چې دکنګرې درابللو غوښتونکي وه له ډګره واېستل شوه ، امنیتي حالات لا کړکېچن شول ، ددولت دکنټرول ساحه لا کوچنۍ شوې وه او دګوندیوشمېر بنسټ اېښودونکي اودمرکزي کمېټې غړي په جېل کې وو د1990 کال دجون په شپږویشتمه دګوند دویمه کنګره راوبلل شوه. دکب دمیاشتې دپېښې وروسته دمرکزي کمېټې دد برشوتنو خلقیانو څخه څلورویشت تنه یا بندي اویا وتښتیدل اودڅلوروسووتنو شاوخوا ملکي اوپوځي کدرونه زنداني شول اوګڼ شمېر نور له دندو ګوښه اویا تېښتې ته اړشول . دپوځي ټکر وړاندې دشوروي داشغال پرمهال دګوند واکمن اړخ اوپه تېره شورویانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکنګرې د نه رابللو لامل جګړه ګڼله خو خبره په جګړه کې نه بلکې په ګوندکې دهغه خلقیانو شتون وو چې په کنګره کې دهغوی دګډون له امله دمسکو له خوا پرګوند تېل شوی مشرتابه بدلېده چې مسکو ته داډول بدلون دمنلو وړنه و ، ځکه دمسکو ګوډاګیان دګوند له مشرۍ ګوښه کېدل .دګوند دویمه کنګره چې ځېنو دهغې دایرېدل مثبت ګام ګاڼه اوفکر یې کاوه چې هغه به داسې پرېکړې وکړي چې ګوند متحداویوموټی اوپه هېواد کې دسولې اوټیکاو دټینګښت لپاره شرایط برابرکړي .ددې ګوندیانو داهیلې په نهیلۍ واوښتې ځکه کنګرې ته ټاکنې رنې نه وې اودانتخابي غړو نه انتصابي استازو اودهغو کسانو شمېر زیات ووچې دپورته څخه نیول شوې پرېکړې په پټو سترګو تائید او تصویب کړي.لیکوال هغه مهال په مسکوکې زده کړې کولې .ښایي هغه مهال یوازې په مسکوکې د څلورو سوو شاوخوا ګوندیانو زده کړې کولې .په شوروي اتحاد کې ګوندیان دکنګرې له دایرېدو څخه له رسنیو خبرشول اوورو سته ویل کېدل چې دسفیر لخوا دوه تنه محصلین دکنګرې داستازو په توګه کابل ته استول شوي وو. دې انتصابي استازو له شرمه چاته نه ویل چې هغوی افغانستان ته په کنګره کې دګډون لپاره لېږل شوي وو. دااستازي لدې امله کنګرې ته استول شوي وو چې دکنګرې برخه والو ته وښودل شي چې حتی دبهرڅخه هم استازي کنګرې ته ټاکل شوي دي اومعنی یې داده چې په کنګره کې دټولنې دټولوطبقو اواقشارو استازو برخه اخېستې ده. که وویل شي دا استازي دچکچکو لپاره استول شوي وو مبالغه به نه وي. کله چې په شوروي اتحاد کې چې کنګرې ته داستازو دټاکنو لپاره اړین شرایط برابر و ټاکنې ترسره نشوې دا چې په هېوادکې جګړه روانه وه ، دپلازمېینې اوولایتونو، ولسوالیو اوولایتي مرکزونو ترمنځ دتګ اوراتګ خوندي لاره یوازې هوایي لاره وه څه ډول به ټاکنې ترسره شوې وي .عبدالقدوس غوربندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنجیب الله اوحفیظ الله امین له ارادتمندانو دکنګرې ترکیب اودکنګرې له لوري دګوند نوی ټاکل شوی مشرتابه داسې انځوروي :
- "دبریالي پټ تشکیلات چې ځانګړې رهبري ، موخې اوسازمانونه یې لرل ...
-بل ځواک چې دګوند په دننه کې یې (ګوندګی) جوړکړی و چې په نجم الدین کاویاني اوفریدمزدک پورې اړه لرله دوی دجمعیت دنظارشورا پټ غړي وو...
-ښاغلی کشتمند دکنګرې چلوونکی اوپه هغه پورې تړلي فاسد بوروکراتان...
-هغه ځواک چې په کنګره کې یې دګډون حق نه درلود دخلقیانو هغه ستره برخه وه چې دشهنوازتنی له کودتا وروسته په زندان کې وو ... ، هغوی دکنګرې پر قانونیت اوهغې ته داستازودټاکنو په څرنګوالي اوپه تېره داچې رهبري یې دپټو ، مستقیمو اوعمومي رایو له لارې نه وه ټاکل شوې اعتراض درلود.
-هغه ځواک چې نجیب الله اودملي روغې جوړې تګلارې ته وفادارګوندیان وو...
خودتمې خلاف اوحیرانتیا سره دمرکزي کمېټې په لست کې هماغه پخواني نومونه ولیدل شول ." (نګاهې به تاریخ حزب دموکراتیک خلق افغانستان ، مخونه 116 - 117 )
غوربندی لکه ددې ګونددمرکزي کمېټې دنوروغړو په شان دګوند مشرته دخپلې وفادارۍ په څرګندولو سره دمشر دهرې پرېکړې ملاتړ کړی اولاس یې ورته پورته کړی دی که څه هم ورسره همغږی نه و . دغوربندي داخبره چې "دتمې خلاف اوحیرانتیا سره دمرکزي کمېټې په لست کې هماغه پخواني نومونه ولیدل شول " کوم چې دشوروي ښکېلاکګرو همسفر اودشوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیواک اردلیان وو . یوشمېرېي دشوروي دپنځم ستون اونور بیادنظار شورا پټ غړي وو . عجیبه داده چې دګوند دمشرتابه لپاره دنجیب له خوا په ترتیب شوي لست کې کنګرې دنظار دشورا پټ غړي نجم الدین کاویاني او فریدمزدک دګوند مرستیالان اودشمال تلوالې بغاوتګر جنرالان ( عبدالرشید دوستم اومومن) دمرکزي شورا غړي وټاکل.د کنګرې له لوري دګوند نوي مشرتابه ته دکارمل زیات شمېرپلویانواو سکتاریستي فکرونو خاوندانو لاره ومونده چې دنجیب مخالفان وو.دګوند په رهبرۍ کې دنجیب دمخالفانو غښتلتیا ددې سبب شوله چې نجیب اړشي دهغوی په غوښتنه له شوروي اتحاد څخه دکارمل راستنېدو ته غاړه کېږدي البته شورویانو هم په خپل وار پرنجیب فشار راووړچې کارمل بېرته هېوادته راستون شي.

ددویمې کنګرې ددابېدو پایله داشوه چې پښتني ضد اودملي روغې جوړې ضد کړۍ په واکمن ګوندکې لاپیاوړې شي ، دنجیب خلاف ودرېږي ، هغه ناکامې تېښتې ته اړ او داسلامي انقلاب دبري په نامه په هېوادکې دځمکې پرسر محشر جوړشي. دا ګوندیانو اوافغان اولس ته دنجیب دکنګرې اصلي ډالۍ وه او نجیب په ویاړ ویل " زه وم چې له پنځه ویشت کلووروسته مې دګونددویمه کنګره راوبلله." دلته داپوښتنه راپیداکېږي په څه شي ویاړ، په دې ویاړ چې په ګوند کې سکتاریستي ډلې پیاوړې شي ، افغانستان دتجزیې له ګواښ سره مخ شي اودهېواد دوروستۍ نیمې پېړۍ دتمدن ټولې نښې نښانې پوپناه شې ؟ښایي دنجیب پلویان پدې اړه ووایي چې وایي هم کارملیانو دواکمنۍ خلاف کودتا وکړه اونجیب ملامت نه دی. خودوی پدې سرنه خلاصوي اویا داوړتیا اوبصیرت نلري وپوهېږي چې دا د نجیب تېروتنه یا ناپوهي وه چې په کنګره کې یې دملي پخلاینې مخالفین په ګوند مسلط اودبېساره واک او ځواک خاوندان کړل. دبېلګې په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم هوښيار اوځيرک سياستوال به ددوستم په شان دايم الخمر لوېدلی وګړی د ګوند مشرتابه ته راپورته کړي ، هغه ته به د اتل لقب ورکړي او ديوې فرقې قوماندان به يې مقرر کړي؟ددې پوښتنې ځواب به داوي چې دنجيب په شان دپرديو له لوري واک ته رسول شوی ولسمشر به په داډول احمقانه کار لاس پورې کوي.

دويمې کنګرې دا،خ،د،ګ نوم دوطن دګوند په نامه واړاوه اودګوندنوې تګلاره او اساسنامه يې هم تصويب کړه خودګوند دلارښونکي هيات غړي يې هماغه کسان وټاکل چې پوره لس کاله يې ګوند رهبري کاوه خو دشوروي دمزدورانو تله پکې لا درنه شوه .دې دامعنی لرله چې په کنګره (ورکشاپ) سور رنګه ګاډی (موټر) ترميم او دسره رنګ پر ځای هغه تور رنګ کړي خو انجن يې هماغه زوړ انجن او مهمې پرزې يې پخوانۍ زنګ وهلې پرزې وي چې دخوځښت پر مهال دتېرپه شان په خورا سختۍ اوټيلو ټمبو سره په خوځښت را شي چې هغه به هېڅکله هم مزل ته ونه رسيږي له خوځښت ولويږي او دګاډيو مړستون ته ولېږل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دخلقیانو اوجهادیانو بچیانو اوپښتنو ځوانانو!

ډاکتر نجیب الله دافغانستان خلک دموکراتیک ګوند(ا ، خ ، د ، ګ) په انشعاب کې د ببرک کارمل مشري ومنله او دکارمل په سووېتستي فکري مکتب کې وروزل شو. نوموړی دشوروي دخونړي یرغل سره سم اشغالګرو دهېواد دڅارګرې ادارې (خاد) مشروټاکه .په دې دوزخي اداره کې یې دکی جی بی بشپړ باور ترلاسه کړ او دببرک کارمل پر ځای یې د دولت دمشر په توګه مقرر کړ .د ګرباچف ددستور له مخې د نجیب له لوري دملي روغې جوړې دتګلارې اعلان ، دافغانستان څخه دشوروي لښکرووتل ، دنجیب دحکومت دنسکورېدو وروسته په افغانستان کې دځمکې پرسر محشر جوړېدل، دشمال تلوالې ملي او پښتني ضد جنایتونه ،د نجیب له خوا ددې وحشت او بربریت دراتلو وړاندوېینه اوډطالبانو له لوري دنجیب بیله محکمې په دارځړول هغه څه دي چې د ځینو ناخبره ځوانانوله انده نجیب اتل شي . پدې لیکنه به ددې ځوانانو دپلرونواو ددوی دکورنیو د مشرانو ،دخپلواکۍ دګټلو دمبارزانو په وړاندې په خپله دنجیب ، خادیستانو اوده دحکومت چلند اوکارنامو ته ځغلنده کتنه وشي:

الف - د خلقیانو بچیانو!

که د پخواني ا ،خ،دګ د پرچمیانو زامن اولونې دخپلو پلرونو اومیندو سره دکورني تړاو له امله نجیب خپل اتل ګڼي، حق لري او ملامت نه دي، ځکه د دوی پلرونه اومیندې د نجیب په شان د شورویانو د اشغال له برکته دواک اوځواک، شان اوشوکت خاوندان شول اود اشغالګرو سره یې په ګډه په افغان اولس مېچنې وګرزولې نوهغوی باید نجیب اتل وګڼي ، خو د خلقیانو بچیانو ته لاندې یو لړ یادونې اړینې دي چې و یې لولي او د نجیب په اتل ګڼلو اویا نه ګڼلو بیا له سره فکر وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱) کله چې ستاسو پلرونو د افغانستان خلک دموکراتیک ګوند جوړ کړ، کارمل شورویانو ولمساوه چې خپله لاره ترې بېله کړي، ځکه چې په خلقیانو یې بشپړباور نه درلود ،هغوی یې وروسته پاتې کلیوال او کلک ناسیونالستان ګڼل چې هېڅکله به سوښتستان نشي .

۱) کله چې کارمل دستاسو دپلرونو په وړاندې د ا،خ،د ،ګ په نامه موازي ګوند جوړکړچې نجیب یې دفعالانو څخه و په خپلو تبلیغاتو کې یې دسلطنت ،حکومت اونوروسیاسي ډلو په پرتله ستاسو پلرونه ډیر غندل ، ډول ډول تورونه اوتومتونه یې پرې لګول اوهغوی یې دسي آی اې جاسوسان ګڼل .ښایي دپرچمیانو بچیان نن هم تاسو دسي آی اې دجاسوسانو بچیان وګڼي خوتاسو نجیب ته اتل وایئ.

۳) ستاسو پلرونودثورکودتا یا انقلاب وکړ،کارمل اوکارمل ته وفاداروپرچمیانو اوپه هغوکې نجیب دخلقیانو پرضدنارواتبلیغات اوتاسو دپلرونو دحکومت خلاف دسیسې جوړولې .ددې دسیسو عاملین چې نجیب هم پکې و ،ستاسو پلرونو دشورو یانو په غوښتنه کارمل ، نجیب اونورپرچمیان سفیران کړل . سره لدې پرچمیانو ستاسو دپلرونو دحکومت خلاف د پوځي کودتا پلان جوړکړ،کودتا کشف اوشنډه شوه .سفیران راوغوښتل شول خوهغوی هېواد ته راستانه نشول.

۴95) د نجیب په شمول پرچمي سفیرانو بیا سفارتونه چې د افغانستان ملي شتمني ده چور کړل او د شوروي تر حمایت لاندې ختیځې اروپا ته وتښتېدل. په ټولو کې نجیب دسفارت زیاته پانګه له ځان سره وړې وه . دوی به ستاسو دپلرونو په اړه جعلي اسناد اندروپوف ته (چې دغه مهال د کې جي بي مشر و) لیږل چې ګواکې خلقیان قبیلوي پښتانه دي، تاسو غولوي ، هغوی سوسیالستي ټولنه نه جوړوي او...

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵) تردغو شیطانتونو وروسته روسانو پر افغانستان یرغل وکړ او نجیب د کارمل سره یوځای په شوروي ټانکونو سپور افغانستان ته دیرغلګرو داردلي په توګه راغی او له شورویانو سره یې د ګران افغانستان په نیولو او د خلقیانو د واک په رنګولو کې برخه واخیسته. نجیب د خاد رییس شو، داشغال ضدټولو افغانانو ترځنګ به یې آزادخیاله خلقیان دامینیانو یا باندیستانو په نامه بندي او شکنجه کول اوګڼ شمېر یې اعدام هم کړل. دادوه ټکي هم هېر نشي .یوداچې پرچمیانو هرخلقی امینی اوباندیست باله اوبل دا چې زموږ په خاوره دشوروي اشغالګرو دتیري اصلي موخه " د اکثریت (پښتنو) د یکتاتوري ختمول اودولتي ځواک اقلیتونو ته لېږدول و. "( الیانوفسکی، دافغانستان پرضد نااعلان شوې جګړه، مخ 89 ) نجیب دشوروي اشغالګرو داردلي په توګه پوره دولس کاله دشورویانو دپښتني ضد تګلارې رښتینی پلې کونکی پاتې شو اوملي ضد پښتون دښمنه کړې یې تردې کچې چاغې اوپیاوړې کړې چې بالاخره پرافغانستان واکمنې شوې .

۶) کله چې شوروي مشران پوه شول چې دافغانانو دمقاومت له کبله افغانستان دشوروي په شپاړسم جمهوریت نه اوړي ، دګرباچف دواکمنۍ پرمهال شورویانو د افغانستان څخه دخپلو پوځونو د ایستلو پرېکړه وکړه اوخپل ډاډمن نوکر نجیب یې د افغان حکومت مشر وټاکه. پرچمیانو د ده پر ضد مظاهرې وکړې، خو خلقیانو دنجیب ملاوروتړله چې ستاسو دپلرونو دملاتړ له برکته نجیب خپلې پښې ټینګې کړې.

۷) نجیب دیوه پرچمي په توګه ستاسو په پلرونو باور و نه کړ داردو دکمزورولو او ددولتي امنیت او ملیشه یې لښکرو په جوړولو او تقویه کولو یې لاس پورې کړ. کله چې ستاسو پلرونو (خلقیانو) ورته وویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اردو مه کمزورې کوه ، نو پرشهنواز تڼي او خلقیانو یې کودتا وکړه او ستاسو پلرونه یې دکودتا په تورووژل ، بندیان یې کړل اوله پوځ څخه وشړل.
۸) خادستانو به ستاسو پلرونه دجګړې په ډګرکې له شا څخه ویشتل،دسیسې یې ورته جوړولې چې یا یې بندیان او یاله دولتي دندو ګوښه کړي حتی ستاسو پلرونه یې ترورهم کړل .
۹) دهغوخلقیانو زامن اولونې چې پلرونو یې دتڼي اوخلقیانو خلاف پوځي برید کې د نجیب ملاوروتړله او ځینو یې مستقیماً ددولتي امنیت اودوستمي ملیشو سره ګډ دخپلو ټوپکو شپېلۍ دخپلو خلقي ملګرو په لور وګرزولې باید له خپلو پلرونو پوښتنه وکړي چې دوی ولې دخپل نه پخلا کېدونکي سیال سره لاس یوکړ اودخپلو ملګروخلاف یې مورچلونه ونیول ؟
ب- د جهادیانو زامنو!
۱) تاسو ته باید وویل شي ستاسو پلرونو چې د شورویانو څخه دوطن دآزادولو په پاروسله واخېستله اوداشغالګرو په وړاندې جهاد کاوه. کله چې به ستاسو پلرونه دجګړې په ډګر کې دشوروي پوځیانو اویا دولتي ځواکونو له لوري اسیر او نیول کېدل اویا په دولتي ادارو اوپوهنیزوبنسټونو کې داشغال ضد شک پرې کېدلو دولت بندیانول. ستاسو پلرونه بل چا نه بلکې دنجیب په لاس جوړشوي خاد شکنجه اوبیا یې چانواري کول.
۲) نجیب تردې کچې ستاسو دپلرونو څخه کرکه لرله چې په جګړه کې ستاسو اسیرشوي اویا تسلیم شوي پلرونه سمدلاسه بېله محکمې وژل . په 1359 کال کې د2500 تنو شاوخوا ستاسو پلرونه دهرات په ښار ورننوتل دولایت دمقام ، سیمه ئیزې رادیو اوهوایي ډګر پرته په ښارواکمن شول.دښار دبشپړسقوط له وېرې د دولت یوغټ پلاوی چې په هغوکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارمل لوی پوځي سلاکار، ددفاع اوکورنیو چارو وزیران اودخادرییس نجیب هم و هرات ته لاړ چې دهرات دبشپړ سقوط دمخنیوي په موخه اړین تدبیرونه ونیسي .پرېکړه وشوه چې شوروي او افغاني لښکرې ښارمحاصره کړي اوتبلیغاتي پاڼې دچورلکو په واسطه په ښارکې واچوي چې ښارمحاصره دی اوهغه مجاهدین چې تسلیمېږي هغوی ببښل کېږي .داپاڼې نجیب او دفاع وزیر لاسلیک کړې. کله چې داتو سوو شاوخوا ستاسو پلرونو دریو جوماتونو ته دبښني په تمه پناه یووړله اووسلې یې پرځمکه کېښودلې په یوه شپه نجیب د دریو سووتنوشاوخوا ستاسو پلرونه بېله محکمې ووژل خو دشوروي لوی پوځي سلاکار دمخالفت له امله نجیب ستاسو دپلرونو قصابي ودروله . شوروي سلاکار په خپل کتاب کې دنجیب دا جنایت ځناورتوب اوهغه د سپي زوی یادوي .

۳) کله چې به ستاسو په پلرونو روسانو او دولتي ځواکونو او ملیشو له هوا او ځمکې عملیات کول، دمسعود جنکیالیو ته به یې خبر ورکړ چې موږ یوه لار پریښې چې اشرار پرې وتښتي، تاسو ورته کمین ونیسئ او ویې ولئ. مسعود هم که ستاسو پلرونه وژلي دي، د نجیب په مشرۍ د خاد په مرسته یې وژلي دي. ددولت اومسعودترمنځ داهمکاري دهغوپټو لوزنامو له مخې کېدله چې مسعود د شورویانوسره لاسلیک کړې وې.

۴) نجیب شوروي اشغالګرو پوځیانو ، ستاسو دپلرونو قاتلانو ته د ګلونو امیلونه اچول اومډالونه ورکول خو ستاسو کلي یې په سکاډ ، لونا ، اوراګان او هوايي بمباریو دخپل واک تروروستۍ ورځې ویشتل.

ج- پښتنو ځوانانو!

هېڅ افغان اوپه تېره سیاستوالو اولیکوالو ته نه ښایي خپل هېوادوال په پښتنو اوغیر پښتنو اوپښتانه په درانیو اوغلزیو وویشي ځکه دا دافغان اولس ددښمنانو غوښتنه اودملت جوړونې په لاره کې دډېرو اچولو افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضد هڅه ده .خو ځینې ځوانان لدې امله د نجیب مینان دي چې هغه پښتون و.افغانستان دګڼ شمېر ورونړو قومونو ګډ کور دی . ټول ورونړه قومونه که غټ دي یا واړه ، دیوبل څخه برتري نلري ، مساوي حقونه اودوطن په وړاندې ګډ مسؤلیتونه لري . خو که هرقوم اوتوکم دخپل قوم اړونده سیاستوال یامشر ترشا ودریږي ببله دې چې دهغه مخینې ، کړنواوکارنامو ته وګوري پایله یې داکیږي چې دوطن دخادمانو اوخاینانو فرق ونشي .له بده مرغه دهېواد روان اوږدمهال کړکیچ ، کورنیو شخړو اوجګړو ،دپردیو لاسوهنو او پرله پسې اشغالونو زموږټولنه وویشله اوپه تېره داشغال مشهورفورمول "ببېل یې کړه ، اېل یې کړه "ځینې سیاستوال وپېرل او داپېرل شوي خاین سیاستوال دافغان اولس دوېشلو په موخه دخپل قوم اوتوکم ترشا ځانونه پټ کړي دي اوقومي دښمنیو ته لمن وهي.له بده مرغه وینو چې ځینې تاجکان داحمدشاه مسعود، ځینې ازبک دعبدالرشید دوستم او هزاره ورونړه دعبدالعلي مزاري څخه اتلان جوړوي چې هغوی بل څوک نه بلکې دافغانانو اودخپلو قومونو قاتلان دي اوپښتانه ځوانان بیا دنجیب څخه اتل جوړوي چې دخپلو هېوادوالو په وژنو اوپردیپالنه کې دمسعود، دوستم اومزاري څخه شاته نه دی پاتې شوی .دا څلور واړه دکی جی بی سره ټینګې اړیکې لرل اوکی جي بې ددوی دنږدې کولو په چاره کې بریالی هم وه .ددوستم اونجیب تودې اړېکې چې نجیب دا بداخلاقه او بېسواده کارکر ترډګرجنرالی ورساوه اوداتل لقب یې هم ورکړ.نجیب ددوستم د واده ټول لګښتونه ددولت له بودجې ورکړل او مېرمنې ته یې قېمتي جامې اوګڼې هم ډالی کړې .په جهادي مشهورو قوماندانو لکه عبدالحق ، اسمعیل خان ، حقاني ، قاري بابا ،ملا ملنګ ، امان الله کې یې یوازې احمدشاه مسعود ته ددفاع وزارت وړاندیز وکړاوډېره موده یې دافغانستان ددفاع وزارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوکۍ بېله وزیره مسعود ته تشه پرېښودله . مزارۍ خویې دحزب وحدت اسلامي مشرۍ ته ورساوه.

دنجیب ځېنوکارنامو ته په تېرو لیکنو اوهمدې لیکنه کې ځغلنده کتنه شوې ده اودلیکنې په دې برخه کې به دپښتنو اوپښتو په وړاندې دنوموړي کارنامو ته ګوته ونیول شي:

۱) نجیب دپښتون په توګه دخپلې مورنۍ ژبې سره څرنګه چې ښایي مینه نلرله، دوې بېلګې یې دادي . نوموړی یوګوسلاویا ته دناپېیلو هېوادوغونډې په نیت روان و، دلنډ وخت لپاره په جلال آبادکې تم شو.دجلال آباد دخلکو غونډې ته یې وویل چې په فارسي خبرې وکړم که په پښتو؟ ټولو وویل په پښتو.نجیب وویل ښښه غواړم چې هلته څوک په پښتو نه پوهېږي اوزموږ پښتو ترجمانان نشته بیا یې ننګرهاریانو ته په دري وینا وکړه. که دا ومنوچې هلته پښتو ژباړونکي نه وو نجیب به له ځان سره یو ژباړونکی بوولی وای.له بله پلوه دناپېیلو هېوادونو په غونډه کې هسې هم نه په پښتو څوک پوهېدل اونه په دري. همدارنګه هغه په فرانسه کې د یونیسیف لخوا رابلل شوي نړیوال کنفرانس کې دایراني په څېر په ایراني فارسي لهجه وینا وکړه.

۲) نجیب هغه لړکیو ډلو ته چې په هېواد کې یې دفدرال نظام لپاره مبارزه کوله اوپښتنې ضد دریځ یې درلود د سیاسي اوتبلیغاتي فعالیتونو پراخ امکانات ورکړل اودولت ورسره مالي مرستې هم کولې چې دببرک کارمل دواکمنۍ پرمهال داسې نه وو شوي. دبېلګې په توګه په کابل کې د " مرکز انسجام ملیت هزاره"یوه ځانګړې اداره جوړه شوه چې "دغرجستان" په نامه یې یوه مجله هم خپروله .دې مجلې دافغانستان په دننه کې دفدرالي جوړښت په بڼه د"غرجستان " په نوم دیوه خپلواک سیاسي - جغرافیایي تشکل دجوړېدو غوښتونکی و .دوی "غور" دهزاره ګانو اصلي ټاټوبی باله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ګواکې پښتنو داسیمه په زور نیولې ده .د" مرکزانسجام ملیت هزاره" او "غرجستان "مجلې دکارکونکوتنخوا اولګښتونه ددولت له بودجې څخه ورکول کېدل.د نجیب د خاد اداري شیعیه ګوندونوته بل ستر خدمت داو چې دشیعیه ګانو اوه تنظیمونه یې دعبدالعلي مزاري ترمشرۍ لاندې په یوه واحد ګوندکې تنظیم کړل .

دنجیب دواکمنۍ پر مهال دستمیانو ګوند (سازمان انقلابي زحمتکشان افغانستان یا سازا ) چې په ډاګه یې پښتني ضد اوافغاني ضد مسایلو ته لمن وهله ،په څرګند ډول میدان ته راووت اوپه کابینه کې یې دصدراعظم دمرستیال په شمول مهم وزارتونه ترلاسه کړل. دې ډلې هم د " میهن" په نامه اونیزه لرله اوپه خپرونو کې یې دافغانستان پرځای د " خراسان " اودافغانانولپاره د"خراسانیانانو" اصطلاح کاروله.ددې اونیزې لګښتونه هم دولت ورکول.اوس تاسې دنجیب پښتانه مینان قضاوت وکړئ چې نجیب د ملي ضد او پښتني ضد ډلو پیاوړتیا ته مرسته کړې ده چې یوملي مشر هېڅکله هم داسې ملي ضد کارنه کوي.

۳) د1359 کال ددلو ې په دویمه نیمایي کې په جلال آباد کې یوولس تنوشوروي پوځیانو دیوې پښتنې کورنۍ په دریو نجونو دهغوی دپلرونو ، میندو، وروڼو اوخویندو ترمخ جنسي تېری وکړ، وروسته یې دایوولس کسیزه کورنۍ ووژله ،دهغوی په جسدونویې تیل واچول او ویې سوځول اوددې کورنۍ یوولس پسونه یې خپلې قطعې ته یووړل .نجیب" دا جنایت په بدلو جاموکې د غلیم کارګنې." خو شوروي جنرال" داجنایت دشوروي پوځیانو کار بولي" دلته دنجیب افغاني ضد اوشوروي پالنې اصلي جوهر بربنډېږي چې دخپلو بادارانو دخوشالولو لپاره یې دشوروي پوځیانو جنایت دخپلو وطنوالو په غاړه اچولو.البته ګوډاګیان ټول ګډې ځانګړتیاوې لري. شاوخوا دوه کاله وړاندې امریکایانو په یوه هوایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بمباردکې په وردګوکې بېګناه ملکي خلک ووژل .امریکایانو وروسته دهغوی کورنیو ته دخپلې تېروتنې خوبربنۀجنایت له امله نقدي مرستې وکړې اوبښنه یې وغوښتله خو دغنې حکومت داملکې وژل شوي هېوادوال وسلوال طالبان ګڼل.

۴) نجیب د پکتیا اوخوست یوشمېرمشرانو ته د ارګ په یوه غونډه کې وروسته له هغې چې هغوی له ده څخه غوښتي و چې دتنې دکودتا په توربندیان شوي افسران وبښي . نجیب ورته ویلې و » :دوستم ما ته د غوښو دېوال جوړ کړی دی او ساتي مې خو تاسو را باندې کودتا کوئ.« او بېله دې چې دهغوی سره خدای په اماني وکړي له خپل ځای جګ اوله غونډې وتلی و .آیا کوم سیاستوال به قومي مشرانو ته داسې سپکاوی وکړي خونجیب داسپک کارکړی دی.

۵) نجیب په ښکاره ویل چې حکمتیار به پرې نه ږدم کابل ته را ننوزي.هغه دخپلوګوندیانو یوې غونډې ته ویلي و ": له شماله به مسعود له غربه به هزارګان له جنوبه به حقاني او سیاف او له ختیځه به عبدالحق په کابل راشي او په خپلو کې به داسې وجنګیږي چې د کابل په کوڅه کوڅه کې به وینې تویې شي، ' مجاهدین به بدنام او موږ به نیک نام شو .د غونډې یوه برخه وال ترې وپوښتل چې داسې ده نو موږ بای‌د د وطن د لوړو ګټو په خاطر قرباني ورکړو او حکومت د مجاهدینو په منځ کې داسې چا ته وسپارو چې ثبات ټینګ کړای شي خیر دی زموږ‌یو څو ملګري دې پکې قرباني شي خو چې نظام ونه پاشل شي ' د نجیب ځواب دا و چې د مجاهدینو په منځ کې حکمتیار دغه قوت لري خو هغه رانه نشي راتللای زه غواړم هغه بېرون پاتې شي ' کله چې ورته وویل شول چې آیا موږ پخپله د نظام ړنګولو ته زمینه برابره وو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نجیب ځواب دا و : " همگی رامیمانیم خو حکمتیار از پیشم آمده نمی تواند وی بیرون و دیگران را داخل میکنیم باز دیگران ازدست او حکومت کده نمیتانه"....

د خلقیانو اوجهادیانو بچیانو اوپښتنوځوانانو ! د پاسنیو څرگندونو سربېره تاسو ته ښايي چې دنجیب دشخصیت اوکارنامو په اړه ځان خبرکړئ ، ترڅوهغه ښه وپېژنئ .تاسو یا دبې خبری ، یا دنجیب دپه زړه پورې ویناوو او دنجیب دخیانتونود شریکو کسانو دناسمو تبلیغاتو له کبله تېرایستل شوي یاست او نجیب اتل گڼئ .ستاسود ځېنو بې خبرې لدې ښه ښکاري چې نجیب خلقی گڼي پداسې حال کې چې هغه پرچمي او د ببرک کارمل له ارادتمندانو څخه و .نجیب الله ستاسو اتل نه، بلکل ستاسو د پلرونو قاتل دی.په اتلانو پسې مه گرځئ هڅه وکړئ تاسو هریو په خپله اتل شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نجیب د ببرک کارمل د مدرسې غوره شاګرد

لکه څرنګه چې ګوند دهمفکرانو یوسیاسي جوړښت دي ، دجوړېدو موخه یې سیاسي واک ترلاسه کول دي او واک ته درسېدو په موخه دمبارزې پرمخ وړلو مختلفې بڼې غوره کوي.اوس به دپرچمیانو دمبارزې بڼې ته ګوته ونیسو . که څه هم دا،خ،د،ګ په اساسنامه کې په پارلماني مبارزه ټینګارشوی و هغه اساسنامه چې د انشعاب څخه مخکې د واحد ګوند په مرکزي کمېټه کې تصویب شوې وه .دانشعاب وروسته دکارمل ډلې هم ددې اساسامې دپلې کولو ادعا لرله چې هغه دپارلماني مبارزې له لارې واک ترلاسه کول و. خوعملاً یې دمبارزې بله بڼه غوره کړې وه اوهغه به دکارمل څخه واورو: " د تکنالوژۍ او داطلاعاتو او اړیکو د پرمختګ ، دنړیوالو شرکتونوترمنځ دراکړې ورکړې دزیاتېدواودنویونړیوالوهمکاریودمنځته راتلوله امله زموږنړۍ کوچنۍ شوېده اوهره پېښه که هرڅومره کوچنۍ هم وي نړۍ ترې اغېزمنه کېږي.دملي یوازیتوب وخت تېرشوی دی او راتلونکی برخلیک دزبرځواکونوپه لاس کې دی . ګوندي هویت موباید سوسیالستي لوری ولري اوکدرونه په همدې روحیه وروزو" .(نګاهې به تاریخ حزب دموکراتیک خلق افغانستان ، مخ27)دکارمل پاسنۍ وینابښیي چې دپرچم ګوند اړینه ګڼله خپل برخلیک دوخت زبرځواک شوروي اتحادته وسپاري اوخپل ګوندي ملګري شوروپانوته په وفادارۍ وروزي. دا دکارمل دمدرسې بنسټیز اصل و.همدالامل و چې پرچمیانو په خپلو میټېنګونو، ګوندي حوزو، خپرونو اوتبلیغاتو کې یوازې شوروي اتحاد یاداوه ، دشوروي اتحادبهرنۍ تګلارې یې تائیدولې، دشوروي دکمونست ګوند دمشرانو صفتونه یې کول اوخپل صفوف یې شوروي اتحادته په وفادارۍ روزل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثریا بها دنجیب دورور مېرمن اودپرچم دفعالانوځخه چې میراکبرخیبر دخپلې لورپه نامه په کابل کې دشوروي سفارت مېلمستیاوو اومجلسونو ته له ځان سره بیوله لیکي: " له بده مرغه دپرچم دګوند دزیاترو مشرانو دوجود ټولې برخې روسي شوې وې . هغوی انساني اوملي ارزښتونه دشوروي اوسویتیسم دګټو پربنسټ تلل. سلطانعلي کشتمند...، به که کوم ملګري دشوروي په شوونیسم کوچنۍ نیوکه وکړه هغه به په غوسې سره دنوموړي انقلابي ایمان ترپوښتنې لاندې ونیو اوپه هیجاني ډول به یې ویل چې ماته دآمو سیند هغه خوا ټولې غوماشې دجیټ الوتکې دي." ( رها دردریا ، مخونه 108 - 109 )

دشوروي د سفارت په مېلمستیاوو اوخصوصي غونډو کې دپرچمي مشرانو دګډون په اړه افغان سیاستوالو اولیکوالو یادونې کړې دي اودپرچمیانو پرته په شوروي سفارت کې دوخت دنوروسیاسي ډلو دشتون په اړه څه نه دي ویلي . دپلوشې جریده د1374 کال په دریمه ګڼه کې دسردارمحمدداود دکابینې دیوه غړي له قوله لیکي: " موږ په کابل کې دشوروي سفارت لخوا رسمأ دځېنو خبرولپاره نوموړي سفارت ته بلل شوي وو ، کله چې سفارت ته وردننه شوو نودسفارت کارکونکو موږته هرکلی ووایه ، دی (کارمل) هم لکه د سفارت دیوه غړي په توګه دهرکلي ویونکو په ډله کې ولاړ و " .

افغان ژورنالست شاه زمان وریځ ستانیزی دمحمدداوددواکمنۍ پرمهال په کابل کې دشوروي په سفارت کې دیوه دعوت داسې انځور کاږي :« په سفارت کې دسفارت غړواوپخپله سفیرپوزانوف دمیلمنوهرکلی کاوه. صالون ته ننوتم، ومې لیدل چې دپرچم وتلي غړي دببرک کارمل، اناهیتا ، بارق شفیعي اونوروپه شمول چې شمېرې یې شلوتنوته رسېده لکه دسفارت دغړوپه څیردمیلمنوهرکلی کاوه. خودخلقو له اړخه هیڅوک هلته نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شورويانو هيڅکله هم دخلق اړخ نه دعوتاوه. موږهم دډيروخت راهيسي دخلقيانو هيڅ يو غړی په دعوتونوکې ندی ليدلی. اوشورويانو هم خلقيانو ته کومه ليوالتيا نه لرله »( سهل انګاري محمدداودخان وکودتای « ۷» ثور، مخ ۷ )

دپرچميانو مشرببرک کارمل دشوروي پالنې په مينه کې دومره ډوب وچې دخپل زوی نوم يې وستوک (ختيځ يا شرق) ايښی و.

کله چې په 1968 کال کې شوروي ځواکونو په چکوسلواکيا پوځي يرغل وکړ اوهلته يې خپل لاسپوځي واک ته ورسول دپرچم په جريده کې دشوروي اتحاد دا پوځي لاسوهنه انټرناسيونالستي دنده وګڼل شوه.هغه مهال د ختيځې اروپا دسوسيالستي هېوادونو پرته ټولې نړۍ دشوروي تېری وغانده.

پرچميان په شوروي پالنه کې تردې کچې پرمخ تلل چې دخپل مسلمان اولس د ديني اومذهبي احساساتود درک وړتيا نلرله اوددې خيال يې هم نه ساتلو چې دخپلو بادارانو دخوشالولو په موخه په خپلو څرګندونو اوکړنو سره خپل مسلمان خلک خوابدي کوي .ښه بېلګه يې دلينن دزوکړې دسلم دتلين دنمانځلو په مناسبت دپرچم په فوق العاده ګڼه کې دلينن دانځورسربېره دبارق شفيعي شعر خپرول و چې هغه په لاندې بيتونو پای ته رسېدلی و :

برای اين دست آوردهای بيمانند

ما به آن حزب پيشقدم درود ميفرستيم

وبه مردم قهرمان

مابه آن پيشوای بزرګ درود ميفرستيم

به لينن بزرګ .

ژباړه:

ددغوبېساره لاسته راوړنو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږهغه مخکښ ګوند ته درود استوو
اواتلو خلکو ته
موږ هغه سترلارښود ته درود استوو
ستر لینن ته.

دشعر خپرېدل دملایانو دسخت غبرګون سبب شو ، په کابل کې یې لویه مظاهره تنظیم کړه او دهېواد دګوټ ګوټ څخه ملایان کابل ته راغلل ، دپل خشتي په جامع کې یې شپې اوورځې تېرولې اودجومات له منبر نه یې دکینې لاسواوشوروي اتحادپرضد ویناوې کولې، دپرچم دجرېدې دبندولو ، دهغې دمسؤلینو اوشاعر دمحکمې غوښتنه یې کوله. سلیمان لایق چې دپرچم دجرېدې مسول مدیر واودیني زده کړې یې هم کړې دي په دې هکله په یوه لیکنه کې لیکي چې په اسلام کې یوازې په حضرت محمد(ص) اودهغه په اولادې درود ویل جواز لري ،د دې شعرخپرول غندي اود دې لپاره چې ځانته برآت ورکړي داهم اضافه کوي چې د ده پرته د جریدې دتحریر هیآت ټولو غړود کارمل ، خیبر ،اوکشتمند په شمول د شعرپه خپرولو ټینګار درلود . لایق نه پوهېږي چې ده د جریدې د مسؤل مدیر په توګه دهرچا نه زیات په جریده کې ددې شعر دمخنیوي مسؤلیت درلود .حکومت دملایانو دغوښتنې سره سم اړشو چې دپرچم جرېده د99 ګڼو دخپرېدووروسته بنده کړي. ددې شعر دخپرولو پایله داشوه چې دهېواد دودیزه ملایان دسیاسي اسلامپالو ډلو سره ګډه ژبه ومومي اودپل خشتي دجامع دمنبر څخه دمترقي ځواکونوپه وړاندې د واحد ستېږ په څېر ګټه پورته کړي اوله بله پلوه په کینې لاسو اوروڼ اندو دکمونست ،ملحد اومرتد تورونه یې پر هغوی یقیني کړل. لایق چې دشوروي اشغال وروسته حماسي شعرونو ویلو ته مخه کړه دشوروي داشغال په کلونو کې شوروي انټرناسیونالست پوځیان ستایل ، دشوروي ټولنې اوشوروي نظام دښیګڼو ، داشرارو او امپریالستانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنایتونو په اړه شعرونه ویل . دساري په توګه به دنوموړي دیوه شعرچې عنوان یې شوروي قهرمانان دی یوبیت وړاندې شي :

دا هماغه شوروي قهرمانان دي چې په سره لاره کې دثور قربان دي
سرېتوب ته ددوی لاره مدرسه ده دوی دیوې ټولنې نه دي د جهان دي

( اپریل ځلیرویشتمه, 1981 ,سلیمان لایق)

دکارمل شوروي پالنه اودشوروي دګټوځخه دنوموړي دفاع په اولسي جرګه کې د وکیل په توګه ښه معلومېږي .د ۱۹۶۶ داپریل په ۲۵ نیټه ولسي جرګې دنغلودبریښنا دبنددجوړولودچارودڅیړنو لپاره دیوه کمیسیون دټاکلوپریکړه وکړه . په غونډه کې کارمل وایي: « دهلمنددوادی پروژه پرتله کړی، چې څومره توپیرلري؟ دنغلوپه پرتله دهلمنددوادی په پروژه کې لس برابره لګول شویدي. لدې امله که موږپریکړه کړې ده چې یو انجمن جوړکړو چې دنغلوچارې وڅیړي زه وړاندیزلرم چې موږداسې یوه کمیټه وټاکو چې په سړه سینه ، بې پریتوب اووطندوستۍ غور وکړي . یوه استازي کارمل ته وویل. موږ چې اوس دنغلودرئیس دخیانتونواو دموټروانانو د تیلو دنه مجرایۍ په هکله بحث کوو. ببرک کارمل غواړي دامسئله دنورومسئلو تر اغیزلاندې راوړي او ددې موضوع په اړه دبحث مخنیوی وکړي. دببرک کارمل له خبروداسې پایله اخیستل کیږي څرنګه چې د هیرمند په وادۍ کې خیانت شوی نوپه ټولو پروژو کې هم خیانت وشي»( سیدرسول، ببرک درپارلمان محمد ظاهرشاه - کشککی ، مخ ۱۲۵ (

دشوروي اتحاد داشغال پرمهال دکارمل اودهغه دمدرسې د شاګردانو له خوا دشوروي دولت ستاینه ، دشوروي اتحاد په دوستۍ ویاړ ، شوروي اتحاد ته دمشر ورور ، غټ دوست اودې ته ورته لقبونو ډالۍ کول دکارمل دمدرسې جوهر ښیي.کارمل دادوستي له چوکاټه وتلې دوستي یادوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودشوروي داشغال وروسته چې کارمل مسکو ته وبلل شو ددې سفر په ترڅ کې يې دشوروي مشرانو سره دخپلو خبرواترو په اړه ويلي و: " ددې خبرو اهميت داوسنی شيبې دخبرو له چوکاټ څخه ډېر لوړ دی اوځېنو برخو کې ددوه اړخيزو اړيکو له چوکاټ څخه هم لوړځي.(دافغانستان کالنی59-1358 کال، مخ 287 )

که په پاسنی وينا کې دچوکاټ کلمې ته وکتل شي ډېرې سپکې ماناوې ترې راوځي . هغه دوستي چې له چوکاټه ووځي بېله شکه نورڅه ترې راولاړيږي .

نجيب چې دکارمل دشوروي پالنې دمدرسې غوره شاګرد و کله چې په 1968 کې دامريکا دولسمشرمرستيال کابل ته په رسمي سفر راغلی و دهغه موټرېې په هګيو وويشت .هېرنشي چې هغه مهال افغانستان دشوروي اتحاد وروسته دامريکاڅخه زياتې مالي مرستې ترلاسه کولې.دافغانستان په څېر غريب هېوادسياسي ډلو اوسياستوالو ته په کاروو چې دسترمرسته کونکي هېواد خلاف لمسونې ونکړي اوهغه هم ددې په خاطر چې بل زبرځواک خوشاله شي.دا ، خ د،ګ په کړنلاره کې هم افغانستان په ناپيلتوب ټينګارشوی و.

دامريکې دمرستيال ولسمشر ته سپکاوی هم دشوروي مشرانو دخوشالولو په موخه ترسره شو چې دپرچم دمشرتابه له پرېکړې سره سم غيرتي ژمن پرچمي نجيب ته دادنده سپارل شوې وه ترڅو شورويانو ته وښودل شي چې موږپرچميان ستاسو ددښمنانو دښمنان يو. پدې اړه دځوان احساساتي نجيب ګناه نه وه، هغه دکارمل په مدرسه کې د شوروپپالنې سبق ويلی و اوهمدا لامل وچې هم ده او هم يې ټولو پرچمي ملګرو دشوروي داشغال پرمهال دشوروي سلاکارانو ټولو غوښتنو اوامرونو ته هرکلی ويلو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پایله یې دافغانستان بشپړې تباهۍ ته لاره هواره کړله چې له بده مرغه همدې پرچمیانو دتنظیمونو په واکمنولو سره افغانستان وران اوتباه هم کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دغلطې نسخې اوناکامې تجربې مبلغین

د ډاکتر نجیب الله همفکران، یاران او پلویان لاتراوسه دنوموړي دناکامې ملي روغې جوړې دتګلارې دحقانیت اوسموالي په اړه تبلیغات کوي تر دې چې د اشرف غني هیله لري د نجیب دملي پخلاینې" بڼایه !؟ "تجربه یوځل بیا وآزمایي یعنې داچې دوهم ځل په هېوادکې د وحشت اوبربریت ، چور اوچپاو او کوڅه په کوڅه جګړو پیلېدو ته لاره هواره کړي. دنجیب دهمفکرانو څخه یو د2020 ز کال ددسمبر په لسمه په خپل فېسبوک کې داسې لیکي: " موږ د ډاکتر نجیب الله د وخت د ژنیو د توافقاتو بڼایه تجربه لرو چې په خبرو اترو کې به په عمومي توګه د بهرنیو چارو وزیر یا د امنیت وزیر له اړوندو دولتي سیاسي کارپوهانو سره برخه اخستله چې باید اوس هم د دې تجربې په اساس کار پرمخ تللی وای خو خلیلزاد خپلو موخو ته د رسېدلو په خاطر داسې سناریو جوړه کړه چې د جګړو بل پړاو ته لار پرانېزي او پخواني جنګسالاران او غربي تیکنوکراتان چې په فساد کې ساری نه لري او طالبان به په هیواد کې د سولې برخلیک ټاکي چې زه باور نه لرم چې دا وړې به د خلکو په ګټه شړې شي." ددې ښاغلي دنامه یادول ځکه اړین نه ګڼم چې دښاغلي په څېر ددې غلطې نسخې اوناکامې ورانونکې تجربې نور مبلغین هم شتون لري .

دنجیب دیارانو له لوري دنوموړي دملي پخلاینې دتګلارې دغلطې نسخې اوناکامې تجربې په پلې کولو بیا ټینګار ښیي چې دوی ته هرڅه سرچپه بربښي ،جینکۍ ورته هلکان اوهلکان ورته جېنکۍ ، لېوان ورته پسونه اوپسونه ورته لېوان ښکاري یا داچې ما (لیکوال) ته به هرڅه سرچپه بربښي . دنجیب دسولې تګلاره نه داچې ناکامه شوه بلکې دافغانستان غمیزه یې لاژوره او هېواد یې د تباهۍ کندې ته وغورځاوه .داتګلاره د هېواد په ګوټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوټ کې دخوشه یي زهري بمونو راپرېوتو ته ورته وه چې دافغانستان په هرښار ، هرکلي اوهره کوڅه کې دابمونه راپرېوتل ، انسانان یې ووژل ، دولتي اواقتصادي بنسټونه اوهستوګنځي یې وران کړل، کروندې یې وسوځولې او چاپېریال یې ککړ کړ چې داته ویشتو کلونوپه تېرېدو سره لاتراوسه ددې بمونو ناوړه پایلې افغانان کړوي اوقرباني ترې اخلي .
ددې نسخې دناسموالي په پوهېدو بحث اړین بریښي خو ددې تګلارې ناکامي دلمر په شان ټولوته څرګنده ده چې پرې تم کېدل دوخت وژنه ده.
داچې دنجیب همفکران ، یاران اوپلویان له کوم اړخ اوکومې زاویې دیوې غلطې نسخې او ناکامې تجربې پر پلې کولو ټینګار کوي دوی ته ښایي دخپلو اندونو اوادعاوو سپیناوی وکړي اودې پوښتنې ته ځواب ورکړي چې څرنګه یوه ناکامه ورانونکې تجربه بیا وآزمویل شي ؟
دنجیب دواکمنۍ پر مهال دژنبو دلوزنامې اوددې لوزنامې د مواردو دپلې کولوپه موخه د وخت دواکمنۍ دعملي کړنو ناسموالی هغه مهال دپوهېدو وړدی چې هغه ددوحې دسولې دروان بهیر سره پرتله شي . دابهیر د2018 ز کال دسپتمبر څخه په دوحه کې د امریکایانو اوطالبانو ترمنځ دمخامخ رسمي خبرو په پیلېدو پیل اواوس مهال د حکومت اوطالبانو دمرکچیانو ترمنځ پر مخ ځي. داهم باید وویل شي چې دامریکایانو اوطالبانو ددوحې مذاکرات له تشې اونیمګړتیاوو سره مل و. دژنبو اود دوحې دمذاکراتو د لوبغاړو ، زماني شرایطو او دمذاکراتو څرنګوالی دیولړتوپیرونو سره سره یوه ګډه ځانګړتیا لري ، هغه داده چې دسولې دخبرو نوښتګر افغانان نه بلکې اشغالګر دي . البته چې دواړو، شوروي اوامریکایي اشغالګرو دسولې خبرواترو ته دبشرپالنې له دریځه اودخپلې خوښې له کبله نه بلکې دمجبوریت له امله مخه کړې ده ،یعنې دهغوی جنګي ستراتیژۍ ناکامې شوې، هغوی ونه توانېدل خپله اراده پر افغان مېړني اولس وتپي یعنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغان ملي مقاومت په ځپلو کې پاتې راغلل. پردې بنسټ دنجیب دیارانو اوپلویانو دا ادعا چې دروغې جوړې دتګلارې طراح اونوښتګر نجیب و خپل صحت اومعقولیت له لاسه ورکوي. که ددوحې مذاکرات بریالي شي چې خدای دې وکړي بریالي شي که هغه مهال دغني پلویان دابریا دغني دوړتیا اوښه مدیریت نښه وګڼي هم خپل صحت او معقولیت له لاسه ورکوي.

دنجیب دوخت دسولې دمذاکراتو ستره تشه داوه چې دجینوا دسولې خبرې دملګرو ملتو دځانګړي استازي په منځګړیتوب دافغانستان اوپاکستان دحکومتونوترمنځ ترسره کېدې چې دجګړې دیوه اړخ( دجهادي تنظیمونو) استازو پکې ګډون نه درلود.ددې تشې منطقي پایله داکېدله چې که مذاکرات بریالي هم شي دجګړې یو اړخ( تنظیمونه) به دخبروپایلې ونه مني او دحکومت خلاف خپلې جګړې ( جهاد) ته دوام ورکړي . همدا تشه وه چې دژنیو دتوافقاتو وروسته افغانان دجګړې ددوام شاهدان پاتې شول. که څه هم دپاکستان سره دمذاکراتو پرمخ وړل دا ،خ،د ،ګ دواکمنۍ هغه ادعا ته چې پاکستان دافغانستان په کورنیوچاروکې مداخله کوي اودافغانستان ددولت مخالفینو ته مالي اوپوځي مرستې ورکوي دصحت مهر ولګولو اودحکومت دریځ یې موقتاً پیاوړی کړ خو د نجیب ټیم ددې تشې داوږدمهالومنفي پایلو ددرک وړتیا نلرله اوپایله یې دملي پخلاینې دتګلارې مفتضحانه ناکامي شوه .دنجیب دتګلارې دناکامۍ بل لامل داو چې نجیب د ولسمشر په توګه داوړتیا نه درلودله چې دکوردننه دسولې په اړوند سیاسي اجماع راوړي. نجیب دخپلې نه وړتیا ، یکه تازۍ، دسولې دبهیر دانحصار لیوالتیا اواستخباراتي لوبو له امله تردې کچې منزوي شو چې نه یوازې د خلقیانو سترې برخې ترې لاره جلا کړه بلکې دده دسازماني ملګرو( پرچمیانو) خوراغټه برخه هم دنوموړي په وړاندې ددښمنۍ سنګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونيسي اودشاه محمود حصين په وينا په وروستيو کې نجيب ته " يوازې يوورور، جفسر (ساتونکی ) اوبې خبره دستيار " ورپاتې وو. دريم فکتور چې دملي روغې جوړې دتګلارې ناکامۍ ته لاره هواروله هغه دمخالفينو سره دنجيب دحکومت پټ مذاکرات او هغه هم په واکمن ګوندکې دهغوکسانو پرمټ ترسره کېدل چې ياخادبستان اويا دملي پخلاينې دتګلارې مخالفين وو.نجيب ددولت له مخالفانو سره د ليدنو کتنو پايلې د حکومت،پارلمان او خپلو سياسي متحدينو سره نه شريکولې اوحتی څوک ددې ليدنو کتنوڅخه نه خبرېدل. دا ،خ،د ،ک د واکمنۍ دنسکورېدو وروسته ددې يا هغه سياستوال څخه اورېدل کېږي چې د حکومت کوم چارواکي ، چېرې ، د کوم تنظيم اويا کوم مخالف سياستوال سره ليدلې وو .د دوی له ځرګندونو څخه جوتېږي چې د سياسي اووسلوال اپوزيسيون سره په خپله نجيب ، غلام فاروق يعقوبي ، عبدالوکيل ، سليمان لايق او نجم الدين کاوياني دمذاکرا تو په نامه په پټو معاملو کې ښکېل وو. دیادو کسانو څخه وکيل اوکاوياني دنظار دشورا پټ غړي وو اوسليمان لايق بيا ځرګنددريځ نه درلود سهار دنجيب ، غرمه دنجيب دخلقي انډيوالانو اوماښام دکارمليانو سره بنډارونه لرل . منطقاً کله چې دحکومت په استازيتوب د اسلامي جمعيت دنظاردشورا پټ غړي دوسلوال اويا غير وسلوال اپوزيسيون سره دجوړجاړي خبرې ترسره کړي ددې خبرو پايله به داوي چې اسلامي جمعيت ته دنظام دتسليمولو لاره هواره کړي اوداسلامي جمعيت مخالفين لانور هم دحکومت خلاف نه پخلاکېدونکي دريځ نيولو ته ولمسوي. دسولې په پېچلي بهير کې دنجيب ديکه تازۍ اوددې ملي پروسې انحصار لدې ښه جوتېږي چې د ا ،خ ، د ، ک په شلم پلنوم کې چې دملي روغې جوړې دتګلارې دارزونې په موخه جوړشوی و غلام دستګير پنجشېري داعتراض په توګه وويل مونږ هغه مخالفان چې دسولې بهير ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مات کړو دخاد له لوري نیول کېږي اوکلي یې بمبارېږي .دابېیي چې نجیب دسولې بهیر ته دهغو وسلوالو کسانو او مخالفو ډلو دیوځای کېدو مخنیوی کاوه اوځپل یې چې خلقیانو هغوی دې بهیر ته چمتوکول .
سربېره پردې نجیب دژنېو دلوزنامې دمرکزي اوکلیدي ټکي( دافغانستان څخه دشوروي لښکرو وتلو) سره همغږی نه و اوپدې لاره کې یې ستونزې جوړولې لکه څرنګه چې غني اوس مهال دسولې دروانوخبرواترو په وړاندې ، خنډونه اوستونزې جوړوي اودوخت وژنه کوي ترڅو دخپلې واکمنۍ موده و غزوي .پدې هکله سلیک اس هاریسون امریکایي ژورنالست چې دافغانستان لپاره دملګروملتو دځانګړي استازي دیه ګوکوردویز سره په ګډه دافغانستان دسولې دخبروپه اړوند د" پشت پرده افغنستان " نومی کتاب لیکلی دی په 217 مخ کې لیکي: " هغه (نجیب )یوځل بیا لکه دخپل مخکیني سلف په څېردشوروي پوځیانو دوتلوځنډ ته راودانګل . پدې ډول نجیب الله لکه کارمل هڅه وکړله ددې کار مخنیوی وکړي." دامریکایي لیکوال ددې خبرې " یوځل بیا " ښیي چې نجیب مخکې لدې هم دمذاکراتوپه بهیر کې دشوروي ځواکونودوتلوپه لاره کې ستونزې اوخنډونه جوړکړي دي. دنجیب پلویان په خپلو تبلیغاتو کې نجیب دملي پخلاینې طراح ګڼي اوهغه دشوروي لښکرودابستلو اتل بولي .خود"ایخه مسکوه "راډیو سره دمیخاییل ګرباچف یوه مرکه چې دافغانستان څخه دشوروي لښکرو دشلم تلین په مناسبت شوې ده داادعا غلطه ثابتوي اوهغه وایي: " ما دنجیب سره په تاشکند کې وکتل .هغه په خپل نفس اعتماد نه درلود اوباور یې نه کېده چې موږ په وتلو کې جدي یو ، ټول منتظر ووګواکې موږله افغانستان څخه نه وځو." دګرباچف وینا ښیي چې نجیب فکرهم نه کاوه چې شوروي لښکرې له افغانستان څخه وځي لکه نني واکمنان چې د امریکایي اشغالګرو په وتلو کې هم شک لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلیکنې پدې برخه کې اړین برېښي دنجیب د یارانو اوپلویانو پام یوه واقعیت ته راوګرزول شي ترڅو دنجیب داتلولۍ اوخپلواکۍ په اړه بیا کتنه وکړي . داواقعیت ښیي چې نجیب مسکو لکه ماشوم په غوړو وعدو غولولی اوپه خپله ګټه استعمال کړی دی .خو ستاسو اتل اوپه واقعیت کې دې سیاسي ماشوم دخپلې واکمنۍ ترپایه دمسکو لوبې درک نکړلې . داواقعیت دنجیب له هغه لیک څخه ښکاري چې دشوروي اتحاد دوخت دبهرنیوچارو وزیر شېواردنازي( دشوروي دټوټې کېدو وروسته د ګرجستان ولسمشر) ته استولی دی . دالیک نجیب وروسته له هغې شېواردنادزې ته لیږلی چې شوروي اتحاد افغانستان ته خپلې پوځې مرستې ودرولې .نجیب په نهیلۍ اودګیلې په څېر شېواردنازي ته داسې لیکي: " مانه غوښتل جمهورریيس شم ، تاسې زه راضي کړم .پرله پسې موخواهش وکړ اودملاتړ وعدې مو راکړلې ...اوس مو زه اودافغانستان جمهوري برخلیک ته پرېښودل .څرنګه دامسأله درک شي؟ " (دست های مسکو ، ل ، ی ،شبارشین ، مخ 206) داڅومره دردونکې ده چې څوک تا اړباسي یولوړ دولتي مقام ومنې ، غوړې وعدې درکړي چې پیسې اووسلې درکوم ،په سختو شېبو کې به دې یوازې نه پرېږدم خو کله چې سخته درباندې راشي تا په بېدیا کې چې چارچاپېر دې لېوان ، شغالان اوښرمښان ګرزي خوشی کړي. شورویانو دنجیب سره همداکار وکړ. دنجیب دلیک څخه برېښي چې هغه مخکې لدې چې ولسمشرشي پدې ښه پوهېده چې دیوه هېواد دزعامت وړتیا نلري اواړشوی دشورویانو ارادې ته غاړه کېږدي خویاران اوپلویان یې دهغه څخه جامع الکمالات جوړوي . که نجیب ژوندی وای اودده په پټه دخپلو اندیوالانو اوپلویانو صفتونه او څرګندونې اورېدلې اولوستې وای ددوی په ساده ګۍ به یې ډېر خندلي وای .

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکایانو دسولې مذاکراتو په اړوند دشورویانو په پرتله ځیرکانه ګام اوچت کړچې مستقیماً یې دجګړې داصلي اړخ، طالبانو سره مذاکرات پیل کړل اوپه خپل مزدور حکومت یې فشار راووړ چې له طالبانو سره خبرو ته کېني ، دطالبانو یولړغوښتنو ته غاړه کېږدي او یوټولشموله مرکچي دوحې ته واستوي . داهم دیادولو وړبرېښي چې امریکایانو یا په لوی لاس ، منافقت اویا مجبوریت له مخې دمذاکراتو په لومړي پړاو کې حکومت له مذاکراتي بهیر لرې وساتلو چې بین الافغاني مذاکرات نیم کال وروسته پیل شي اوزرګونو افغانانو ته مرګ اوژوبله واوړي اولسګونه زره تنه نور دجګړو له کبله دخپلو کورونو اومېنو پرېښودلو ته اړشي .په دوحه کې د امریکایانو اوطالبانو بریالیو مذاکراتو حکومت او طالبانو ته دمخامخ خبرو زمینه برابره کړه چې دا افغانانو ته طلایي فرصت دی . اوس دافغان مرکچیانو اسلامي، ملي او اخلاقي مسولیت دی چې ملي ګټوته په ژمنتیا سره داسې یوه جوړجاړي ته ورسیږي چې افغانستان بېرته خپلواکي ترلاسه اوداسې یوه نظام په جوړولو هوکړه وکړي چې هېواد ته سوله او ټیکاوراستون کړي. افغان مرکچیانو اودطالبانو اوحکومت مشرتابه ته ښایي چې په اصطلاح دنجیب دملي پخلاینې دناکامې ورانونکې تجربې څخه دعبرت درس واخلي اودیوبل دمنلو اوزغملو، تېرېدنې اوتنازل داصلونو په پلې کولو سره روان مذاکرات بري ته ورسوي ترڅو دتیرې پېړۍ دوروستۍ لسیزې زړه بوګنونکې پېښې بیا تکرار نشي اویا روانه لعنتي جګړه دوام ونه مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نجیب الله تکړه اوبریالی ویاند

نجیب الله دا ، خ، د ، ګ د مشرانو په پرتله دهېواد په ملي ژبو ( پښتو اودري) لکه خپلې مورنۍ ژبې بشپړ تسلط درلود ،تکړه اوځېرک ویاند و او اورېدونکي یې دویناوو څخه اغیزمن کېدل . نجیب واکمنو شرایطو، فرصتونو اودمخاطبانو رواني ځانګړتیاوو ،لیوالتیا او لید لوري ته په کتو سره داوړتیا او ځېرکتیا لرله چې هغوی ته څه وو ایي .کلیوالو ته یې داسلام ،شملې، ناغې ، ننواتې اوجرګې خبرې کولې . پوځیانو ته یې دوسلوالو مخالفانو د ناروا کارنامو دیادولو سربېره دزړورتیا ، وطنپالنې ،دسپلین او دجګړې دربړونو اوکړاوونو رښتینی انځور و کاږي او تحصیل کرده قشر ته یې دقانونیت ،پرمختګ ، ټولنیز عدالت اوښایسته سالارۍ ښېګڼې بیان کړي . هغه په خپلو ویناوو کې ښکلې جملې ، وطني کیسې ، متلونه اوپه زړه پورې شعارونه چې اورېدونکو ته په زړه پورې وو او په زړونو ښه لګېدل راوړل ، دخپلو ادعاوو او څرګندونو دسموالي دثابتولو لپاره یې دقرآنکریم آیتونه اوحدیث راوړل . دهېواد درواني اوړدمهاله غمېزې پرمهال دسیاستوالو په توګه نجیب الله او عبدالرب رسول سیاف د وتلو ویاندویانو اوژبورو مبلغانو په څېر ځلېدلي دي. دنجیب دویناوو ځانګړتیا اوجذابیت دی چې ډېری ځوانان دهغه دویناوو څخه اغېزمن شوي دي اونجیب ته ځانګړې ارادت لري. ددموکراسۍ په لسیزه کې چې دکابل دزرنګار پارک اوپل باغ عمومي د وخت دسیاسي ډلو دتبلیغاتو په ستېژ اوښتی و ددې ډلو په ویناوالو کې نجیب ځانګړی ځای درلود. پرچمیانو دخپل ملګري دویناوو جادویي اغېز ته په کتو سره په سیاسي بحثونو کې په مسخروخپلو سیالانو ته ویل موږبه "رفیق نجیب" دویناکولولپاره درکړو چې ستاسو میټېنګونه اوغونډې څه رونق ومومي . له بده مرغه ددې تکړه اوبریالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویاند په ویناوو کې دوه منفي اړخونه هم ترسترګوکېږي . یو داچې نومو ړي هغه څه چې ویل په خپله یې پرې باور نه درلود اویا لیوال نه و پرې عمل وکړي . دساري په توګه دخپلې واکمنۍ پرمهال یې دصحت عامې په څلورلارې کې خپل مشهوراو په زړه پورې شعار "یا وطن یا کفن" دانقلاب د سپاهیانو دوطنپالنې دروحیې دلوړولو لپاره وویلو چې تردې دمه دنجیب پلویان هغه زمزمه کوي. خو داسې وخت راغی چې دخپلو پرچمي ملګرو سره دیولړ ناڅرګندو ستونزو له امله دوطن څخه دتېښتې ناکامه هڅه وکړه . ددې معنی داشي چې هغه لیوال نه و په خپل وطن کې دسپین کفن سره خښ کړل شي. داددې ښکارندوی دی چې نوریې دوطن دساتنې په موخه سرشندنو ته هڅول خو دی دوطن په لاره کې دکړاوونو منلو او قربانۍ ته چمتو نه و.

نوموړي دخپل حکومت مخالفان اوکډوال چې دمختلفو لاملونو اوپه هغوکې دده په لاس جوړشوي خاد ددسیسو اوپه زندانونو کې دشکنجې اوتعذیب له وېرې پاکستان ته تښتېدلي وو دال خواره او دآی اس آی جاسوسان ګڼل، پېغورونه یې ورکول اوملنډې یې پرې وهلې. آیا په پاکستان کې شاوخوا څلور میلیونه ،په ایران کې دری میلیونه،په نورو هېوادونو کې لسګونه زره افغانان ټول ددې هېوادونو جاسوسان وو؟ دسلیم عقل خاوندان به دا حکم بابېزه او اپلتې وبولي . خو نجیب په خپلو ویناوو کې دا ډول څرګندونې په کراتو کړې دي. که دنجیب داادعا ومنل شي چې کډوال دکوربه هېوادونو جاسوسان دي ده هم هندوستان ته دتېښتې ناکامه هڅه وکړه آیا دی هم دهندوستان دڅارګرې ادارې جاسوس و؟ که پاکستان ته تېښته خیانت اوآی اس آی ته جاسوسي وي دنجیب ددسترخوان یاران لکه سلیمان لایق ، انجینر نظرمحمد ، محمداسلم وطنجار، رازمحمدپکتین، اسحاق توخي ، جفسر اودده مور هم دده د واکمنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دراپرزېدو وروسته پاکستان ته وتښتېدل آیا هغوی هم دپاکستان جاسوسان وو؟ له یاده ونه باسو چې موریې په پاکستان کې په یوه ترافیکي پېښه کې ټپي اوپه پاکستاني روغتون کې دڅوورځو وروسته ساه ورکړه. هېر نشي چې هېڅا هم په خپله خوښه دهېواد پرېښودلو ته مخه نه ده کړې بلکې اړشوي دي چې خپل کور ، کلی او هېواد پرېږدي.
نجیب دملي روغې جوړې اوپخلاینې ، سولې اوورورګلوۍ ، دتېرېدنې او بښنې ښېګڼې او ګټې بیانولې او مجاهدینو( اشرارو ) ته یې " مرور وروڼه" ویل اوهغوی یې بېرته په خپل ټاټوبي کې عادي ژوندکولو ته رابلل خو لکه څرنګه چې نجیب دملي پخلاینې تګلارې ته ژمن نه و اوپخپلو څرګندونو یې باور نه درلود خپلو لوړپوړو پوځیانو ته دوسلوالو مخالفانو اودهغوی ترولکې لاندې سیمو دبشپړ ورانولو دستورونه ورکول . هغه دخوست دسقوط وروسته دحمل په نولسمه دسرقوماندانۍ دقرارګاه په غونډه کې ویلي و: " مونږ باید په خوست داسې کلک ګوزارونه وکړو اوداسې درس ورکړوچې په خوست کې نورڅوک ژوندونشي کړای ، څرنګه چې خوست زموږنه دی ددوی دې هم نه وي ." ( اردووسیاست ، مخ 464) دملي روغې جوړې د نوښتګر!؟ له لوري دې تګلارې ته ژمنتیا اونه ژمنتیا دنوموړي پدې وینا کې چې د1368 کال دکب په پنځمه دوسلوال پوځ جنرالانو ته کړې ده بربنډېږي : "په پغمان ،دکابل شمال، قلات، بادغیس، جلال آباد اوهرات کې دبریالیوپوځي عملیاتوپایلې ګټورې وې. موږ دلوی خدای په امېد پر مخ ځو ، له ستونزو نه ډارېږو اوملي مصالحه بریالی کوو" .(اردو وسیاست ، مخ 465) . دابیا ښیي چې نجیب ملي روغه جوړه دجګړې له لارې بریالی کوله .ملي پخلاینه(سوله) او جګړه دوې متضادې پدیدې دي .دا ددې څرګندوی دي چې نجیب په خپله په ملي روغه جوړه باور نه درلود ځکه بری

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې په جګړه او د مخالفينو په ځپلو کې لټولو. نوځرنګه به وسلوال او سياسي اپوزيسيون د سولې بهير ته مخه کړې واى.

جنرال عبدالقادر اکا دخپل " دافغان تراژيدي دروسيې دتجاوز زېږنده " نومي کتاب په 256 - 257 مخونو کې د ا ، خ ، د ،ګ د سىاسي بىرو د غړي ميرصاحب کاروال له خولې او د وسلوال پوځ د لوى څارنوال جنرال محمدهاشم نوري په حواله لىکي " : د ملي دفاع وزىر د نجىب الله سره د دفاع وطن د شورا په جلسه کې ګډون لري، د جلسې په پاى کې شهنواز تنى، نجيب الله ته پېشنهاد کوي :

ډاکټر صاحب !که ممکنه وي زه او ته به يو څو دقيقې سره پاتې شو.

جلسه ختمه ده دوى دواړه سره پاتې کيږي.

شهنواز تنى ' ډاکټر صاحب زما او ستا تر منځ ولې فاصله پيدا شي ؟

شهنواز تني هغه ټول مشترک وجوهات چې د دواړو تر منځ په طبيعي ډول موجود دي يادوي.... نو څه شى زما او ستا تر منځ نه تقسميږي ؟

ډاکټر نجيب الله " نو زه له خدايه نور څه غواړم، ته مې سر او سترګې يې ، ته مې وزر يې .... "د ډاکټر نجيب الله ، خوږې خبرې ډېرې زده وې چې بل څوک ( مخاطب) جذب کړي.

د ډاکټر نجيب الله خبرو په شهنواز تني ، دومره تأثير وکړ چې تنى يې کاملاً جذب کړى دى . له دې کبله شهنواز تنى ، ډاکټر نجيب الله ته وايي : ډاکټر صاحب ! کور دې ړنګ شه ، دغه تا ته د شوروىانو توطيه ده!

نجىب الله " :ډېره مننه چې زه دې متوجه کړم ، اوس پوه شوم چې ته مې تر هر چا نږدې دوست يې!

په دې ډول دوى دواړه د خوشحالۍ په فضا کې يو له بل نه رخصتيږي.

خو ډاکټر صاحب نجيب الله په سر سپرد ګۍ سره خپل صداقت کې، جې، بې ته ثابتوي او خپل لوى مشاور ( پولينيچکه (دفتر ته ورځي او د شهنواز تني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولې خبرې ورته انتقالوي .البته په انتقالي خبرو کې ، مرکزي خبره دا ده چې تنی نجیب الله ته د شوروي د توطیې یادونه کړېده.

په بله ورځ د نجیب الله لوی مشاور ( پولینیچکه) د میر صاحب کاروال دفتر ته ورځي او ورته وایي چې د ملي دفاع وزیر شهنواز تنی د شوروي ضد سړی دی ، د نجیب الله ټولې خبرې میر صاحب کاروال ته بیانوي.

په بله ورځ ، کاروال د ډاکټر نجیب الله دفتر ته ورځي او نجیب الله ته د ګیلې په شکل وایي چې د دفاع وزیر ( تنی) له تاسو ( نجیب الله) سره په وطني حساب یوه مرکه وکړه ، آیا ضرور وه چې موضوع دوستانو ( روسانو) ته انتقال شي ؟

ډاکتر نجیب الله : کارواله ! ستا دې هم کور خراب شي ، دا اوس څو دقیقې دمخه زما لوی مشاور زما مخې ته ناست و او راته ویل یې:

نجیب الله ! مه ناوخته کوه ، آماده ګي دې ونیسه ، خلقیان دربانديې کودتا کوي!....

نجیب الله : اوس نو زه د تا ( کاروال ) خبره ومنم او که د خپل مشاور خبره ومنم ؟

مشاور خو پیسې راکوي ، سلاح راکوي .... نو ته خو هیڅ شی نه شې راکولای " .

دپاسنیو څرګندونو له مخې قضاوت کېدای شي چې له یوې خوا څرنګه نجیب دشورویانو دشوموموخوپه اړه دخپل وزیر او خپل هېوادوال له ملګرتوب، خواخوږۍ او سپېڅلو احساساتو څخه ناوړه ګټه پورته کړې ده اوله بله پلوه يې دشورويانو په هکله دتنې اندېښنې اواخبستنې پردي( شوروي سلاکار) ته دهغه دلاس لاندې مامور په څېر رپوټ ورکړی دی . داددې څرګندوی هم دی چې نجیب دملي ګټو په پرتله شوروي ګټوته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړیتوب ورکاوه.دارنګه سیاستوال به څرنګه خپل هېواد اوخلکو ته خدمت وکړي ؟

دنجیب ښکلي او جذابي ویناوې دتګۍ برګۍ اوتناقض ډکې هم دي . هغه یوځای اویو وخت شورویان دوستان او مرستندویان ګڼي اوبل وخت هغه دښمنان اواشغالګرو بولي. هغه په بالاحصار کې خپل هېواد ته دشوروي اتحاد دیوه کندک دستنېدو پرمهال وایي : "موږ خپل سرونه ددرناوي په توګه دهغو شورویانو په وړاندې ټیټووچې خپل سرونه یې دخپل رسالت دترسره کولوپه موخه وبایلل...، داغمونه ژر نه هېرېږي .همدارنګه ډېری افغانان به دشورویانو مهرباني او مېړانه ، انسانیت او ساده ګي هېره نکړي." (جنګ در افغانستان ، مخ 328 دروسیې دپوځي تاریخ دانستیتوت دپوهانو ډله)

بل ځای نوموړي د1370 کال دجدي په پنځه ویشتمه دملي روغې جوړې دتګلارې داعلان دپنځمې کلیزې په مناسبت وویل:" دشوروي پوځیانو راتګ دافغانستان دخلکو دپاڅون اصلي لامل و چې دغمیزې سبب شو." (توپان درافغانستان، مخ 54 ) همدارنګه هغه په همدې ورځ دیوه فرمان په صادرولو سره دسلواغې شپږویشتمه دشوروي دپوځیانو دوروستۍ ډلې د وتلو ورځ دملي ژغورنې(نجات) ورځ او عمومي رخصتي اعلان کړه. نجیب دا ورځ هغه مهال دشوروي اشغالګرو څخه دنجات ورځ اعلانوي چې نور دشوروي اتحادجنازه خاوروته سپارل شوې وه اودنړۍ په نقشه کې دشوروي اتحاد په نامه کوم هېواد شتون نه درلود.

لوستونکی دې دنجیب دا خبره چې نوموړي دملي روغې جوړې دعالي کمیسیون په لومړۍ غونډه کې کړې ده دهغه ددې خبرې سره چې دشورویانو راتګ غمیزه ګڼي پرتله کړي چې دنوموړي په ښکلو ویناوو کې اپلتې اودرواغ هم شتون لري هغه وایي: " موږ ترخپل څنګ ځواکمن اووفادار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستان یعني شوروي اتحاد ، سوسیالستي اوناپېیلي هېوادونه اومترقي ځواکونه لرو.هغوی همېشه موږته مرسته کړې او هېڅکله به مود مصیبت پر مهال یوازې پرې نه ږدي . موږداخبره په ویاړاوخپلو پلرونو اونیکونوته په درناوۍ سره وایو چې دادوستي یې ټینګه کړې اودیوه نسل څخه بل نسل ته لېږدولې ده. " ‹اردووسیاست ، مخ 464 (

نجیب دتکړه ویاند په توګه چې دښکلوجملواوکلمو سره اودخلکو پراحساساتو دلوبو اتل هم دی فکر نه کوي چې هغه مهال سوسیالستي اوناپېیلي هېوادونه دنوموړي همزولي وو ، پردې بنسټ څرنګه زموږ نیکونو دهغوی سره ددوستۍ مزي ټینګ کړي دي چې دې هېوادونو شتون نه درلود .اوبل داچې هغه په 1365 کال کې شوروي اتحاد وفادار دوست ګاڼه اوپنځه کاله وروسته د افغانستان دغمیزې لامل اودافغان دخلکو دپاڅون سبب بولي.دلته دپوپولست نجیب دپلویانو پوښتنه کېږي چې موږ دنجیب کومه خبره ومنو، شوروي دوست هېواد یا تېرې کونکی اشغالګر شوروي؟

ډېری افغانان دنجیب وېناوو ته په کتو سره چې شورویان یې انتقادول اوغندل داسې فکر کوي چې هغه په رښتیا هم دشوروي اشغالګرو څخه کرکه لرله پداسې حال کې چې شوروي ضد څرګندونې یې دشوروي مشرانو په غوښتنه کولې ترڅو په ټولنه کې په یوه ملي زعیم واوړي .پدې هکله میرصاحب کاروال دخپل کتاب‹درس های تلخ وعبرت انګیز افغانستان› په 187 مخ کې لیکي :" هغه په وروستیو کې ډېر زیات په افغانستان کې شوروي ځواکونه انتقادول اوما یوه ورځ په سیاسي بیرو کې له هغه وپوښتل اوورته ومې ویل آیا تاسې پدې اړه افراط نه کوئ ؟ هغه راته وویل دوی په خپله ‹شوروي مشران› راته وایي موږ تخریب کړه ترڅو په ټولنه کې خپل ملي هویت تثبیت کړې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره لدې چې دکرملن مشرانو ته نجیب الله تردې کچې نږدې و او په هغه یې باور درلود چې دوی وغندي ترڅو هغه دخپلو خلکو زړونو ته لاره ومومي خو بیایې هم هغه ته شا کړه او دخپلو کارملي اوجمعیتی نوکرانو پرمټ یې پرې سپینه کودتا وکړه، دا پوښتنه را پیدا کېږي چې ولې دکرملن چارواکو دخپل دې نازولي سره خیانت وکړ؟

پدې اړه نظرونه اولیدلوري وېشلې دي چې دلته به یې یوازې یادونه وشي :

-دشوروي اتحاد خورا خراب اوویجاړ اقتصادي وضعیت چې نور د افغانستان دولت ته دمرستو ورکولو جوګه نه و،

-د مسکو له لوري دناټوسازمان په وړاندې دوارسا د تړون د ماتې منل .

پردې بنسټ مسکو دخپلو سپوږمکیو له ملاتړ لاس واخېست چې نجیب ته یې هم شاوګرزوله اودده حکومت یې دبېساره ستونزو اوګواښونوسره سره یوازې پرېښود ،

-دشوروي اتحاد دکمونست ګوندپه مشرتابه کې دامریکا پلوه کسانوشتون چې ګوته زیاتره ګرباچف ته نیول کېږي ،ګواکې چې ګرباچف هم دکوردننه اوهم په نړیوالو مسئلو کې دواشنګتن نخشې پلي کولې ،

-دکې جي بي درییس ولادیمیرکرېچکوف په مشرۍ د1991 کال داګست دنولسمې ناکامې کودتا څخه دنجیب ملاتړ ،

-په نجیب دمسکو بې باوري . دلیونېد شبارشین دکې جي بي دبهرنیو استخباراتودڅانګې رییس له قوله " نجیب کې جي بي هڅولی و چې دامریکا سره نږدې شي خوداسې یوحالت راغی چې نجیب له موږلاره ورکه کړه. " یعنې داچې له واشنګتن سره یې دپټودوستانه اړیکو مزی ټینګ کړل.

شبارشین ګرباچف ته نږدې څارګر و چې کله دکرېچکوف کودتا شنډه شوه ،ګرباچف هغه د کریچکوف په ځای دکې جي بي دمشرپه توګه وګومارلو خوله دوو ورځو وروسته له دندې ګوښه کړل شو . په 2012 کې یې مړی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورکې پیداشو اوویل کېدل چې دخپلې اوخپلې مېرمنې د نه علاجېدونکې ناروغۍ له کبله یې ځانوژنه کړې وه.
دلیکوال له انده ښایي دنجیب سره دمسکو د خیانت اصلي لامل داوي چې نجیب دمسکو سره اېراتیفي استخباراتي لوبو پر مخ وړلو ته مخه کړې وه اوپدې نه پوهېده چې دکې جې بې په شان یوه ځواکمن استخباراتي سازمان سره چې په افغانستان اوپه تېره دنجیب په حکومت کې یې ژورې رېښې ځغلولې وې لوبې کول داورسره لوبې وې . سیاستوالو ته نه ښایي چې په سیاست او دپلوماسۍ کې لوبې اوهغه هم ددوستانو سره اېراتیفي لوبې وکړي . د نجیب له خوا دشورویانو سره داپراتیفي لوبو په پرمخ وړلو کې هغه زموږ دعوامو هغه مشهوره خبره له یاده اېستلې وه چې" پیش پنج هم پنج ، پیش صاحب پنج هم پنج".

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکنو دلړۍ په وړاندې غبرګونونه

تمه کېده چې دنجیب الله همفکران، همکاران او پلویان چې نوموړی اتل ، دملي روغې جوړې دتګلارې طراح ، دهېوادڅخه دشوروي اشغالګرو ایستونکی ، ملي شخصیت اوخپلواک ولسمشر تبلیغوي اوسربېره پردې دا،خ ،د ،ګ دواکمنۍ پرمهال د تېروتنو او ناخوالو پړه او ملامتې دنوموړي پرته په نورو ګوندي مشرانو اچوي دلیکنو ددې لړۍ په اړه چې ددوی څرګندونې یې بې بنسټه، غلطې اوله واقعیتونوسره په تناقص کې ګڼلې دي لیکنې نقد کړي چې له بده مرغه داسې څه پېښ نشول. دابیا ښیي هغه څه چې په دې لیکنو کې راغلي دي دلیکوال باطني اوذهني تمایلات نه بلکې واقعیتونه دي اودنجیب د مخینې اوکارنامو رښتینی انځور کاږي چې دا مخینه او کارنامې دیوه اتل ، ملي شخصیت اوخپلواک سیاستوال نه بلکې دیوه لاسپوځي سیاستوال دي .دشوروي اشغال وروسته دنجیب دریځ او کارنامې خورامنفي دي چې په تېرو لیکنو کې پرې رڼا اچول شوې ده . پدې لیکنه کې به یې هغه سترې تېروتنې چې هم دده شخصیت، هم دا ، خ ، د ، ګ اعتبار اوهم ددې ګوند دواکمنۍ مشروعیت ترپوښتنې لاندې راوړی او سربېره پردې یې د ده دواکمنۍ راپرزولو ته اړین بستر جوړ کړ بیا یادونه و شي :الف- دشوروي په ټانکونو سپور یا په شوروي الوتکو کې افغانسان ته دنوموړي راوستل اودواک په ګدۍ کېنول دنوموړي داسې تېروتنه ده چې نوموړی دشوروي داشغال اردلي وګڼل شي. داسې یوه سیاستوال ته اتل ویل د اتل سپکاوی دی .ب- داشعال لاندې حکومت کې دڅارګرې ادارې مشري منل اوددې ادارې لخوا داشغال ضد زرګونو وطنپالو افغانانو شکنجه ، ترور او چانواری هغه څه دي چې نجیب دافغانانو دقصاب لقب وګټي. دخپلو هېوادوالو قصاب هېڅکله هم ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیت اواتل نشي کېدای .ج- په هېواد کې د قومي ملیشو جوړونه اودتسلیمي ډلو په نامه دخپلسرولوټمارو جوړښتونو را پنځول هغه څه و چې دنظام نسکورولو ته یې لاره هواره کړله اوپایله یې په هېوادکې دځمکې پرسر محشرجوړېدل شول.که څه هم نجیب ته یې ځېنو همفکرانو او د دسترخوان یارانو دملیشو د جوړولو داحتمالي ګواښونو په اړه خبرداری ورکړی و خوبیا یې هم دملیشودجوړولو مخه ونه نیوله .پدې اړه جنرال نبي عظیمی د خپل کتاب )اردووسیاست درسه دهه اخیر) په 494مخ کې لیکي:"منوکي منګل دیوې لیدنې پرمهال ډاکټرنجیب الله ته وویل که هره ورځ دنویو قطعاتودجوړولو په هکله ددوستم وړاندیزونه ومنئ ډېر ژر به په هرولایت کې ددوستم یوه ځواکمنه قطعه راڅرګنده شي اوداسې ورځ به راورسېږي چې دمرکزي دولت څخه اطاعت ونکړي. " چې داسې هم پېښ شول .په خپله نجیب هم داګواښ احساس کړی و او په شمال کې دملیشو یوه پښتون قوماندان ته ویلي و: " موږ د ازبکو ، هزاره ګانو اوتاجکو دمسلح کېدوله امله چې دشوروي دولت او ځواکونو له لوري ترسره کېږي په اندېښنه کې یو ، یوشمېر دا قوماندانان شورویانو مسلح کړي اویوشمېرزموږ د تېروتنو له کبله شویدي اونن خبره تردې پورې رارسېدلې چې کولای شي دولتي واکمنۍ ته ګواښ شي."(اسدالله ولوالجي، خروج جنرال دوستم وسقوط داکترنجیب الله ، مخ138 ) دولسمشر له ویناڅخه ښکاري چې شوروي ځواکونو په شمال کې په خپل سر پښتني ضد قومي ملیشې جوړولې اوده دیوه ببواکه ولسمشرپه توګه داشغالګرودې افغاني ضد کړنو ته په رڼو سترګوکتل اودمخنیوي وس یې نه درلود . سربېره پردې یې داشغالګرو ددستورونو له مخې د نوروقومي ملیشو جوړولو ته دوام ورکاوه اوپدې ډول یې دافغانستان د تباهۍ لپاره په خپله ورانونکي اوویجاړونکي ځواکونه چمتو کول. دې ډول ولسمشر ته کوم لقب ورکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي اتل يا خاين؟ له بله پلوه ديوه هېواد دولسمشرته نه ښايي د مليشو يوه قوماندان ته داسې څه ووايي چې په هېوادکې قومي بې باوريو ، توکميزې مخامختيا او دښمنيو ته لمن ووهي . دنجيب له خوا دمليشو يوه قوماندان ته داسې څرګندونې چې قومي مخامختيا ته دلمن وهلو معنى لري دپخواني دفاع وزيرجنرال عبدالقادر پدې ويناد صحت مهر لګوي چې نجيب ورته ويلي و " ته نه پوهېږې ! ما ازبک په پښتون وواهه ، پښتون مې په ازبک وواهه . عبدالقادر ورته ويلي و داتاريخي ګناه ده اوملي خيانت دی . نجيب بيا ورته ويلي دي ، ولاړشه !ته تراوسه نه يې پوهېدلی." (خاطرات سياسي جنرال عبدالقادر درګفت وګوبا دکتور پرويز آرزو ، مخ 410 ) دابيا داشغالګرو دهغه مشهور فورمول (ببل يې کړه ، ابل يې کړه) يوه برياليۍ هڅه وه چې نجيب يې پلې کونکی و.

د- دنجيب بله غټه نه جبرانيدونکې تېروتنه دا وه چې دمسکو په اشاره يې د ملي پوځ کمزورولو ته متې رابډ وهلې اوپه اړين فرصت کې يې ددولتي امنيت ځواکونو اوددوستم مليشو ته ددفاع وزارت په قرارګاه دبريد اوپه جزوتامونو کې دوتلو خلقي افسرانو دوژلو او نيولو قومانده ورکړه ، لسګونه خلقي جنرالان اوافسران يې ووژل ، سلګونه يې بنديان اوسلګونه نور له دندو ګوښه اويا تېښتې ته اړ بستل چې پدې توګه پوځ دکارمليانو په لاس کې پرېووت اوکارمليانو دخپلې دې برلاسۍ په برکت وکولای شول په آسانۍ سره سياسي واک دشمال دا د شر او فسادملي ضداو پښتنې ضد تلوالې ته ولېږدوي. عبدالحميد مبارز د خپل کتاب ( حقايق وتحليل وقايع ومسايل افغانستان ) په اوه ځلوښتم مخ کې دنجيب ددې کار پايلې داسې ارزوي : "که چېرې نجيب ددې اړخ(خلق) څخه ځان نه وای لرې کړی دهرې توطئې په مقابل کې که له مسکو نه هم کېده مقاومت يې زياتېده اومقاومت يې کولی شو " .دليکنو په وړاندې دلوستونکو له غبرګونو ښکاري چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



بده مرغه دنجیب همفکرانو ،همکارانو اوپلویانو دلیکنو دا لړۍ نقد نکړه ، پنځوتنو منفي غبرګونونه وښودل ، دووتنو دلیکنو دارزښت دټيټولو په موخه بې ربطه لمسونکې تبصرې وکړې او غوڅ اکثریت لوستونکو په خپلو تائیدي کمنټونو سره لیکنې لا غني کړې . یوشمېر لوستونکو لیکنې په خپلو والونو کې هم خپرې کړې دي .منفي غبرګونو نه احساساتي اوعاطفي دي ،د منطق اوبرهان څرک نه پکې لیدل کېږي او فتواګانو ته ورته حکمونه دي او یوښاغلی د ښکنځلمار په رول کې هم راڅرګندشوی دی. منفي غبرګونونه عامې خبرې اووېناوې دي لکه " نجیب ټولو ته معلوم دی ، دالیکنې دهغه شخصیت ته زیان نه رسوي ، هغه شورویان له افغانستان څخه واېستل ، دهېواد د مستقلانه دفاع اتل دی اوخلک اوتاریخ به دهغه په اړه قضاوت وکړي." دنجیب یوه ارادتمند دا لیکنې له عقدې ډکې بللې دي اولیکوال یې په پیسو اخېستلوهم تورن کړی دی .ددې هېوادوالو له منفي غبرګونونوڅخه دهغوی نه رښتینولي، غوسه ، خفګان اود مذهبي مریدانو په شان نجیب ته ړوند ارادت لدې ښه جوتېږي چې په لیکنو کې ددوی دکمنټونواوتبصرو په هکله اړین معلومات وړاندې شوې دي . دنجیب هغه ارادتمند چې لیکنې یې له عقدو ډکې ګڼلې دي ، دې ښاغلي ته په کاردي چې لومړی دنقد ، تحلیل ،عقدې او دښمنۍ ترمنځ په توپیر ځان پوه کړي . که چېرې لیکوال په نجیب تورونه لګولي وای او یا یې په لیکنو کې دقلم اوکلام عفت له پامه غورزولی وای دعقدې خبرې به یې وزن درلود . په لیکنو کې نه دتور کومه نښه نښانه شته اونه دقلم اوکلام عفت له پامه غورزول شوی دی .داښاغلی او د نجیب نور ارادتمندان په خپل اتل کې یوازې غوره ځانګړتیاوې ویني اوکه چا دهغوی داتل دمنفي ځانګړتیاوو ، ناکامیو، تېروتنو اوناولو کارنامو په اړه څه وویل هغه عقده مند دی ،یا دکومې شبکې سره تړاو لري اوداشبکه پیسې ور کوي .دپیسو اخېستنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودپردیو شبکو سره تړاو د خادېستانو ټولو ته آشنا هغه تورونه رایادوي چې دکارمل - نجیب دحکومت په سیاسي مخالفانو اوآزادخیالو افغانانو لګول کېدل. لیکوال نه دنجیب کلیوال او ټولګیوال دی، نه یې دنجیب سره کومه سوداګریزه معامله او خپلوي لرله اونه یې دهغه ترلاس لاندې ادارو( خاد اوجمهوري ریاست) کې کارکړی دی نو څرنګه به دنومړي سره عقده اودښمني ولري؟ لیکوال په خپلولیکنو کې دنجیب دحکومت د لوړپوړو سربېره کرزی اوغني اودهغوی جهادي اوغیر جهادي یاران هم انتقاد کړي دي آیا دا عقده مند لیکوال له ټولو سره عقدې اودښمنۍ لري ؟ دنجیب مدافعانو ته به د نجیب دملي پخلاینې دتګلارې په اړه دیوه بهرني ژورنالست دپوښتنې په هکله په خپله دنجیب ځواب وړاندې شي ترڅو یې سرونه خلاص شي چې دملي پخلاینې د تګلارې طراح اونوښتګر نجیب نه بلکې ګرباچف و اوپردې اساس دشوروي لښکر دګرباچف د بیا جوړونې اوعلنیت دتګلارې په چوکاټ کې له افغانستان څخه ووتل نه داچې دا ځواکونه نجیب رخصت کړل. نجیب د1365 کال دجدی په میاشت کې د یوه بهرني ژورنالست (پرنسالاتینا ) دې پوښتنې ته چې دافغانستان دموکراتیک جمهوریت دملي پخلاینې کړنلارې دپلې کولو لپاره دکوموځانګړو نړیوالو دوستانو مرستې ته اړتیا لري اوپه راتلونکې کې به هم اړتیا ولري په ځواب کې وویل: " نوي سیاسي تفکر اونوې سیاسي فلسفې ته چې نوښت یې د میخاییل سرګیوویچ ګرباچف په مشرۍ دشوروي اتحادسره دی." (کنفرانس مطبوعاتی ، پاسخ های رفیق نجیب منشي عمومی کمیته مرکزی حزب دموکراتیک خلق افغانستان به سوالات ژورنالستان خارجی ، چاپ کابل 28جدی 1365، ص 40)

دنجیب پلویانو ته چې دنومړي په اړه دتاریخ اوخلکو دقضاوت خبره کوي باید وویل شي چې دنجیب په شان داشغال لاندې بلواکو واکمنیو دمشرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړه دتاریخ اوخلکو قضاوت دلمریه شان بربنډ دی چې هغوی ته دشاه شجاع په شان ګوډاګیان وایي .یوه هېوادوال چې لیکنو یې فشار لوړ کړی دی لیکوال ته دلیکنو ددرولو مشوره ورکړې ده ، خو کله چې ددرولو دلامل پوښتنه ترې کېږي خپل غوږ هم نه ګروي . یوه لیکنه چې یوه لوستونکي په خپله فېسبوک پاڼه کې خپره کړې وه یوه ښکنځلمار چې لیکوال څه موده وړاندې بلاک کړی دی دخپل عادت له مخې لیکوال ته سپکې سپورې هم ډالۍ کړې دي. دا ښاغلی چې دحفیظ الله امین دپلویانو په نامه بندهم تېرکړی دی دزندان څخه په خلاصېدو سره دکابل په ښاروالۍ کې دریيس په توګه مقررشو .دې ښاغلي ته دپل چرخي زندان دعلومو داکادمۍ اومعتبر پوهنتون حیثیت درلود چې ددې پوهنیز بنسټ( زندان) څخه راسأ رییس فارغ شو. کله چې لیکوال ددې ښکنځلمار کرکتر، منطق او سپکوسپورو ته ګوري داپوښتنه ورته پیداکیږي ،دې ښاغلی به څه دپاسه څلورلسیزې وړاندې چې بې تجربه ځوان و او دکابل په ګوندي ښاري کمیټه کې داسدالله امین همکار و کوم ګلان به یې کرلې وي؟ دیوه هېوادسیاسي ټولنیزوپېچلو پدیدو څېړل چې پدې هېواد پردي واکمن وي ، هلته خونړۍ جګړه دوام ولري او پردۍ استخباراتي لوبې هم ورسره مل وي خورا ستونزمن بهیر دی اوبېله شکه پدې اړوند اندونه اولیدلوري وېشلي اواخېستنې ستر توپیر لري . خوکله چې ددې زماني پړاو په پېښو ، واکمنیو او لوبغاړو بحث کېږي دمقابل لوري داندونو سره دنه همغږۍ له امله باید دلایل او فاکتونه وړاندې شي ، متقابل درناوی له پامه ونه غورزول شي ،د فتواوو له ورکولو ، هوايي ډزو ، تورونو اوټاپو لګولو ډډه وشي. سپکې سپورې او ښکنځلې خو په سیاسي بحثونو کې ځای نلري او دبحث کونکي ټیټ کلتور ښیي " . دنجیب الله جنجالي شخصیت ته کتنه " ترسر لیک لاندې دلیکنو دلړۍ په اړه دنجیب دهمفکرانو اوهمکارانو دوستانه نه غبرګون دخواشینی وړیو تریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقعیت دی .که دوی غبرګون ښودلای وای او دوستانه بحث ته یې رادانګلي وای ښایي دشوروي اشغال پرمهال د پټو لوبو اومعاملو یوه برخه اونورډېر پټ واقعیتونه اورازونه بربنډشوي وای چې دا د راتلونکو نسلونو لپاره حیاتي اوکټور و اوپدې به پوهېدلي وای چې په هېوادکې یې څه تېرشوي دي ، هېواد یې ځرنګه دپردیو دلوبو، سیالیو اوکشمکشونو په ډګر اوښتی و او دهغو څخه به یې دعبرت درس اخېستی و .لکه ځرنګه چې یوه محترم دوست ته لیکنې دپام وړ ګرزېدلي دي اودکتاب په بڼه یې دچاپولو ژمنه کړې ده لدې امله دنجیب له همفکرانو اوهمکارانو هیله کېږي چې پدې لیکنو خپل تقریظونه ولیکي .که دا دوست دکتاب د چاپولو په چاره کې پاتې راغی لیکوال به دامکان په صورت کې دا لیکنې دیوه کتاب په بڼه چاپ کړي . یوه دپام وړخبره او یا پوښتنه چې ښایي ځېنو لوستونکو ته پیدا شوې وي چې په اوسنیو ترینګلو شرایطو کې ددې لیکنو اړتیا څه وه؟ هغه څه چې لیکوال یې هڅولی دی دې لیکنو ته مخه کړي دنجیب الله دارادتمندانو اوباخبره اوبې خبره پلویانو هغه تبلیغاتي کمپاین و چې دنجیب دوژنې داته ویشتم تلین په پاریې پیل کړ چې دهغه څخه اتل دجوړولو سرببره دخپل اتل د ګوندي سیالانو غندلو ته هم ملاوتړله ګواکې چې هغوی دنجیب په وړاندې جبهه نیولې وه ، دنجیب سره یې خیانت وکړ ، په هغوی یې روا اونارو تورونه ولګول ،په سپکو یې یاد کړل چې دابیا دتاریخ تحریفول دي . دتاریخ دتحریف په وړاندې چوپ پاتې کېدل اودواقعیتونونه ویل بیا دتاریخ او خلکو په وړاندې ستره جفاده .که دواکمن ګوند په دننه کې دنجیب په وړاندې جبهې نیولوته دواقعبینۍ له دریځه وکتل شي دهرچا څخه زیات ملامت په خپله نجیب وچې دګوند اوحکومت دمشرپه توګه یې داوړتیا نلرله ټول سره یو موټی کړي. دارنګه بې خونده تبلیغات اوپه ډېرو مواردو کې بربنډې اپلتې لیکوال ته چې دا ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خ ، د ،ګ په واکمنۍ کې دسیاسي کارکونکي او استاد په توګه پاتې شوی اوتل دقلم ، کتاب ، ورځپاڼې ، سیاست اوټیټ پوړو پوځیانوسره تړاو اواړیکې لرل دمنلو وړنه دي داځکه چې نجیب دنورو ګوندي مشرانو په پرتله د شوروي اشغال پر مهال سترې نه ښنونکې تېروتنې کړې دي او داشغال لاندې واکمنۍ اصلي لوبغاړی و.دا هم هېرنشي چې دشورويانو دخونړي یرغل وروسته ددریو تنولوړپوړو ګوندیانو(محمدیاسین بنیادي ، محمدعلي هوما ، اسدالله سروري) پرته دواکمن ګوند نورو مشرانو داشغال هرکلی وکړ ، داشغالګرو سره داشغال ترپایه ملګرتیا اوهمکاري وکړه هغه تریخ واقعیت چې دپټېدو نه دی ،باید پټ هم نشي اودپټېدو هڅه یې هم ونشي. البته دامینیانو په نامه بندیانو کې د محمودسوما ، عبدالرشید جلیلي اومحمد منصور هاشمي پرته نورومشرانو هم دنجیب په دولت کې مقامونه ترلاسه کړل او یادو دریو تنو په خورا مشکل وتوانېدل داستادانو په توګه ځانته دنده ومومي.دې دریوتنو ته دمقامونو نه ورکونه ښیي چې نجیب هغه داسې کسان نه ګڼل چې دده امراونهيې ته غاړه ابږدي له یاده ونه باسو ، دنجیب د پلویانو سربېره چې نجیب شوروي ضد چارواکی تبلیغوي یوه بله ډله پخواني خلقیان هغه خلقي مشران چې دشوروي خاینانه تېري وروسته بندیان شول داشغال ضدګڼي .ددوی ددې ادعا دناسموالي په اړه اړینه بربښي د لوستونکي پام لاندې کرښوته راوګرزول شي . کله چې د1358 کال دمرغومي دشپژمې په ماښام شوروي کوماندوګانو او دتاجبېک دماڼۍ ساتونکو شوروي پوځیانو چې دمسلمانانو دکنډک په نامه یادېږي ، دتاجبېک په ماڼۍ برید وکړ، ولسمشرحفیظ الله امین اودلوی درستیز په شمول ګڼ شمېر پوځیان اودماڼۍ افغان مېړني ساتونکي ووژل، اشغالګر او افغان ملګري یې په کابل ښار او رادیو ټلویزیون واکمن شول دماخوستن شاوخوا لس نیمو بجودرادیو افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل څخه یوه اعلامیه خپره کړه چې په هغې کې دافغانستان دخلق دموکراتیک ګوند دمرکزي کمېټې ، دافغانستان دموکراتیک جمهوریت دانقلابي شورا اوحکومت له غړو غوښتنه شوې وه سبا سهار رادیوټلویزیون ته تشریف وروړي اودا اعلامیه دمرغومې په اومه سهار وختي هم خپره شوه.دګوند د دارالنشاء دریيس محمدعلي هوما دوینا له مخې" په 104 بلاک کې دمرکزي کمېټې اوانقلابي شورا استوګنوغړو ټاکل شوي ځای ته په داسې خندا او خوشالۍ سره تشریف یووړچې تا فکرکاوه چې بیا له سره په نویو ، لوړو اودبدبه لرونکو پستونو باندې ټاکل کېږي ." ( زما نصیب ، محمدعلي هوما ، مخ 228) اودعبدالقدوس غوربندي په وینا په تالارکې هېڅوک ناسوب نه و یعنې ټول دحفیظ الله امین ددولت چارواکي هلته ورغلي وو. دابیا ښیي چې دګوند مشرتابه د اشغالګرو اعلامیې ته هرکلی ویلی پدې تمه چې دریځونه اومقامونه به یې خوندي پاتې شي. داچې ځېنې زنداني ، نور په واک کې شریک اویا په کورکېنول شول هغه بېله خبره ده . همدې مشرانو د رادیو تلویزیون په تالار کې ببرک کارمل ته د مبارکی پیغام ولیکلو ،ټولو بلااستثنی هغه لاسلیک کړ اوپدې ډول یې کارمل ته بیعت وکړ اوخونړي تېري اوبربنډ اشغال ته یې انترناسیونالستي دنده وویله .په زندان کې خلقي زنداني مشرانو دوهم ځل هم کارمل ته بله بیعت نامه لیکلې ده اوددوو دریوتنو ځوانانو پرته مشرانو هغه لاسلیک کړې ده . د هغه مهال له خلقي مشرانو څخه یوازې په چکوسلواکیا کې سفیر محمدیاسین بنیادي په یوه مرکه کې دشوروي اشغال وغندلو ، حکومت هغه کابل ته احضار اوپه کور کېناوه.بنیادي دچرګانو دکوچني فارم په جوړولو سره خپل غریبانه خو آبرومندانه ژوندکاوه. بل ګوندي لوړپوړي چې داشغال ضد دریځ غوره کړ هغه محمدعلي هوما وچې دتیري یوه اونۍ وروسته یې دا ، خ ، د ، ګ دمرکزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمېټې ددارالنشاء داداري " تاريخي اعلاميه " خپره او دګوند دمرکزي کمېټې ټولو څانګو ، دکابل ګوندي ناحيو او خپل شوروي سلاکار ته واستوله چې شوروي پوځي يرغل او اشغال پکې غندل شوی و .ددې اعلامېې خپرولو هغه اته کاله دپلچرخي زندان ميلمه کړ. پدې هکله په زړه پورې لاداده چې زنداني دګوند دسياسي بيرو غړي عبدالحکيم شرعي جوزجاني )دعدليې وزير، لوی څارنوال ، دکابل دولايتي ګوندي کمېټې منشي ( ددې اعلامېې څخه په خبرېدو په قهر اوغوسې ويلې و " هوما څه حق درلود چې زمونږ په غياب کې داډول خپلسری کاروکړي".
اسدالله سروري چې دنجيب په څېر داشغالګرو همسفر و او داشغال لاندې دولت کې دوهمه څېره ګڼل کېده داشغال په لومړيو کې وپوهېدلو چې تېروتی دی، دخلقيانو دتنظيمولو په موخه يې پټې سازماني هلې ځلې پيل کړلې چې ډېر ژر دنومړي دا نخشه افشاه اومنګولياته دسفيرپه توګه تبعيد شو. دنومړي دموخې په هکله صالح محمدزيری دخپل «دنيمې پېړۍ خاطرې» نومي کتاب په 491 مخ کې دسروري له خولې ليکي : " مووږبايد شورويان په عمل انجام شده کې واقع کړو.شورويان مجبوره کېږي پر موږ تکيه وکړي ." ددې خبرې څخه ښکاري سروري دشوريانو دتګلارې اوموخو خلاف دريځ نيولی و .کله چې سروري غوښتل دشوروي پوځيانو دوتلو وروسته هېوادته راستون شي دهندپوليسو په هوايي ډګرکې دخاديستانو اوښايي حتی دشوروي اړخ سره په همغږۍ کې ترې پاسپورت غلا اوهغه يې توقيف کړ .کله چې تنظيمونه واک ته ورسول شول دهندحکومت سروري افغانستان ته راوليږلو ، احمدشاه مسعود هغه زنداني کړ اوپوره شپږويشت کاله په بندکې پاتې شو. سروري ته داټول کړاوونه « تبعيد اوزندان»دشوروي اشغالګرو خلاف دربېدو ډالۍ کړل .سره لدې چې سروري دنجيب اونورو خلقي اوپرچمي مشرانو په څېر دخپلو سياسي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایدیالوژیکي باورونو له مخې دانټرناسیونالستي مرستې په نامه دشوروي لښکرو راتګ ته هرکلی کړی دی خوکله یې چې ولیدل دافغانستان اصلي خاوندان شوروي سلاکاران دي داشغال خلاف دریځ یې غوره کړ چې داکار یې دستاینې وړ دی .خو دنجیب په شمول دګوند ټولو خلقي اوپرچمي مشرانوداشغال دپیل څخه دګوند دواکمنۍ ترنسکوبډو پورې داشغال زېږنده نظام ببواکه چارواکي پاتې شول .داشغال لاندې دولت کې دا ، خ ،د ،ګ دخلقي اوپرچمي مشرانو دواک دکچې په اړه دنجیب دلنډې مودې صدراعظم محمدحسن شرق په وینا "که شوروي سلاکارانولږ شانتې اداري واک دا ،خ ،د ،ګ ته ورکاوه دپرچم اړخ ته ونه خلقیانو ته" (تاسیس وتخریب اولین جمهوري افغانستان، مخ 404 (همدا لامل وچې پرچمیانو دشوروي داشغال دوام لپاره چې دپرچم دواکمنۍ دوام یې تضمینولو دآزادخیالو افغانانو په ځپلوکې د خاددستګاه له کړنو سره همغږي ښودله اومرسته یې ورسره کوله . پردې بنسټ داشغال لاندې دولت لوړپوړي اوپه تېره د استخباراتي اداري مشران اوولسمشران نه اتلان دي اونه ملي شخصیتونه. دا هم له یاده ونه باسو که څه هم د ا ، خ ، ګ مشرانو داشغال په چوپړ کې ودرېدل خو دګوند د خلقي فرکسیون ګڼ شمېر کدرونو اوزیاتروغړو دخپلو مشرانو خلاف داشغال ضد دریځ درلود . د دې ملي دریځ له کبله تهدیدیدل، له دندو ګوښه کېدل او سلګونوتنو یې دزندانونو دتوروتمبوشاته میاشتې اوکلونه تېر کړل . داشغال ضد خلقي کدرونه د خادبستانودتوطئو اودسیسو له ویرې دملکي ادارو اوپوهنیزو بنسټونو څخه دفاع وزارت اوکورنیو چارو وزارتونوته یعنې دجګړې تودو سنګرونوته چېرې چې خلقیان برلاسي وو مخه کړه او زرګونو یې ژوندهم له لاسه ورکړ . دخلقیانو داشغال ضد روحیه لدې ښه جوتېږي چې داشغال په لومړۍ اونۍ کې دشوروي اتحاد د مسکو، تاشکند، لیننګراد، ادېسه او لووف په ښارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې افغان محصلینو چې زیاته برخه یې خلقیان اویا دځوانانو دخلقي سازمان غړي وو داشغال ضد اعتراضیه مظاهرې پیل کړې اوحکومت اړشو جنرال عبدالقادر او رازمحمدپکتین داشغال مخکې په مسکو کې سفیر دمظاهرو دآرامولو لپاره شوروي اتحاد ته واستوي .په پای کې دنجیب الله پلویانو ته دامشوره ورکول کېږي چې دافغانستان دروانې اوږدمهاله غمیزې په اړه لیکل شوي کتابونه ولولي ترڅو ددې غمیزې د پیلېدواوژورېدو دریښو ،مختلفولاملونو اولوبغاړو اوپدې لاملونو اولوبغاړو کې اصلي لاملونواو ځواکمنو لوبغاړو سره آشنا شي .دافغان غمیزې اصلي لامل چې افغانستان دوخت دزبرځواکونو اودناټو اووارسا دتړونونو اودګاونډیانودڅرګندو سیالیو، زورښودنې او کشممشونو په ډګر واړاوه دشوروي اشغال و چې داشغال یو همسفر اوددې غمیزې داصلي اومرکزي لوبغاړو څخه یو نجیب ستاسې اتل دی. ځوک چې کتابونه نه لولي ړندو ته ورته دي چې په اورېدو باور کوي .ځوک چې کتابونه نه لولي په ډېره آسانۍ سره دتبلیغاتو تراغېزلاندې راځي اودسیاستبازانو اوپردیوجاسوسي شبکو موخه اوښکار کېږي اوبالاخره دسیاستبازانو اوپردیو استخباراتي شبکو دلاس آله ګرزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښاغلي محمد آصف خواتي لنډه پيژندنه:

ښاغلی محمد آصف خواتي په ۱۳۳۳ لمريز کال کې د ميدان وردګو دچک په ولسوالۍ کې زيږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې دکابل دميرويس هوتکي اوثانوي زده کړې يې په حربي ښونځي کې ترسره کړې دي .دحربي پوهنتون د توپچي د پوهنځي څخه دپيلوټۍ د زده کړولپاره شوروي اتحاد ته تللی خو ديوه نيم کال زده کړو وروسته ظاهراً دناروغۍ په نامه له زده کړو محروم اوله سره يې په حربي پوهنتون کې زده کړې پيل کړې . په 1356 کال کې له ح ،پ فارغ اودکندهار په قول اردو کې په خدمت پيل وکړ.د ثور دوسلوال پا څون وروسته يې دکندهار په قول اردو، د اردو په سياسي رياست ، حربي پوهنتون ، ملکي مدافعه او سياسي پوځي پوهنتون کې د سياسي کارکونکي او استاد په توګه د ډګرمنۍ تر نظامي رتبې پورې خدمت کړی دی. د پوځي خدمت پر مهال دوه ځله د سياسي ملحوظاتو له کبله احتياط ته سوق شوی دی .خواتي په شوروي اتحاد کې د ماسترۍ ترکچې په ښوونه اوروزنه کې زده کړې کړې دي اود زده کړو د پای ته رسولو وروسته د نجيب الله دواکمنۍ پر مهال هېواد ته ستون نشواو څه کم لس کاله په مسکو کې پاتې شو . د 1379 کال راهيسې دخپلې کورنۍ سره په اروپا کې ژوندکوي. هغه دپوځي خدمت پرمهال دطلوع افغان ، حقيقت سرباز، اردومجلې اودهېوادبهر افغاني رسنيو اوويب پاڼوسره قلمي همکاري کړې اودځلورو کلونو په ترڅ کې د28 اسد په نامه د ويب پاڼې د چلونکو څخه و.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**